# د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه)

# سیرت

Ketabton.com

لیکوال:

فرید احمد (مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) سیرت
لیکوال: فرید احمد (مبارز)
کمپوزر: خپله لیکوال
بریښنالیک: Faridahmadmobariz81@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

زما محترمو والدینو ته چي زما روزنه او پالنه
یې په پوره مینه کړې ده، علماء کرامو، اُستاذانو او د حنیفي
مذهب د لاري لارویانو ته چي تل یې خپل قلم ددې مذهب د پرمختګ
او ثابت ساتلو دپاره جاري ساتلی دی او ټول اُمت مسلمه ته دي ډالۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

موضوع — مخ


د كتاب پيژندنه........................................ ١
بسم الله الرحمن الرحيم........................................ ٢
ډالۍ........................................ ٣
فهرست........................................ ٤
سريزه........................................ ۶
د امام اعـظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ستاينه........................................ ٨
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پيژندنه........................................ ١٠
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د علم تحصيل تر لاسه كول........................................ ١٣
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) أُستاذان او شيخان........................................ ١۶
امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تابعي دى........................................ ١٨
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په هكله د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) زيرى او پيشگوئي........................................ ١٩
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حج سفرونه او د علم تكميل........................................ ٢١
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د درس د حلقې شاگردان........................................ ٢۴
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د درس د حلقې مقبوليت........................................ ٢۶
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لوړ مقام په احاديثو او روايت كښي........................................ ٢٨
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) احتياط د احاديثو په روایاتو، قبلولو او ردولو كښي........................................ ٣٠
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په هكله د لويو فقهاؤو او مشهورو محدثينو شاهدي........................................ ٣۴
پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو د كموالي په خاطر تهمت ويل........................................ ٣۶
امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د صحابوؤ (رضي الله عنهما) پر لاره تګ كړى دى........................................ ۴٢
امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شريعت جوړونكى دى........................................ ۴٣
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ليكنه د احاديثو په باب كښي........................................ ۴۵
امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حنيفي فقهي جوړول او د فقهي ليكونو پس منظر........................................ ۵٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) د فقهي جوړول د تولو امامانو دپاره نمونه ده..................... ۵۴
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) فقهي ليكونه........................................................ ۵۶
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) علمي لټون، زيركتيا، مباحيث، مناظر او ربنتني ويناوي........ ۵۹
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) احتياط په فتوا وركولو كښي........................................ ۶۲
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) تقوا، زهد او اخلاق.................................................. ۶۸
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) د عقل زياتوالی، ذهني ذكاوت او د فكر تيزوالی................ ۷۰
د حنفي تاريخ ځيني حيرانوونكي ناآشنا علمي او زړغوني واقعې.......................................... ۷۲
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) وصيتونه او نصيحتونه.............................................. ۷۸
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) د ژوند انقلابي او سياسي اړخ...................................... ۸۷
د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) رحلت ددې فاني دنيا څخه........................................ ۱۰۰
ماخذونه........................................................................................ ۱۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

الحمدالله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلوة والسلام على اشرف الانبياء محمد مصطفى (صلى الله عليه وسلم). الهم صلى على محمد وعلى آل محمد كما صليت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انک حميد مجيد. الهم بارک على محمد وعلى آل محمد كما باركت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انک حميد مجيد. اما بعد!

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اهل السنت والجماعت د اسلامي اُمت فقه او اسلامي قانون د يوې قاعدي لاندي راوستلو او مرتب کولو لومړی بنسټ ايښوونکی دی، د مشرق څخه تر مغرب پوري چي کمه د علم رڼا خپره ده، دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د علمي کوښښونو نتيجه ده، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او درو نورو امامانو او د دوی شاګردانو په دغه ډګر کي د قرآن کريم او احاديثو په رڼا کي د اُمت د اجتماعي نظام د پاره د فقهي قانون لاري چاري تنظيم کړي دي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د هغه هر يو شاګرد د اسلام د سرحداتو محافظ او د دښمن دپاره تيره غشی وو، که چيري دغو مخلصو کسانو دا کوښښونه او تکليفونه نه وای ګاللي، نو د اسلامي دستور، فقهي قوانينو، د قانوني اصولو او د کُلياتو په باره کي وسيع او منظمه مجموعه تر موږ پوري به نه وای رارسيدلې.

دا هغه زمانه وه چي اسلام د عربو د جزيري څخه وتلی وو، عراق، شام، مصر، ايران او د نړی نورو ملکونو ته خپور سوی وو، ډير نوي مسائل او معاملات منځته راغلي وه، او ورځ په ورځ ګډوډي په کښي پيدا کيدل په داسي حالاتو کي يو داسي کس يا ډلي ته ضرورت وو، چي په دغو بدليدونکو حالاتو او نوو واقعاتو په رڼا کي راپيدا کيدونکي نوي مسائل د اسلامي اصولو سره موافق او مطابق حل کړي، د داسي کار دپاره اعلی ذهانت، د اسلامي شريعت د ژوري مطالعې، د رسالت د زماني او د صحابو (رضي الله عنهما) د دور علم او عمل ته پوره واقفيت په کار وو، د فقهي او د اسلامي قانون اسلامي جوړښت او د مسائلو استنباط او استخراج د اهل اسلام لومړی ضرورت وو، او دغه کار ته ايله ور کول ممکن نه وه، د الله (جل جلاله) لوی فضل، کرم او احسان وو چي د زماني د حالاتو د بدليدو سره سم ددې لوړ او اهم کار دپاره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د ده (رحمة الله عليه) لايقو شاګردانو ملا وتړله.

دغه مهم کار يې تر سره کړی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د ده (رحمة الله عليه) مخلصو شاګردانو د خپل ذهانت، فراست، خلوص، خدمت د جذبې د کبله ټول صلاحيتونه او ټول ژوند د اسلامي دستور د مکمل اجراء او نفاذ دپاره وقف کړی، او بيله کم امتيازه څخه يې د بحث او تحقيق، اجتهاد او استنباط د نوي اصولو او ضوابطو يوه لويه پانګه منځته راوړه، ښکاره خبره ده چي الله (جل جلاله) د هغه چا څخه د دين کار اخلي، چي دی (جل جلاله) خپله محبت ورسره لري او ددې دپاره يې بيلا بيلي طريقې پيدا کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه طریقه یي دا ده چي کله یو څوک الله (جل جلاله) ته خوښ انسان سي، نو الله (جل جلاله) د دغه کس محبت د خلګو په زړو کي واچوي او وروسته ددې څخه یې خلک پیروي کوي، لکه الله (جل جلاله) چي فرمایي: (اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحاتِ سَیَجعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰانُ وُدًّا). ژباړه: بیشکه! هغه کسان چي ایمان ئی راوړی دی او کړي ئی دي ښه (عملونه) ژر به وګرځوي دوی ته رحمان دوستی محبت (په زړونو د خلګو کښي). (سورت المریم ـ آیت ۹۶)

نو ددې آیت کریمه څخه دا معلومه سوه، چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) هغه جلیل القدره عالم، زاهد او نیک انسان دی، چي د ټول اُمت دپاره یوه نومونه ده، د ده (رحمة الله علیه) تقوا او دیانت ددې لامل سوه، چي شاوخوا دیارلس پیړۍ مسلمانان د ده (رحمة الله علیه) د علمي هڅو او خدمتونو څخه سیراب سوي دي، او همدا د ده (رحمة الله علیه) د دیانت څرګندونه ده، چي دومره لوی جماعت یعني ټولی د ده (رحمة الله علیه) سره مینه لري او په کښي منل سوی دی، دا چي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په پیروانو کي د نړۍ وتلي عالمان هم شامل دي او په اُمت مسلمة کي د هیڅ عالم دومره پیروان او مقبولیت نسته، لکه د ده (رحمة الله علیه) چي دی، دا ددې څرګندونه کوي چي دده (رحمة الله علیه) سره الله (جل جلاله) محبت لري او په خپل رحم یې حق ته وصل کړی هم دی، او څوک چي یې پیروي کوي انشاءالله تعالی هغه به هم حق ته وصل سي، د داسي یو نامتو او وتلي عالم یاد ساتل، پیژندل او د ده (رحمة الله علیه) د مخربینو د تهمتونو مخه نیول په کار ده او دا د اُمت مسلمة کفایي وجیبه ده، الحمدالله د همدې خدمت دپاره ټول مسلمان اُمت هڅي کړي دي، او انشاءالله تعالی په راتلوونکي کي به یې هم وکړي، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د ژوند ربښتیني څهره، حقیقي مقام معرفي کول او د ده (رحمة الله علیه) ستر خدمتونه په ډېر ښه معیار سره په همدې کتاب کي راټول سوي او بیان سوي دي.

درنو لوستونکو! دا چي زما او ستاسي تر منځ ددې کتاب د لوستلو د برکته ملګرتیا پیدا سوه، زه ستاسو ټولو لوستونکو څخه نړۍ نړۍ مننه کوم، چي خپل آرزښتمن وخت مو زما د کتاب ولوستلو ته ورکړی، زه ځان ستاسي ددې ښیګني پوروړی بولم او ستاسي دپاره لاسونه د لوی رب (جل جلاله) و دربار ته لپه کوم، الله (جل جلاله) دي ستاسي ژوند د اندیښنو او غمونو څخه په آمن کي کړي.

**په درنښت**

**فرید احمد (مبارز)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ستاينه

زمونږ امام زمونږ رهبر دی امام اعظم
د هر مسلم د زړګي سر دی امام اعظم

په مذهبونو کي على دی مذهب حنفي
غوره سپيڅلی په ريښتيا دی مذهب حنفي

مدام ځليږي لکه لمر دی امام اعظم
د هر مسلم د زړګي سر دی امام اعظم

غوره سوچه مسلمانان يې کوي احترام
په مينه مينه مؤمنان يې کوي احترام

ډير ورته ګران تر خپل بشر دی امام اعظم
د هر مسلم د زړګي سر دی امام اعظم

د پاک سپيڅلي سپين قرآنه بنياد يې جوړ دی
له احاديثو ده جانانه بنياد يې جوړ دی

دی هر يو قول يې بهتر دی امام اعظم
د هر مسلم د زړګي سر دی امام اعظم

چي په مسير يې څوک روان وي کامياب دی هغه
چي مل د دغه حق کاروان وي کامياب ده هغه

چي مو پر زړو لاري اسان دی امام اعظم
د هر مسلم د زړګي سر دی امام اعظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عــقـدې مــو کــړي روزنه مسلــمـه وروره!

ظــاهــر بــاطــن مــو کړي ساتنه مسلمه وروه!

د (مــبــارز) صــاحــب دلــبـر دی امــام اعـظـم

د هــر مــسلـــم د زړګي ســر دی امــام اعـظـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پيژندنه

حافظ مولانا محمد زکريا کاندهلوي (رحمة الله عليه) په خپل کتاب اوجزالمسالک کي د امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) په هکله خپله وينا داسي پيله وي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په نسب کي د اقوالو پر بناء اختلاف سوی دی، ځوک وايي عربي دی او ځوک وايي عجمي دی، مگر دوهم قول حقيقت ته نژدې دی، هغه ځوک چي دی عربي بولي هغه د ده (رحمة الله عليه) نسب داسي بيانوي: نعمان زوی د زوطي زوی د يحيی زوی د اسد زوی د راشد انصاري دی.

احمد بن مکي وايي: د ده (رحمة الله عليه) په نسب کي مؤرخينو اختلاف کړی دی او ډيرو ويلي دي، چي محققينو هغه صحيح هم بللي دي، هغه دا چي دی مبارک د عجمو څخه دی، زوی د ثابت د زوطي، پرون د موسی، په ضمه سره او يا پروزن د سلمي په فتحه سره، زوی د ماه کابل د اهاليو څخه دی، همدارنگه عمر بن حماد د امام صاحب (رحمة الله عليه) لمسی د ده (رحمة الله عليه) نسب همداسي بيان کړی دی، او اسماعيل بن حماد د عمر ورور داسي ويلي دي: دی زوی د ثابت، زوی د نعمان، زوی د مرزبان دی، مرزبان په فتحه، سکون، د زا ضمه او کله د زا په فتحه سره ويل سوی دی، چي په عربي کي رئيس ورته وايي. د فارس د ساهو يعني د آزادو اولادو څخه دی، په الله دي زما قسم وي چي هيڅکله پر موږ مرييتوب نه دی راغلی، او دلته د نومانو په هکله دوه قوله سره يو ځای سوي دي، په داسي ډول چي زوطي جاهلي نوم دی او نعمان اسلامي نوم دی، او همدا ډول ماه او مرزبان سره يو ځای سوي دي، چي دواړه د رئيس او شريف معنی دي.

په جواهرالمضيئة کي د امام صاحب (رحمة الله عليه) د نسب په هکله زيات تفصيل راغلی دی، او د ده نسب يې تر آدم (عليه السلام) پوري رسولی دی، د لازياتو معلوماتو دپاره دغه کتاب ته مراجعه وکړي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پلار ثابت نوميدی او په کوفه کي پيدا سوی دی، او هغه خپل پلار په کوچنيوالي کي حضرت علی (کرم الله وجهه) وروستلی وو، هغه مبارک و ده (رحمة الله عليه) ته او د ده (رحمة الله عليه) اولادې ته د برکت دعا کړې وه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د هجرت په اتيايم (۸۰) کال د عبدالمالک بن مروان د خلافت په زمانه کي د کوفي په ښار کي دنيا ته راغلی دی، يعني پيدايښت يې سوی دی، مگر ځينو نورو بيا د ده (رحمة الله عليه) پيدايښت وخت د هجرت يوشپيتم (۶۱) کال ښوولی دی.

لکه په (الخيرات) کي چي راغلي دي: پر دې اتفاق وسو چي د ده (رحمة الله عليه) نوم به نعمان وي، او په دې کي يو لطيف سته، هغه دا چي په اصل کي نعمان وهغه وينې ته وايي، چي د بدن ځواک او قوام په سره وي، يعني دا چي ځيني وايي: نعمان د روح په معنی سره دی، بناءً په امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره قوام د فقهي دی، او يا نعمان د ريدي سور خوشبويه گل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا دا چي نعمان پروزن فعلاً د نعمت څخه اخیستل سوی دی، بناءً امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د الله (جل جلاله) نعمت دی پر مخلوق باندي، او مورخینو په اتفاق سره د ده (رحمة الله علیه) کنیة یعني لقب ابوحنیفه د حنیف مؤنث ښوولی دی، حنیف ناسک، زاهد او مسلم ته ویل کیږي، ځکه خو د ده (رحمة الله علیه) په تکنیة یعني لقب کي وجوهات راغلي دي، یوه وجه یې دا ده: دی په سپین حنفي ملت کي د شرعي فروعاتو سر بلل سوی دی. مګر ځینو بیا داسي ویلي دي: سبب د ده (رحمة الله علیه) د تکنیې یعني لقب دا دی: د ده (رحمة الله علیه) سرو کار د قلم او مشوانۍ سره وو، په عراقي ژبه کي (حنیفة) مشوانۍ ته وایي. مګر ځینو نورو بیا داسي ویلي دي: ده (رحمة الله علیه) د حنیفة په نامه سره یو لور درلوده، دا خبره ځکه نه ده منل سوې، چي د حماد څخه ماسیوا د بل نرینه یا ښځینه اولاد د درلودلو معلومات نسته.

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) پلرنۍ اصلي ټاټوبي: دا چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) اصلاً د کم ځای څخه وو؟ تاریخ په خپل وخت او زمان سره د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د اصلي وطن په هکله مختلف نظرونه وړاندي کړي دي، مګر هغه صحیح نظر دا دی: امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) اصلاً د افغانستان او افغانی وو، او پلرنۍ اصلي ټاټوبي یې د افغانستان پروان ولایت وو، او د ده (رحمة الله علیه) نیکه د پروان ولایت په خواجه سیاران نومي کلي کي پیدا سوی وو، دا چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) افغان الاصله د پروان ولایت وو، دلیل یې دا دی: د افغانستان وزارت معارف د پروان په نامه لیسه د نعمان په نامه لیسه ونوموله، او د کابل د ابوحنیفه مدرسه چي اول د المدرسة الشرعیة په نامه سره مشهوره وه، د وزارت معارف د خوا د ابوحنیفه مدرسه په نامه سره ونومول.

د عنایت الله ابلاغ په نظر: دا چي د پروان لیسه د نعمان په نامه نومول سوې ده، په دې کي د افغانستان د وزارت معارف د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) اصلي پلرنۍ ټاټوبی په نظر کي نیول وه، او د کابل د المدرسة الشرعیة د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د مدرسي په نامه سره نومول په دې کي د افغانستان د وزارت معارف د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) علمي منهج او د فقهي رایت په نظر کي نیول وه، نو دا چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په اصل کي افغان الاصله وو، او د ده (رحمة الله علیه) د نیکه اصلي ټاټوبی افغانستان وو.

خطیب بغدادي په دې اړه داسي ویلي دي: اخبرنا الحسن بن محمد الخلال اخبرنا على بن عمرو الحريري انا اب القاسم على بن محمد بن كاس النخعي اخبرهم قال: حدثنا محمد بن على ين عفان حدثنا محمد بن إسحاق البكائي عن عمر بن حماد بن ابي حنيفه قال ابوحنيفه النعمان بن ثابت بن زوطي فانه من اهل كابل.

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څهره: امام ابو یوسف (رحمة الله علیه) ویلي دي: میانه قده وو، او په صورت کي د ښایسته خلګو څخه وو، رسا کلام یې درلودی، کامل او پوره بیان یې کوی، خوږه لهجه یې وه، واضح او روښانه حجت او استدلال یې کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده (رحمة الله عليه) زوی حماد ويلي دي: په قامت جګ وو، په څهره کي يې سرخي غالبه وه، ښايسته مخ يې وو، ستاره ناکه وو، چي پوښتنه به ورڅخه ونه سوه، خبري به يې نه کولې او په عبث او بې فائدي شيانو کي يې فکر نه کوی. دلته د جګ او ميانه قد په منځ کي تناقض نسته هغه په دې لحاظ چي کله کله ميانه قد وجګوالي ته نږدې وي، لکه څنګه چي د (شمائل الترمذي) شارحينو زيات تفصيل او تشريح ورکړې ده.

عبدالله ابن مبارک (رحمة الله عليه) ويلي دي: ښايسته څهره يې وه، او ښايسته جامي به يې اغوستلې، او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ښايسته شکل او صورت وو، زيات عطر يې استعمالول، او مخکيددې څخه چي وليدل سي پر خوشبويي پيژندل کيدی، هميشه به يې د چمپل بندونه تړل او هيڅکله داسي نه دی ليدل سوی چي د چمپل بندونه دي يې پرې وي، توره اوږده رخچينه يې پر سر کول، د ده (رحمة الله عليه) دپاره د سمور د چوخي لباس وو، يو د سنجابي ګيدړي پوست يې درولودی چي پر هغه به يې لمونځ کوی، تل به پټو ورسره وو، او اووه رخچيني يې درلودې، چي په هغو کي يوه توره وه.

شريک (رحمة الله عليه) ويلي دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اوږده سکوت لرونکي خاوند وو، عقل يې ډير وو، د خلګو سره يې مباحثه او خبري لږ کولې. ضميرة (رحمة الله عليه) ويلي دي: ټولو خلګو بې اختلافه دا منلي وه، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سمه او سيده ژبه درلوده، هيڅوک يې په بدو نه يادول. بکير بن معروف (رحمة الله عليه) ويلي دي: ما هيڅکله د محمد ( صلى الله عليه وسلم) په اُمت کي تر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خوش اخلاقه سړی نه دی ليدلی.

سوطي (رحمة الله عليه) د جعفر بن ربيع (رحمة الله عليه) څخه حکايات کوي، او وايي: ما د هغه سره پنځه کاله اقامت يعني هستوګنه وکړه، مګر کله چي به د فقهي په هکله پوښتنه ورڅخه وسوه، نو به سره راوپړسيدی او د شېلې په شان په راوبهيدی، ما د ده (رحمة الله عليه) لوړ آواز او په زوره خبري اوريدلي دي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د يوازي والي انزوا او د خلګو څخه د انطقاع اراده کړې وه، مګر د حضرت محمد محمد ( صلى الله عليه وسلم) د پلوه په خوب کي دی د دغه کار څخه منع کړل سوو، او د اسلامي شريعت په تبليغ سره آمر ورته وسوو، په همدې خاطر د ده (رحمة الله عليه) خوب ډير مشهور دی.

موفق د نضر بن محمد څخه حکايات کوي، چي هغه وايي: ما د ده (رحمة الله عليه) څخه ټينګ پرهيزګاره بل څوک نه دی ليدلی، او هيڅکله يې مسخرې ښه نه ګڼلې، او نه يې په هغه سره خبري کولې، او هيڅکله ما دی نه دی ليدلی چي ده (رحمة الله عليه) دي په کټ، ګټ سره خندلي وي هميشه به يې تبسم کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د علم تحصيل ترلاسه کول

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لومړی درسګاه يعني د زده کړي ځای کوفه ده، چي سرپرست يې حضرت علی (کرم الله وجه) او صدر مدرس يې حضرت عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنه) وو، مګر دا حقيقت د هيچا څخه پټ نه دی، چي د کوفې اوسيدونکی د حضرت علی (کرم الله وجه) د خلافت څخه ډير مخکي هم د احاديثو د علم سره آشنايي درلوده، د کوفې خلګو د حضرت عمر فاروق (رضی الله عنه) په زمانه کي د حضرت سعد بن ابي وقاص (رضی الله عنه)، حضرت عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنهما)، حضرت عمار (رضی الله عنه) او ابو موسی اشعري (رضی الله عنه) څخه د ديني علم او د احاديثو زده کړه کړې وه، د کوفې خلګو چي کم علمونه زده کړي وه، د هغو تفصيل د منهاج النسه د صاحب څخه واوری، چي وايي: د کوفې خلګو کم وخت چي د حضرت علی (کرم الله وجه) دارالخلافه وه، حضرت عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنه) او داسي نورو څخه د ايمان، قرآن کريم تفسير، فقه او د سنتو علم يې چي د حضرت علی (کرم الله وجه) کوفې ته تر راتګ څخه مخکي حاصل کړي وه.

د کوفې د لوړ علمي مقام په هکله ځينو امامانو داسي ويلي دي: د مسلم شريف شرحه ليکوونکي شيخ السلام امام نووي ليکي: کوفه د فضليت کور او د فاضلانو محل دی. سفيان بن عيينه فرمايي: د حلالو او حرامو مسئلې د کوفې د خلګو څخه زده کړې. علامه ابن سعد ليکي: د بدر د غازيانو څخه اويا (۷۰) تنه صحابه (رضي الله عنهما) او په بيعت رضوان کي د شريکو صحابوو (رضي الله عنهما) څخه درې سوه (۳۰۰) کسان کوفې ته راغلي وه. حضرت قتادة (رضي الله عنه) څخه روايت دی: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د صحابوو (رضي الله عنهما) څخه يو زر پينځه سوه (۱۵۰۰) کسان او د بدر څخه څلورويشت کسان اصحابه (رضي الله عنهما) کوفې ته تللي وه.

کوفه د حديثو د علم ډير لوی مرکز وو، محمد ابن سيرين (رحمة الله عليه) فرمايي: زه چي کله کوفې ته ورسيدم نو هلته د احاديثو د علم څلور زره (۴۰۰۰) طالبان وه. د احاديثو اميرالمؤمنين حضرت امام بخاري (رحمة الله عليه) د احاديثو د راټولو په لړ کي کوفې او بغداد ته څو څو ځلي تللی او راغلی دی، خپله دی فرمايي: نه سم شميرلای چي زه کوفې او بغداد ته څو ځلي د محدثينو سره تللی يم، يعني بي شميره ځلي تللی يم.

لنډه دا چي د کوفې په ښار کي د علم رڼاوي خپريدې، تر دې چي د علم تاج يې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پر سر کښيښوی، په شروع کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د فنونو د زده کړي، سره سره د علم الکلام سره هم ډيره مينه پيدا سوې وه، سبب يې دا بيان کړی دی: په علم الکلام کي د دين پر اصولو بحث کيږي، نو ځکه دا علم پر ټولو علمونو لوړ دی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يوازي دا نه چي علم الکلام صرف مکمل حاصل کړی دی، بلکي په دې کي يې د امامت درجي ته رسيدل هم په نصيب سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تاریخ بغداد کردري کې لیکلي دي: په علم کلام کې امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) هغه مقام ته ورسیدی چې ګوته په ده ته نیول کیده. امام شعبي (رحمة الله علیه) ته معلومه وه، چې امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په علم الکلام کې څونده تکړه دی، د هغه علمي مقام، زیرکتیا او هوښیاري څخه ښه واقف وو، نو ځکه یې الشرائع خپله تړوله توجه ورته ورګرځوله.

صدرالائمه د یحیی بن بکیر په حواله د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د خولې بیان کړی دی لیکي: زه یو ورځ بازار ته تلم چې د امام شعبي (رحمة الله علیه) په خوا کې تیر سوم امام شعبي (رحمة الله علیه) ځان ته راوبللم، او پوښتنه یې را څخه وکړه چې چیري ځې؟ ما ورته وویل: بازار ته ځم، بیا یې راته وویل: مطلب مې دا دی چې علمي مشغلتیا دې څه شي ده؟ ما ورته وویل: د عالمانو سره مې ناسته او ولاړه ډیره کمه ده، ده (رحمة الله علیه) راته وویل: په دې لړ کې بې پرواهي ونه کړې، د عالمانو په مجلس کې ناسته پر ځان لازمي کړه او مطالعه کوه، ما ته په تا کې د هوښیارتیا او بیداری نښې صفا معلومیږي، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وایي: د امام شعبي (رحمة الله علیه) دا خبره مې زړه ته ولویدل، بازار ته تګ مې پرینښوی او بس علم ته مې ملا وتړله، د قرآن کریم د زده کولو څخه وروسته امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د خپلې زمانې د نصاب ټول فنون زده کړل، لکه: علم آدب، علم الشعروالقافیه، علم القرائت، علم کلام او داسي نور...

ددې تفصیل د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د خپلې خولې څخه واوری، په علم کښې ماته ډیر مهارت حاصل وو، د خلګو سره مناظرې کول او ددې فن پوره مرسته کول زما مشغلتیا وه، بصره د مختلیفو فرقو مرکزي ځای ګڼلای سو، زه خپله بصرې ته شل واره تللی یم، یو به هلته ډیر پاته کیدم، یو وار مې د خارجي فرقې سره هم مقابله راغلي وه، تر ډیري مودې زما دا خیال وو چې علم کلام په ټولو علومو کې غوره دی، ځکه چې دا د دین د بنیادي خبرو حفاظت کولای سي، مګر چې یو څه وخت تیر سوو، زه پوه سوم چې لوی لوی صحابه کرام (رضي الله عنهما) سره د ډیر علمیت او قابلیت ددې ټولو خبرو څخه ښه خبره وه، مګر بیا هم هغوی د پروجمبو او د مقابلو د شورشغب څخه ځانونه ځیني ژغورلي دي، او نور ته یې هم ددې خبرو څخه د ځان ساتلو وینا کړې ده، د هغوی ټوله توجه شرعي علومو او د فقهي بابونو خواته وه، خپل ژوند او مجالس یې په دغه خبرو ښایسته کړي وه، د صحابوؤ کرامو څخه وروسته تابعینو هم دغه لاره تعقیب کړې وه، دغه فکر زه د علم کلام څخه بیرته راوګرځولم.

په هر حال په ۹۴ هجري سنه کې امام شعبي (رحمة الله علیه) امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته د عقلي علومو پر ځای د شرعي علومو د زده کړې او د علمي مطالعې او د علماؤو په ډله کې د ناستي او ولاړې مشوره ورکړه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ۱۰۴هجري سنه کې د څلورویښت کالو په عمر کې د اُستاد حماد (رحمة الله علیه) په خدمت کې حاضر سو، او پوره اتلس ۱۸ کاله د هغه په ملګرتیا، خدمت او مجلس کې پاته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۲۰هجري سنه کي د یو عظیم او باکمال مجتهد په حیث دنیا ته را څرګند سوو، د ۹۵ هجري سنې څخه تر ۱۰۴هجري سنې پوري دا دومره ډیره موده یې د حدیثو د علم په زده کولو کي تیره کړه، په ۹۶هجري سنه کي یې په لومړي ځل حج وکړی، او په همدغه کال یې د لوړي مرتبې یو صحابي عبدالله بن الحارث (رضي الله عنه) سره یې لیدل کتل وسول، او په دغه موقع سره امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه)دا حدیث مبارک یې ځیني واورې دی، حدیث شریف: (من تفقه في الدین کفاه الله همه ورزقه من حیث لا یحتسب). ژباړه: چا چي د الله (جل جلاله)په دین کي پوهه یعني فقاهت پیدا کړه، نو په درد او غم کي الله (جل جلاله)ورته کافي دی، او هغه ته به د داسي خوا څخه روزي ور ورسوي، چي د هغه به هیڅ په ګمان کي هم نه راځي.

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د طالب علمي د زمانې ویش په لاندي جدول کي

| شماره | علمي درسونه | کلونه | موده | عمر یې |
|---|---|---|---|---|
| 1 | حفظ القرآن او عاصم په قرآئت | ۸۶ څخه تر ۸۸ هجري سنې پوري | ۲ کاله | ۸ کلن |
| 2 | نحوه او آدب | ۸۸ څخه تر ۸۹ هجري سنې پوري | ۳ کاله | ۱۰ کلن |
| 3 | علم الکلام | ۹۰ څخه تر۹۳ هجري سنې پوري | ۵ کاله | ۱۴ کلن |
| 4 | مناظره | ۹۵ څخه تر۹۸ هجري سنې پوري | ۴ کاله | ۱۸ کلن |
| 5 | علم الحدیث | ۹۹ څخه تر ۱۰۳ هجري سنې پوري | ۵ کاله | ۲۳ کلن |
| 6 | علم الشرائع | ۱۰۴ څخه تر ۱۲۵ هجري سنې پوري | ۱۷ کاله | ۴۰ کلن |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اُستاذان او شيخان

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اُستاذانو شمير د نورو امامانو تر اُستاذانو زيات دی، د ده (رحمة الله عليه) په اُستاذانو کي تر ټولو لومړی نوم د حماد (رحمة الله عليه) راځي، حماد (رحمة الله عليه) د کوفي د ښار يو مشهور امام او د وخت اُستاذ ګڼل کيدی، او همدارنګه د حضرت انس (رضي الله عنه) او د لويو لويو تابعينو څخه يې د علم استفاده کړي ده.

د حضرت عبدالله ابن مسعود (رضي الله عنه) د فقهي دائره او مرکز هم امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وو، د حماد (رحمة الله عليه) په خدمت کي يې پوره اتلس (۱۸) کاله تير کړل، د هغه د صحبت، فقهي تربيت او د عمر د پخوالي د کبله د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ذهن ته دا خبره ننوتې وه، چي د فقهي اجتهادي تحقيق څخه ماسيوا د احاديثو زده کړي ته په کوښښ سره سينه ښکاره کړه، او تقريباً په کوفه کي چي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) کوفي ته د ايمان خزانه، د عربو د سر تاج، د اسلام او عربو نخښه بلله، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه په کښي کي داسي محدث نه دی پاته سوی، چي د هغه شاګردي دي يې نه وي په نصيب سوې.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اُستاذانو او شيخانو څرګندونه خو ګران کار دی البته په صحابه کرامو کي د حضرت انس بن مالک (رضي الله عنه)، عبدالله بن اوفي (رضي الله عنه) او د احاديثو د نورو شيخانو څخه چي يو کم ديرش وه استفاده کړې ده، چي ډير په کښي تابعين او خاص د کوفي اوسيدونکي وه، او د کوفې په شيخانو کي خصوصاً امام شعبي، مسلمه بن کهيل، ابو اسحاق سبعي، عون بن عبدالله، سماک بن حرب، عمرو بن مره، منصور بن المعمراعمش، ابراهيم بن محمد، عدي بن ثابت الانصاري، عطاء بن سائب، موسى ابن ابى عائشه، علقمه بن مرشد چي دوی يو ډير لوی محديثين او د روايتونو د پاخه سندونو غړي وه ډير مشهوره دي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو د حاصلولو بله لويه درسګاه بصره وه، چي دا د حسن بصري (رحمة الله عليه) شعبة او د قتاده (رحمة الله عليه) د تعليماتو څخه پوره وه، ددې څخه علاوه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو د پوره والي په موده کي د مذهبي علمونو اصل مرکز حرمين شريفين ته هم سفر کړی وو، په مکه معظمه کي د عطاء بن ابي رباح او د ابن عباس (رضي الله عنه) د غلام او شاګرد عکرمه د درس حلقه چي تر ټولو زياته قوي او خپره وه. علامه ذهبي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اُستاذانو شمير دوه سوه نوي (۲۹۰) ښوولی دی، او علامه شامي (رحمة الله عليه) په درالمختار کي څلور زره (۴۰۰۰) ښوولی دی.

صدرالائمه مکي (رحمة الله عليه) ليکي: يو ځوان د امام ابو حفص صغير (رحمة الله عليه) په زمانه کي د احنافو او شوافع منځ کي ګډ سوو، چي په امام شافعي (رحمة الله عليه) او امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کي افضل څوک دی؟ امام ابوحفص صغير (رحمة الله عليه) وفرمايل: د دواړو اُستاذان حساب کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د امام شافعي (رحمة الله عليه) اُستاذان حساب سول، پوره اتيا (۸۰) کسه وه، او بيا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اُستاذان حساب سول، چي پوره څلور زره (۴۰۰۰) کسه راووتل، امام ابوحفص (رحمة الله عليه) وفرمايل: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فضليت پوره شاهدي ده. د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شيخانو، اُستاذانو، بزرگانو او د محديثينو ډير اوږد فهرست او تفصيل دی چي ما يې يو څه بيان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) تابعي دى

علامه خوارزمي (رحمة الله عليه) فرمايي: علماء په دې خبره متفق دي چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د صحابوو (رضي الله عنهما) څخه روايات نقل کړی دی، خو د هغو په شمير کي اختلاف دی. عبدالله بن مبارک په يو شعر کي وايي:

کـفی نـعمان فـخـراً مـا رواه　　　　مـن الاخـبـار عـن غـرر اصـحـابـه

ژباړه: د نعمان فخر ته دا خبره بس ده　　　　چي د لويو لويو صحابوؤ څخه رويت کړي

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپلي زماني هر صحابي (رضي الله عنه) او تابعي (رحمة الله عليه) ته يې ځان رسولی دی، ليدل کتل يې ور سره کړي دي، د صحابؤو (رضي الله عنهما) څخه رويت نقل کول کمه کوچنی خبره نه ده، مګر د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تابعيت يقيني دی، د نخبة الفکر د صاحب وينا ده: تابعي هغه دی د چا چي د صحابي (رضي الله عنه) سره ملاقات سوی وي. حافظ ابن حجر مکي (رحمة الله عليه) د تابعي دغه تعريف د اکثرو محديثنو د مسلک مطابق ګرځولی دی، او شيخ ابوالحسن (رحمة الله عليه) هم د امام ابن حجر مکي (رحمة الله عليه) د قول تصديق کوي.

شيخ ابوالحسن (رحمة الله عليه) فرمايي: دغه تعريف معتبر دی، ځکه چي نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) په يوه ارشاد کي داسي فرمايي: بختور دي هغه خلګ چي زه يې وليدم او ايمان يې راباندي راوړی، هغه خلګ هم بختور دي چا چي د ايمان سره هغه خلګ وليدل چا چي زه ليدلي يم. زه دا وايم چي ددې حديث د مخي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د تابعينو په اوله ټولګی کي راځي، او وروسته فرمايي: کم خلګ چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تابعي نه مني، هغوی کينه کوونکي او ناپوهه دي.

حافظ ابن حجر عسقلاني (رحمة الله عليه) ليکي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د صحابوؤ (رضي الله عنهما) د يوې ډلي سره ملاقات کړی وو، هغه وخت په کوفه کي عبدالله بن اوفي موجود وو، ځکه چي په اتفاق سره د هغه د وفات کال (۸۰) هجري سنه څخه وروسته دی، او په بصره کي هغه وخت حضرت انس (رضي الله عنه) موجود وو، او د هغه وفات په (۹۰) هجري سنه کي يا ددې څخه هم وروسته سوی دی، نو ځکه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په تابعينو کي راتلل معتبر دي. علامه ابن حجر مکي (رحمة الله عليه) خو په شرح مشکوة کي تر دې پوري ليکلي دي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اتو (۸) صحابوؤ (رضي الله عنهما) سره ملاقات سوی دی. د حافظ المزي صاحب بيان داسي دی، چي فرمايي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ملاقات د دوو اويا (۷۲) صحابو (رضي الله عنهما) سره سوی دی. لنډه دا چي د فن ټولو امامانو لکه: خطيب بغدادي، ابن جوزي، مزي، يافعي، عراتي، ذهبي، ابن حجر او علامه سيوطي او داسي نورو... په اتفاق سره ويلي دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تابعي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په هکله د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) زيری او پيشګوئي

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته چي الله (جل جلاله) کم علمي ښووالی، اجتهادي صفتونه، د حديثو حفظ، د قرآن کريم زده کړه، ژور نظر او تيز فکر او د طبيعي خويونو او خصلتونو د کبله د سياسي، اقتصادي او په معاشرتي معاملاتو کي چي کمي تجربې او د کره والي لوی دولت وربخښلی دی، دا په حقيقت کي د نبي اخر زمان الصادق المصدوق (صلى الله عليه وسلم) د زيري او پيشګوئي رېښتياوالی ښوول دي و د نيا ته، ګويا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وجود، علمي پوهه، ديني خدمتونه او اجتهادي فکرونه هم د نبوت د صداقت او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د پيشګوئي قوي دليل جوړيدل وه.

په صحيحينو او جامع ترمذي کي د حضرت ابوهريره (رضي الله عنه) څخه د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دا ارشاد رانقل سوی دی: د حضرت ابوهريرة (رضي الله عنه) څخه روايت دي: موږ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په خدمت کي حاضر وو، چي په دغه وخت کي سورت الجمعه نازل سوو، کم وخت چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دا آيت ولوستی (و اخرين منهم لما يلحقوا بهم) نو په حاضرينو کي يو کس عرض وکړ: يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دا وروستني خلګ کم خلګ دي، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) جواب ور نه کړی، پوښتنه کوونکي په دوهم او دريم ځل بيا عرض وکړی، نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د سلمان فارسي پر اوږه لاس کښيښود او ويې فرمايل: که چيري ايمان آسماني برجونو ته وخيږي نو داسي حاصل کړی به وي کسانوددې خلګو څخه. (صحيح المسلم)

په مسند احمد کي په بل سند سره دا الفاظ رانقل سوي دي: که چيري علم ثريا برج ته وخيږي نو د فارس خلګ به يې حاصل کړي. حافظ ابن حجر مکي (رحمة الله عليه) په خيرات الحسان کي د جلال الدين سيوطي (رحمة الله عليه) د بعضي شاګردانو څخه نقل کړی دی، چي زموږ اُستاذ علامه سيوطي (رحمة الله عليه) يقين يې کړی دی چي ددې حديث څخه مراد امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دی، او دا خبره پټه نه ده چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په زمانه کي د فارس په خلګو کي داسي يو تن نه وو، چي هغه دي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) علمي مقام او فقهي قدر او قيمت ته دي رسيدلی وي، دا خو لا پرېږده چي د هغه د شاګردانو مقام ته لا هم څوک نه دی رسيدلی.

همدا وجه ده چي زياتو فني امامانو، اُستاذانو او د حديث شارحينو د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د دغه پيشګوئي قوي او صحيح مصداق چي دغه پيشګوئي پرې صادقيږي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ګرځولی دی. په تبيض الصحيفه کي جلال الدين سيوطي (رحمة الله عليه) ليکي: د زيري په باره کي هم دا روايت اصل، صحيح او د اعتماد قابل دی. په سراج المنير کي د علم د اهل کارانو او د امامانو څخه دا روايت رانقل سوی دی: بعضي محقيقنو دا روايت په امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) حمل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاولي الله محدث دهلوي (رحمة الله عليه) پر دې حديث تشريح ورکړې ده په خپل ليک کي فرمايي: يو ورځ موږ پر دې حديث خبري اتري کولې نو ما وويل: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دې حکم کي داخل دی، او وجه يې دا ده چي الله (جل جلاله) د فقهي د علم خپرول د ابتداء څخه د ده مبارک په لاسونو کړې ده، او د اسلام اهل کارانو ته يې په دې سره د اصلاح تاج ورپر سر کړی دی، خصوصاً بيا په دې اخري دور کي هم دغه ذخيره د مذهب په طور استعماليږي.

لوی محدث علامه عبدالعزيز بن ميمون (رحمة الله عليه) فرمايي: څوک چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره مينه لري، هغه سُني دی او څوک چي بغض ورسره کوي، نو هغه بدعتي دی.

علامه ابن ميمون (رحمة الله عليه) ټول اُمت مسلمه ته خبرداری ورکوي، چي زموږ او د خلګو په منځ کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دی څوک چي د ده (رحمة الله عليه) سره مينه او محبت کوي، نو موږ په يقين سره دا ويلای سو چي دا سړی سُني دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حج سفرونه او د علم تکميل

د اسلام په ابتدايه دوو او درو پيړيو کي حج د علم د حصول لويه ذريعه وه، د دنيا د ګوټ ګوټ څخه به د علم او فضل باکمال شخصيتونه د حرمينو شريفينو زيارت ته را جمع کيدل، او بيا به دلته د قرآن کريم او احاديثو، د فقهي او اجهتادي او نور علمي مسائل بيانيدل او مذاکرې به کيدلې، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي لا د شپاړسو (۱۶) کالو هلک يا هم تنکی ځوان وو، په اول ځل د خپل پلار سره په (۹۶) هجري سنه کي د حج زيارت ته ولاړی، ددې سفر په دوران کي يې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د يوه صحابي عبدالله بن الحارث (رضي الله عنه) سره هم ملاقات وسو او د هغه د مبارکي خولې څخه يې دا ارشاد واوريدی، ارشاد مبارک: چا چي د الله (جل جلاله) په دين کي پوهه حاصله کړه، نو هغه ته په غم او فکر کي الله (جل جلاله) کافي وي، هغه ته به د داسي ځايه رزق ورکړي چي د هغه په ګمان کي به هم نه راځي.

ددې څخه وروسته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خپل ژوند کي څلور پنځوس (۵۴) حجونه کړي دي، ددې څلور پنځوسو سفرونو په دوران کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د باکماله علمي شخصيتونو څخه خپله استفاده کړې ده، او نور ته يې هم علمي فيض رسولی دی، او په دې ډول سره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) علمي او فقهي عظمت او محدثانه حيثيت تر ډيرو ليرو ليرو ځايونو پوري د ده (رحمة الله عليه) د پيژندګلوي سبب وګرځيدی.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره په مکه معظمه کي د ملاقات تمنا حافظ ذهبي د امام ليث بن سعد (رحمة الله عليه) د ملاقات په باره کي ليکي: امام ليث بن سعد (رحمة الله عليه) وايي: ما د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شهرت خبري اوريدلي وې، او د ملاقات يې ډير خواهيشمند وم يو وخت په مکه معظمه کي ګورم چي د يو سړي د خولې څخه مي دومره قدر واوريدل چي ای ابوحنيفه ! ما په زړه کي وويل: چي ځه مراد دي قبول سوو، هم دغه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دی.

د امام ليث (رحمة الله عليه) او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا اولني اتفاقي ملاقات وو، ددې څخه وروسته يو ځل امام ليث (رحمة الله عليه) د سفر توښه برابره کړه او په دې ارادي سره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ملاقات دپاره روان سوو، ددې ملاقات تفصيل د خپلي زماني فقيه عبدالرحمن بن القاسم (رحمة الله عليه) څخه واوری چي وايي: ما خپله د ليث بن سعد (رحمة الله عليه) څخه اوريدلي دي يو ځل خبر سوم چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حج په سفر روان دی، ما صرف د ده (رحمة الله عليه) سره د ملاقات په غرض د حج د سفر نيت وکړ، چي ولاړم نو په مکه معظمه کي مي ملاقات ورسره وسو، او په ډيرو مسائلو کي مي خبري ورسره وسوې، او ډيري مختلفي مسئلې مي ځيني وپوښتلې، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه د استفاده کوونکو حال د امام ليث بن سعد (رحمة الله عليه) څخه د هغه په ژبه واوری...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه فرمايي: ما د امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) تماشه کړې ده، خلک به لکه پتنګان باندي راغورځېدل، ددې څخه دا معلومه سوه چي د حج په موقع کي به د حاضرينو د کبله په خلګو کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) فقهي بصيرت او مهارت څرګند سوی وو، که داسي نه وي نو د يو نامعلومه شخص څخه به څرنګه ګڼ شمير خلک د مسائلو د پوښتلو دپاره چاپيره وه، دباندي خو لا پريږده په خلوت کي به يې هم په آرامه ناستي ته يې نه پريښووی.

امام ابو عاصم (رحمة الله عليه) وايي: موږ د امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) سره په مکه شريفه کي اوسيدو، د فقهي او احاديثو دومره ګڼ شمير پتنګان را جمع سوي وه، چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) نفس ورته تنګ سوو، او ويې فرمايل: آيا داسي څوک نسته چي د کور مالک ته ووايي چي دا خلک يو طرف ته کړي؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د علم غر وو، امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) د حديثو په علم کي پر نورو امامانو لوړ او د فقهي په علم کي تر نورو امامانو مخته وو، سبب يې دا وو چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د صحابه کرامو شاګردي اختيار کړې وه، او ددې خبري څرګندونه امام صاحب (رحمة الله عليه) خپله څو واره کړې ده.

لکه په تاريخ بغداد کي د عباسي حکومت سر براه او جعفر منصور د وانيقې په دربار کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خولي څخه وتلي څرګنده خبري نقل کړي دي، ربيع بن يونس دا واقعه داسي بيانوي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د امير المؤمنين ابوجعفر منصور دربار ته ننوتی، په دربار کي عيسی بن موسی مخکي لا موجود وو، عيسی امير المؤمنين ته وويل: يا اميرالمؤمنين! نن د ټولي دنيا عالم دغه دی، ابو جعفر منصور د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه پوښتنه وکړه: ای نعمانه! تا د چا سره سبق ويلی دی؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: اميرالمؤمنينه! ما د حضرت عمر فاروق، حضرت علی، عبدالله بن مسعود او د عبدالله بن عباس (رضي الله عنهما) څخه علم حاصل کړی دی، ابو جعفر منصور ورته وويل: ته خو د علم پر يو مظبوط غر ولاړ يې.

عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) د علم مغز بللی دی، همدارنګه شيخ السلام ابن تميمة (رحمة الله عليه) هم د لوړي طبقې د محديثو علماؤو په جمله کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) نوم ذکر کړی دی.

امام ذهبي (رحمة الله عليه) د عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) په حواله وايي: امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) يو علامه وو، او مکي بن ابراهيم د امام بخاري شيخ (رحمه الله) وايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپلي زماني تر ټولو لوړ عالم وو. همداسي يو بل شيخ وايي: که چيري د امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) علم د ده (رحمة الله عليه) د زماني د علماؤو د علم سره وتلل سي، نو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) علم به پر درووند سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) د امام حماد (رحمة الله عليه) ځايناستى سوو، د ابراهيم نخعي (رحمة الله عليه) د وفات څخه وروسته د خلګو سترګي امام حماد (رحمة الله عليه) ته په لاره وي، مګر د امام حماد (رحمة الله عليه) د وفات څخه وروسته د فقهي کور خالي پاته سوو، لکه د علم ډيوه چي مړه سوه، او هري خواته تور تم وو، که څه هم د حماد (رحمة الله عليه) زوى موجود وو، مګر تجربه يې نه درلوده، نو د درس او تدريس په برخه کي پاته راغلى او موسى بن کثير (رحمة الله عليه) هم حج ته تللى وو، ميدان خالي وو، په دې وخت کي د کوفې مشران، علمان او بزرګان سره راټول سول، په خپل منځ کي يې صلاح او مشوره وکړه، او په اتفاق سره يې امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) ته په جرګه سوه، چي د احاديثو د درس خالي سوى مسند سنبال کړي، او د اُمت د امامت دا درناوى قبول کړي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په ډيره مجبورى سره دا وړانديز قبول کړي، مګر زړه يې مطمئن نه وو، په دې دوران کي يې يوه شپه خوب وليدى اخته دى چي د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مبارک قبر کني.

ابن سيرين (رحمة الله عليه) چي د خپل دور لوى عالم او د خوبونو په تعبير کولو کي ډير ماهر وو، ددې خوب تعبير داسي راويستى: ددې خوب مقصد مړ علم ژوندى کول دي. امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) ته ددې خوب ليدل د زړه د اطمينان سبب جوړ سوو، او د زړه په مينه يې درس او تدريس شروع کړى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د درس د حلقې شاګردان

امام عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) هم په مکه مکرمه کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديثو د درس او د مذاکراتو د مجلسونو منظر او د حديث او فقهي د طالب علمانو ډلي ډلي راتلل ليدلي وه، امام عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) فرمايي: ما د کعبي شريفي په حرم کي وليدل چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ناست دی، د مغرب او مشرق د اولس سره مصروفه دی فتواوي ورکوي، وروسته وايي: خلک هم د هغې زماني خلک وه.

د صدرالائمه مصنف د ابن مبارک (رحمة الله عليه) ددې بيان وضاحت داسي کوي: د ابن مبارک (رحمة الله عليه) مراد دا دی چي لوی لوی فقهاء او عقلمند خلک به ډلي ډلي راتلل. امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حج د سفرونو څخه علاوه د سفاح د حکومت پوره څلور کاله او نهه مياشتي موده په حجاز کي تيره کړي وه، او په دې دوران کي د محديثينو او فقهاؤو دواړو ډلو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د علم څخه پوره استفاده کړې وه. حافظ ذهبي ليکي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه دوې ډلي استفاده کوونکي وې، يو د محديثينو او بله د فقهاؤو وه، دواړو ډلو به فيض ځيني حاصلوی.

د نسائي په حاشيه کي د حافظ ابن حجر په حواله سره ځينو امامانو دا قول نقل کړی دی: د اسلام په لومړيو امامانو کي د هيچا هم دومره د مجلس اهل او شاګردان نه دي په نصيب سوي، لکه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا چي وه، او څومره چي علماؤو د دوی او دوی د اصحابو او د شاګردانو څخه د ګرانو ګرانو آيتونو د تفسير، د مشتبه احاديثو حل، د مستنبطه مسائلو تحقيق، د قضا د فيصلو او د احکاماتو په لړ کي چي څومره استفاده کړې ده، دومره يې د بل چا څخه نه ده کړې.

په مسند خوارزمي کي راغلي دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي څه وخت د خپل اُستاذ حماد (رحمة الله عليه) پر ځای په کوفه کي په جامع مسجد کي د درس په مسند کښينستی نو زر (۱۰۰۰) تنه شاګردان پر راچاپيره ناست وه، چي څلويښت (۴۰) کسان په کښي داسي محديثين او فقهاء وه، چي د اجتهاد درجه ورته حاصله وه، او په دې خبره به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته ډير د فخر حالت وو، او د دوی په ليدو به يې اکثره وخت دا خبره کوله: تاسو زما راز داران او غم شريکان ياست، ما د فقهي آس په واګو او زين سره اماده کړی دی، د سفر دپاره تيار دی تاسي خپل ديني او علمي سفرونه پر کولای سی، په کار ده چي تاسي زما مرسته وکړی ځکه چي زه خو د خلګو دپاره د دوږخ پل يم چي پر ما تيريږی او راتيږی، او ټول زور يې پر ما باندي دی، يعني خلک خو به د تقليد په سبب د ذمه واری څخه خلاص سي، ځکه که چيري د اجتهاد او د احکامو په جوړښت کي معمولي کمي هم راغله، نو پوښتنه به يې زما څخه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د درس حلقه يو عظيم الشانه علمي مجلس ګڼلای سوو، چي يو طرفه ته په کښي کي عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) او حفص بن غياث (رحمة الله عليه) غوندي د لوړي مرتبې محدثين موجود وه، او بل اړخ ته د ابو يوسف، محمد بن حسن، زفر او د حسن بن زياد غوندي فقهاء ناسته او ولاړه کوله، همداسي د فضيل بن عياض او داود طائي غوندي عابدان، زاهدان او اولياؤ الله هم ددې مجلس غړي وه.

محدیثنو عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) د (امير المؤمنين فی الحديث) په لقب سره ياد کړی دی، دی د حديثو د فن ځلانده ستوری دی او د لوړو مرتبو په عالمانو او امامانو کي يادېږي، په صحيحينو بخاري او مسلم کي د ده (رحمة الله عليه) د روايتونو شمير سوونو ته رسيږي دی د روايت د فن امام ګڼلای سوو. عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) به فرمايل: ما ته چي ځونده فيض رارسيدلی دی د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د امام سفيان ثوري (رحمة الله عليه) د صحبت څخه رارسيدلی دی.

بخاري (رحمة الله عليه) په خپل کتاب رفع يدين کي ليکي: امام عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) د خپلي زمانې تر ټولو لوی عالم وو، که چيري خلګو د نورو کم علمه علماؤو پر ځای د ده (رحمة الله عليه) اتباع کولای، نو دا به ډيره غوره وای، خپله امام ابن مبارک (رحمة الله عليه) فرمايي: که چيري الله سبحانه وتعالی د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د سفيان ثوري (رحمة الله عليه) په وسيله زما فرياد نه وای اوريدلی، نو زه به د عامو اشخاصو غوندي يو شخص وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابو حنيفه (رحمة الله عليه) د درس د حلقې مقبوليت

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د درس حلقه لکه مقناطيسي ساحه يوازي طلباء نه بلکي لوی لوی علماء او د فنونو اُستاذان يې هم ځان ته راجلب کړل و دې حلقې ته، چي په کښي د مسعر بن کدام او د اعمش نومونه د ذکر وړ دي. د مختلف علاقو او ليري ليري ملکونو څخه ټولی ټولی طلبان راتلل شروع سول، د کوفې د درس حلقې ډکي سوې، د مکي، مديني، دمشق، بصري، واسط، موصل، جزيرې، نصيبين، رحلي، مصر، يمن، يمامې، بحرين، بغداد، اهوا، کرمان، اصفهان، حلوان، همدان، استرآباد، ری، قوس، ذوامغان، طبرستان، جرجان، نيشاپور، سرخس، بخارا، سمرقند، کس، صغار، ترمذ، هرات، نهسستار، الزام، خوارزم، سيستان، مدائن، مصيصه، حمص او داسي نورو... ځاينو خلګ به په دې درسي حلقه کي شامل وه.

د حديثو په علم کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مهارت او عظمت د احاديثو په رڼا کي د ژوند د مسائلو حل کولو اهميت او صلاحيت اندازه ددې څخه معلوميږي، چي ګڼ شمير د احاديثو د علم عاشقان د احاديثو د اوريدلو په غرض به په درسي حلقه کي سربخوده ناست وه.

ابن حجر عسقلاني (رحمة الله عليه) فرمايي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په درسي حلقه کي د احاديثو د اوريدلو په غرض چي کم د احاديثو مشهوري هستی موجودي وې په هغو کي حماد بن نعمان، ابراهيم بن طهمان، حمزه بن حبيب، زفر بن هذيل، قاضي ابو يوسف، عيسی بن يونس، وکيع، يزيد بن زائع، اسد بن عمر، خارجه بن مصعب، محمد بن حسن الشيباني، مصعب بن مقدام، ابو عبدالرحمن مقري، ابو نعيم، ابو عاصم او نو ګڼ شمير د علم خاوندان (رحمة الله عليهم) شامل وه. حافظ ابو المحاس شافعي (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شاګردانو شمير نهه سوه اتلس (۹۱۸) ښوولی دی، او د ټولو نسب نامې يې بيان کړې.

امام مکي ابن ابراهيم (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاګرد او د امام بخاري (رحمة الله عليه) اُستاذ دی امام بخاري (رحمة الله عليه) په خپل صحيح کي د دوه ويښتو ثلاثياتو څخه يوولس ثلاثيات د امام مکي بن ابراهيم (رحمة الله عليه) په سند روايت کړی دی، ګويا امام بخاري (رحمة الله عليه) په خپل صحيح کي د پاخه سند سره د ثلاثياتو د ليکلو شرف د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شاګردانو په برکت موندلی دی، د امام بخاري (رحمة الله عليه) په بيان کړل سوو سندونو کي اکثره بزرګان د حنيفي مسلک دي، بلکي که داسي ووايو نو بې ځايه به نه وي چي د کومو بزرګانو د برکته چي د صحاح لوړه مانۍ ولاړه ده، په دوی کي ګڼ شمير د هغه حضراتو څخه دي، چي د حدثيو په علم کي يې بيله واسطې مستقيماً د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاګردان دي، د ده (رحمة الله عليه) په شاګردانو کي اته ويشت (۲۸) داسي شاګردان وه، چي هر يو په کښي د قضاء او افتاء د مسند اهل وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو خواته د نبي كريم (صلى الله عليه وسلم) دا فرمان دی چې فرمايي: زما اُمت به په ګمراهي کې هيڅ چيري سره يو ځای نه سي، او بل خواته د پورته بيان کړل سو حقائقو په رڼا کې د حديثو د علم او د فقهي د حاصلولو دپاره د ټولي اسلامي نړۍ سترګي وه ده (رحمة الله عليه) ته وې، د اسلامي ملت اکثره د علم اهل او د فضل و کمال اهل د استفادې دپاره ځيني چاپيره به ناست وه، او د عوامو په زړونو کې يې د وخت تر خليفه زيات آثر درلودی، د علم تږي به راتلل او په ماړه نس به بيرته ځيني تلل يعني په علمي برخه کې به يې يو څه ځيني ترلاسه کول.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه ليريوالی د علم څخه ليريوالی دی: کومو خلګو چې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مخالفت د خپل ژوند مشغولتوب ګرځولی دی، ابن مبارک (رحمة الله عليه) داسي خلګو ته بې وقوفان ويلي دي، او وايي: که چيري ما د ځينو بې وقوفانو خبري منلي وای، نو زه به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مجلس ته نه وای نږدې سوی، او نن به زه د علومو د معارف څخه بې برخي پاته سوی وای، بلکي که داسي ووايم نو بې ځايه به نه وي چې د علم په طلب کې په ټولي خواری او سختی به عبث او لکهونه پيسې به مي بې ځايه مصرف سوي وای. ابن مبارک (رحمة الله عليه) يو ځل د احاديثو درس ورکوی د درس په دوران کې يې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو روايت بيان کړی، يو کس اعتراض پر وکړي، ابن مبارک (رحمة الله عليه) سخت په غوصه سوو، او ويې فرمايل: اې خلګو! ستاسو ددې خبري څخه څه مقصد دی؟ چا ته چې الله سبحانه وتعالی لوړه مرتبه ورکړې ده هغه لوړ دی، او الله (جل جلا له) چې څوک عزتمند کړي هغه به تل عزتمند وي.

ځيني داسي خلګ هم تير سوي دي چې هغو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د محدثانه، مجتهدانه او قائدانه مرتبې څخه انکار کړی دی، د هغو ګډوډي خبري چې د عظيم محدث ابوعصمه سعد بن معاذ (رحمة الله عليه) تر غوږه ور ورسيدې، چې ګڼ شمير خلګ عبدالله ابن مبارک (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په مقابل کې د ډير علم خاوند ګڼي، نو هغه وفرمايل: کم خلګ چې ابن مبارک (رحمة الله عليه) امام ګڼي او ابن مبارک (رحمة الله عليه) چې خپله کم عظيم شخصيت ته امام وايي او د هغه اقتدا يې د ځان دپاره سعادت ګڼلی دی، نو که دا خلګ هغه ته امام نه وايي نو ددې مثال د شعيه ګانو په شان دی، کم چې دوی حضرت علی (کرم الله وجه) امام ګڼي، مګر حضرت علی (کرم الله وجه) چې درې تنه خلفاء راشدين خپله امامان ګڼي، شعيه ګان بيا دوی درې خپل امامان نه ګڼي او انکار ځيني کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لوړ مقام په احاديثو او روايت کښې

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اوله سره څخه د کوفې د شاوخوا څخه چې د حديثو څومره ذخيره وه، هغه يې خپل په سينه کې ځای پر ځای کړه. د يحيی بن آدم (رحمة الله عليه) وينا ده وايي: يقيني خبره ده چې نعمان د کوفې د ښار ټول حديثونه جمعه کړي وه، او دا يې ښيا طريقه وه چې د کوفې ښار ته به يو نوموتي محدث تشريف راوړي، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به د طالبي په جامه کې به ورتلی حاضريدی او پوښتني به يې ځيني کولې. د لوی محدث امام نظر بن محمد مرزوي (رحمة الله عليه) وينا ده وايي: ما د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه ماسيوا د حديثونو سره زيات ملاتړ کوونکی نه ليدلی، يو وار موږ د کوفې په ښار کې ناست وو، چې يحيی بن سعيد او هشام بن عروة او سعيد بن ابي عروبه راغلل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) موږ ته وفرمايل: ګوری ددې حضراتو څخه داسي څه سته چې موږ يې ځيني واورو.

امام نظر (رحمة الله عليه) چې کم نومونه واخيستل ددې څخه دا معلوميږي، چې امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديث لټون د داسي کسانو څخه کړی دی، کم چې دوی د رواياتو په فن کې پاخه او په جمع کولو کې د احاديثو وتلي کسان وه، او په اسلامي نړۍ کې يې نومونه د نوموتو علمانو څخه وه، دا خو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اخلاص جذبه او د طلب شوق وو، چې الله (جل جلاله) ده ته همدارنګه صلاحيتونه، د احاديثو لويه ذخيره، د فقهي احکام، اجتهادي صلاحيت او د کره والي ډاډ ورکړی وو. حافظ اسرائيل بن يونس (رحمة الله عليه) فرمايي: نعمان څومره غوره انسان وو، چې د فقهي کمه مسئله به په حديث کې وه، هغه به يې پياد وه.

د السيره الکبری مصنف حافظ محمد بن يوسف الصالحي په خپل مشهور کتاب عقود کې ليکي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په لويو نوموتو حافظانو کې حساب وو، که د ده (رحمة الله عليه) د احاديثو علمي مرکزونه نه وای، نو د فقهي مسئلې به هم نه وای. حافظ محمد ابراهيم الوزير (رحمة الله عليه) په ډير ښه شان سره اعتراف کړی دی او فرمايي: يقيناً د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) علم او فضليت متواتر دی، او پر دې باندي ټول متفق دي. د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديث پوهي فقهي مسائلو او اجتهادي کمالونو په توګه د محدثينو د سر تاج د فقهاؤو سراج محدثين امام الجرح والتعديل يحيی بن سعيد القطان (رحمة الله عليه) داسي قسم اخلي او فرمايي: په خدای (جل جلاله) قسم دی چې امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دې اُمت کې څه چې د الله سبحان وتعالی او د هغه د رسول (صلی الله عليه وسلم) څخه راغلي دي، په هغه کې تر ټولو لوی عالم دی.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مقام د حديث په روايت کښې: څوک انکار کوي؟ ټول خلګ په دې پوهه دي چې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) زمانه د خيرالقرون يعني صحابه وو ته نږدې زمانه وه، چې په هغه وخت کې د راويانو راز فاشي هم دوندي نه وه، مګر امام اعظم ابوحنيفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رحمة الله عليه) په خپله چي ځومره باسنده احاديث موندلي دي حاصل كړي يې هم دي، او د خپل وخت پر نورو محديثنو د احاديثو په اخيستو يعني په قبلولو كي په لوړ مقام كي ځای درلودی.

د هغه زماني يو مشهور محدث امام مسعر بن كدام (رحمة الله عليه) فرمايي: ما د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره يو ځای د احاديثو علم حاصلوی، هغه پر موږ ټولو غالب وو، او كله چي به په پرهيزګاري كي مشغول وو، نو په ټولو كي به ډير تقواداره وو، او چي فقه به مو ورسره كول، نو هغه مقام يې تاسو وينی. كامل محدث شيخ السلام امام عبدالرحمان مقري (رحمة الله عليه) فرمايي: امام مقري (رحمة الله عليه) كله به چي د هغه څخه روايت كوی، نو فرمايل به يې: موږ ته شاهن شاه حديث كړی دی.

پر خلګو باندي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ځومره لوی احسان دی سنت او فقه يې ساتلي دي، د امام عبدالله بن داود (رحمة الله عليه) څخه يې واوری: پر اسلامي اُمت باندي دا خبره واجبه ده چي خپلو لمنځونو كي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته دعاګاني وكړي، او ويې وويل: په تحقيق سره ذكر سوي دي، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د دوی دپاره فقه او سنت محفوظ كړی دی، يعني ساتلی يې دی.

قاضي ابو يوسف (رحمة الله عليه) چي يحيى بن معين (رحمة الله عليه) صاحب الحديث ورته وايي، فرمايي: كله چي به د هغه رايه قائمه سوه، نو زه به د درس د حلقي څخه ولاړ سوم، او د كوفې د ښار محدثينو ته به ولاړم د مسئلو سره سم به مي حديثونه پوښتل، بيا به راغلم او هغه به مي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته وړاندي كړل، هغه به ځيني قبلول او د ځينو په هكله به يې ويل: دا صحيح نه دی، ما به پوښتنه وكړه: ولي؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به وويل: د كوفې په ښار كي چي ځومره علم دی هغه ماته معلوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) احتياط د احاديثو په رواياتو، قبلولو او ردولو کښي

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هغه اولنی کس دی چي د زماني د اهل د طعنو او پيغورنو د کبله يې اُمت ته د احاديثو د صحيحوالي او نه صحيحوالي علايم ايښي او ټاکلي دي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي د حديث په قبوليت کي د څومره احتياط څخه کار اخستی دی، په دې باره کي د امام سفيان ثوري (رحمة الله عليه) تصديق واوری چي وايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د علم په حاصلولو کي زيات احتياط کوونکی او د الله سبحانه وتعالی د حدونو د بې حرمتي څخه ټينګ ساتوونکی وو، او هغه احاديث به يې قبلول چي هغه به د درنو او قوي راويانو څخه نقل سوي وه، او د رسول (صلی الله عليه وسلم) د آخرني څخه آخري فعل به يې قبلوی، او په دغه کار سره يې د کوفې علماء موندلي وه، مګر بيا هم قوم پر ده باندي طعن ويلی دی، الله سبحانه وتعالی دي د هغو ټولو مغفرت په نصيب کړي. د عراق د علاقې مشهور محدث حافظ امام وکيع بن جراح (رحمة الله عليه) فرمايي: يقيناً امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په احاديثو کي دومره د احتياط څخه کار اخيستی دی، چي د نور محدثينو په کار کي دومره احتياط نه ښکاري.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اصول د رواياتو په قبلولو او ردولو کښي: اولنی اصل قرآن کريم دی، او دوهم اصل حديث دی، مګر د حديث په موضوع هغه وخت روايت قبليږي چي هغه بيخي يقيني او صحيح بنياد ولري، او د واقعي سره سم وي، د ضبط او نقل په لحاظ سره صحيح او قوي وي. امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به د هغه احاديثو سره دليل نيوی، کم چي به په دغه پيماني سره د قوي راويانو په لړيزه خپورنه کي راتلل، دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) موقف وو، او کلک پر ولاړ وو. په دې لړ کي د توضيح الافکار ليکوال د امام ثوري (رحمة الله عليه) په حواله د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دغه موقف ته اشاره کړي ده داسي يې بيانوي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به هغه احاديث قبلول چي د هغه په نزد به صحيح وه، او د قوي راويانو څخه به نقل سوي وه، د رسول (صلی الله عليه وسلم) آخرنی عمل به يې خپلوی، يعني قبلوی يې.

د روايتونو په رد او قبول کي چي عامو محدثينو کم شرطونه ليکلي دي، هغه دا دي چي نقل کوونکی راوي به عاقل، بالغ، د ښې حافظې او د عدالت د صفاتو خاوند به وي، حافظ ابن صلاح دا د جمهورو اجماعي فيصله ګرځولې ده، حافظ ابن کثير تقيظ په کښي اضافه کړی دی، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د روايت په قبلولو کي ددې شرطونو څخه علاوه يو شرط بل هم اضافه کړی دی، هغه دا چي که د روايت تعلق د اسلامي نړۍ د علمي ژوند سره وو، نو دا خبره ضروري ده چي راوي دي يو نه وي، بلکي د صحابي څخه چي روايت نقل کوي دا دي پوره جماعت وي، او جماعت دي داسي وي چي ټول به نيکو کاره وي، او عبادت ګزار دي هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه عبدالوهاب شعراني (رحمة الله عليه) ليكي: كم حديث چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه نقل سوی وي، پر هغه باندي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا شرط اينبی دی چي دغه حديث د صحابي څخه بايد داسي جماعت نقل كړی وي چي نيكو كاره او پرهيز ګاره به وي. په هر حال امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو په رد، قبلولو او د صحت په لړ كي يو داسي ميزان جوړ كړی دی، چي نور محدثين ځيني تير سوي نه دي، د روايت د شرطونو معيار او ميزان په لټون كي د دريمي پيړۍ د محدثينو په نسبت په زيات احتياط سره مخته ته تللی دی.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي د قبوليت كم شرطونه ذكري كړي دي، هغه په اصول السرخسي كي ۱ جلد ۳۶۴ صفحه، كشف السرار، شرح، اصول بزدوي، التقرير، او ددې شرحه، مسلم او ددې په شرحه كي د خبر الحاد په بحث كي په تفصيل سره ذكر دي. شيخ مصطفي سباعي په خپل مشهور تصنيف (السنة ومكانتها في التشريع الاسلامي) كي ښه په ترتيب ذكر كړي دي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديث قبلولو شرطونه:- ۱: د شرعي حكمونو دپاره چي كم اصول يعني دليلونه دي د هغه د لټون او تحقيق څخه وروسته چي كم اصول د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په نزد يقيني دي، د هغه سره يو خبر يعني خبر واحد ټكر نه دی په كار، ځكه كله چي به د دغو اصلو سره يو خبر مخالف راغلی، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پريښوی به يې، ځكه چي قاعد دا ده چي كله دوه دليلونه ذكر سي، نو په قوي دليل باندي به عمل كيږي، نو په دې وجه به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو خبر ته ترجيع نه وركوله.

۲: د قرآن كريم د عامو حكمونو او ښكاره آيتونو سره يو خبر يعني خبر واحد نه سي متصادم كيدای، مګر كله چي به يو حديث يعني خبر واحد د ظاهر كتاب سره نه جوړيدی، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به عمل په ظاهر د كتاب يعني قرآن كريم سره كوی، او حديث به يې پريښوی، ځكه چي كتاب الله قطعي دی او خبر واحد ظني دی، په دې ځای كي به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تر قوي لا پر قوي دليل باندي د عمل كولو اصول اختيارول، او كه چيري به يې يو حدايث داسي پيدا كړی چي هغه به د قرآن كريم د يو مجمل حكم دپاره بيان سوی وو، يعني د هغه مراد او مقصد به پټ وو، او هغه پټ مراد به يې ښكاره كوی، يا به د يو نوي حكم دپاره د نص ښكاره دليل وو، د داسي حكم دپاره چي په قرآن كريم كي به ظاهر نه وو، نو داسي حديث كه څه هم چي يو خبر هم نه وي، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به قبلوی، وجه يي دا ده چي په دې دواړو صورتو كي حديث د قرآن كريم سره متعارض نه دی.

۳: خبر واحد د يو مشهور حديث څخه مخالفت نه دی په كار او برابره خبره ده، كه هغه قولي وي او يا فعلي وي، چي چيري به يو حديث د مشهور سنت مخالف وو، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به د قوي دليل لاندي پريښوی، ځكه چي مشهور حديث د خبر واحد څخه قوي او صحيح وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: يو خبر واحد د بل خبر واحد سره متعارض نه دی په کار، که چيري متعارض به سو، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به د ترجيح د طريقو پر بناء سره يو پريښوی او بل به يې قبلوی، د ترجيح طريقې دا دي چي د دواړو حديثونو راويانو ته به يې کتل چي دواړه صحابه وه، نو د هغو پوهه به يې کتله چي کم به فقهيه عالم وو، او کم به فقهيه نه وو، کم ځوان وو، او کم سپين ژيری وو، دا احتياط به يې ځکه کوی چي تر خپله وسه پوري د غلطلي څخه وساتل سي.

۵: راوي به د خپل روايت کړل سوي حديث خلاف عمل نه کوي، داسي وخت کي به هم هغه به هغه حديث پريښوی، لکه: د ابوهريرة (رضي الله عنه) والا حديث چي سپی لوی مسحه کړي، نو اووه واره پريمينځل غواړي او خپله د ابوهريرة (رضي الله عنه) فتوا ددې څخه خلاف وه، هغه به د عامي ګندګي غوندي پريولی درې ځلي پريولولو فتوا ورکوله.

۶: په حديث کي دي داسي څه حصه جلا نه وي، چي صرف په دغه حديث کي وي او په بل حديث کي دي نه وي، هغه که په متن کي وي او که په سند کي په داسي صورت کي به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هغه يو حديث په عمل کي راوستی چي زياته حصه به په کښي نه وه، او زياتي حصي والا حديث به يې پريښوی، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دا طريقه سره کار د الله سبحانه وتعالی په دين کي په بې حده احتياط باندي منبي وو.

۷: په خبر واحد کي دي داسي حکم نه وي، چي د هغه تعلق دي د عموم بلوي سره وي مطلب دا چي ټول اولس دي په کښي اخته وي، او د هغو د ضرورت وړ وي، دا ځکه چي په داسي صورت کي دا حديث مشهور يا متواتر په کار وو، او ددې راويان هم ګڼ په کار وه، او دا خو د يو روايت کوونکي څخه نقل دی، نو دا د ده د کمزوری دليل دی، ځکه به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) داسي حديث په عمل کي نه راوستي يعني نه به يې قبلوی.

۸: چي حديث خبر واحد د يو صحابي څخه روايت وي، په داسي حال کي چي ددې حديث په حکم کي د صحابوو (ضي الله عنهما) په مينځ کي اختلافات تير سوی وي، خو يو صحابي هم دغه حديث په دليل کي نه وي نيولی، دا نه نيول ددې حديث د نه ثابتوالي دليل دی، که چيري داسي نه وي نو په کار وه چي يو نه يو صحابي خو دليل پر نيولی وای، پر داسي حديث به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هم عمل نه کوی.

۹: خبر واحد دي داسي وي، چي سلفو او صالحانو، صحابوو او تابعينو کي هيڅا اعتراض نه وي پر کړی، ګنې د صحابوو يا تابعينو په حديث باندي طعن لګول ددې خبري دليل دی، چي دا حديث معتبر نه دی پر داسي حديث به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هم عمل نه کوی.

۱۰: کله چي به اخبار احاد يعني يوازي خبرونه د شرعي حدونو او د سزاوو سره وابسته وه، مګر په روايتونو کي به د يو بل څخه بدل وه، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به په هغه روايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمل کوی، په کم یوه کي چي به د کمي سزا حکم سوی وو، او نور به یې پرېښوول ځکه چي په منونکو اصولو کي دا هم دي یعني: شرعي سزاګاني معمولي شبهې سره هم پورته کېږي.

۱۱: د روایت کوونکي حافظه دي د اوریدو د وخت څخه واخلي د حدیث ادا کولو یعني نورو ته د اورولو پوري دي پخه وي، او په دغه مینځ کي به په کښې هیره نه وي راغلې، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) به داسي راوي چي حافظه به یې کمزوري وه، د هغه روایت نه قبلوی او نه به یې په عمل کي راوستی.

د یو مجتهد دپاره چي د هغه کسب دا وي چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) احادیثو څخه شرعي مسئلي راوباسي، دا ټول شرطونه بې حده ضروري دي، تر څو چي یې دا شرطونه په خیال کي نه وي راوستلي، نو مجتهد خپله فریضه د تفصلي دلائلو څخه شرعي حکمونه رایستل یعني: د مسئلو کسب نه سي پوره کولای، هغه که امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) دی یا امام مالک (رحمة الله علیه) دی، یا امام شافعي (رحمة الله علیه) دی، یا امام احمد بن حنبل (رحمة الله علیه) دی، مګر محدثین حضرات ددې څخه دباندي وتلي دي، ځکه چي د هغو کسب صرف دا دی صحیح احادیث د غیر صحیح احادیثو څخه جلا کوي او یو ځای کوي یې، بلکي د محدثینو دپاره دا شرطونه د هغو په کار کي خلل جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په هکله د لويو فقهاؤو او مشهورو محدثينو شاهدي

امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) فرمايي: ما د تفسر او حديثو په لړ کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه لوی عالم نه دی ليدلی. د سفيان بن عنينيه (رحمة الله عليه) قول دی وايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فقهي په علم کي (اعلم الناس) دی. يحيی ابن آدم (رحمة الله عليه) وايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپلي زماني د ټولو محدثينو مشورې په ياد ساتلي وې. حسن بن زياد (رحمة الله عليه) فرمايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) (۴۰۰۰) څلور زره احاديث روايت کړي دي، (۲۰۰۰) دوه زره يې د حماد (رحمة الله عليه) څخه او (۲۰۰۰) دوه زره يې د نورو شيخانو څخه روايت کړي دي. خارجه بن مصعب (رحمة الله عليه) فرمايي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په وړاندي راتلو سره به د هغه علم او پرهيزګاري د وجهي څخه به د بنده حالت داسي سو چي د خپل نفس حقير ګڼلو سره به عاجزه هم سو، يعني عاجزي به يې اختيار کړه.

د سفيان ثوري (رحمة الله عليه) وينا ده: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مخالفت داسي کس کولای سي، څوک چي د ده (رحمة الله عليه) څخه په قدر او علم کي جلا وي، مګر داسي کس څوک دی؟. امام مالک (رحمة الله عليه) د امام شافعي (رحمة الله عليه) د پوښتني په جواب کي وفرمايل: سبحان الله ! امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) عجيبه شخصيت وو د هغه ثاني ما نه دی ليدلی. د خلف بن ايوب (رحمة الله عليه) قول دی فرمايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو نادر الوجود يعني د کم څخه کم موجوديدونکی شخصيت دی، علم د الله (جل جلاله) د طرف څخه حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) ته راغلی دی، بيا صحابؤو ته بيا تابعينو ته او ددې څخه وروسته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د هغه ملګرو ته چي په برخه سوی يې دی. د حافظ محمد ابراهيم فاني وينا ده: نه وينم په دنيا کي برابر څوک ستا د حسن، پيښيرۍ دا اداء او دا چال د يو نيم کس.

فضل بن موسی (رحمة الله عليه) وايي: موږ د حجاز او د عراق علمي مجلسونو ته تللي او راغلي يو، يعني تګ راتګ مو سوی دی، مګر کم برکت او نفع چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په مجلس کي وه، هغه په نورو مجلسو کي نه وه. حضرت وکيع محدث (رحمة الله عليه) چي د امام بخاري (رحمة الله عليه) په سترو شيخانو کي دی، په يو مجلس کي يې يو حديث مخته بيان سوو، چي مضمون يې ډير سخت وو، حضرت وکيع (رحمة الله عليه) ولاړ سو او په سړه ساه يې وفرمايل: د پښيمانتيا څخه څه فايده؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چيري دی چي هغه به دا مسئله حل کړې وه. د امام ابو داود (رحمة الله عليه) قول دی: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شريعت امام دی. د امام اعمش (رحمة الله عليه) قول دی وايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته داسي مسئلي په ياد وې، چي نه د ابن سيرين (رحمة الله عليه) نه د حسن بصري (رحمة الله عليه) نه د قتادة (رحمة الله عليه) نه د فلاني او فلاني او نه د بل چا په ياد وي. امام مقاتل وايي: ما تابعين او تبعي تابعين ډير ليدلي دي، مګر د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) غوندي هستي مي په کښي نه ده ليدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام شافعي (رحمة الله علیه) فرمان دی فرمايي: خلګ په فقه کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) عيال دي، ځکه چي زه د هغه ځخه زيات څوک فقيه نه وينم او څوک چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله علیه) کتابونه ونه لولي هغه به نه عالم جوړ سي او نه فقيه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د احادیثو د کموالي په خاطر تهمت ویل

په دنیا کي داسي خلک هم سته چي هغو د حدیثونو د کمي په لړ کي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د حدیث پوهي او د فقهي پوهي مرتبه په غشو ولي، ممکن دوی د حنیفیت د لاري د بندیدو کوښښ کوي او په دې کوښښونو اخته دي، مګر که سړی فکر وکړي نو د روایتونو کمي خو عیب نه دی، نه د شرمندګي خبره ده او نه دا یو قانون دی که چا لږ روایتونه نقل کړي وي، نو هغه به د فقهي عالم او مجتهد نه وي، که داسي سي نو د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) څخه ټول (۵۴۵) پنځه سوه پنځه څلویښت روایتونه نقل سوي دي، حالانکي هغه د نبوت په شپږم کال اسلام قبول کړی دی، او ټول عمر یې د نبوت په دوران کي تیر کړی دی.

همداسي د حضرت علی (کرم الله وجه) څخه (۵۸۶) پنځه سوه شپږ اتیا روایتونه نقل سوي دي، حالانکي هغه خو د اول څخه په اسلام کي وو، یعني د اسلام د شروع څخه مسلمان سوی وو، او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره یې څلورویښت کاله یو ځای تیر کړي وه، دغسي حضرت عبدالله ابن مسعود (رضي الله عنه) (۲۲) دوه ویښت کاله د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خصوصي ملګرتیا او خدمت کي تیر کړي وه، مګر بیا هم صرف (۸۴۸) اته سوه اته څلویښت روایتونه نقل کړي دي. نو اصل خبره همدا ده چي حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه)، حضرت علی (کرم الله وجه) او حضرت عبدالله ابن مسعود (رضي الله عنه)، به هر یو روایت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته منسوب وی، او په دې کي به یې د ډیر احتیاط څخه کار اخیستی، دپاره ددې چي د کمي او زیاتوب په سبب د عذاب د حقدارانو طرف اختیار نه کړي، نو په دې سلسله کي به یې د سنتي د سپم په اندازه یې نقص هم نه سوای زغملای، ځکه د دوی څخه لږ لږ روایتونه را نقل سوي دي.

البته دې حضراتو چي د هر څومره روایتونو قدرت درلودی هغه یې د معلوماتي مسئلو او فتواو په شکل عام اولس ته وړاندي کړي دي، لکه څنګه چي په (الاصابه) کي راغلي دي: حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه)، حضرت علی (کرم الله وجه) ، حضرت ابن عباس (رضي الله عنه)، عبدالله ابن مسعود (رضي الله عنه)، حضرت ابن عمر (رضي الله عنهما)، حضرت زید بن ثابت (رضي الله عنه) او حضرت ام المؤمنین عائشه صدیقه (رضي الله عنها) فتواوي دومره ډیري دي، چي د هر یوه د فتواو څخه یې لوی او دروند کتاب جوړیدای سي.

قاضي عیاض (رحمة الله علیه) په مدراک کي بیان کړي دي فرمایي: یو ځل په مدینه منوره کي د امام مالک (رحمة الله علیه) او د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ملاقات اوسوو، تر ډیره حده یې خبري سره وکړې وروسته چي امام مالک (رحمة الله علیه) د هغه مجلس څخه راووتی په خولو کي لوند خیشت وو، لیث بن سعد (رحمة الله علیه) پوښتنه ځیني وکړه: څه کیسه ده چي په خولو کي ډوب یې؟ امام مالک (رحمة الله علیه) جواب ورکړی: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) سره مي یو څه اندازه مناظره وکړه ددې امله مي بدن لوند خیشت دی، بیشکه ای مصري! چي دا دروند فقیه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي امام شافعي (رحمة الله عليه) ته داسي قولونه منسوب سوي دي، چي په هغه کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کم پهمي ته اشاره سوې ده، مګر دا قولونه سراسر بي بنياده دي، ځکه چي امام شافعي (رحمة الله عليه) خو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) قدر پيژندلی دی، امام شافعي (رحمة الله عليه) د امام محمد بن حسن شيباني (رحمة الله عليه) په ذريعه سره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فقهي څخه فايده اخيستي ده، او د هغه د اجتهادي علومو څخه يې ښه استفاده کړي ده، کله چي دري کاله وروسته بغداد ته تلی نو ويې فرمايل: زه د امام محمد بن حسن شيباني (رحمة الله عليه) څخه د اوښ د پيټي د بار په اندازه علم د ځان سره وړم. امام شافعي (رحمة الله عليه) خو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شاګردانو احسان مند لا هم دی، نو دا به څنګه ومنل سي چي هغه (نعوذ بالله) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په باره کي غلطه رائي ښکاره کړي، بلکي د امام شافعي (رحمة الله عليه) دا مقعوله خو د هر چا پر ژبه جاري ده چي فرمايي: خلګ د فقهي په علم کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) عيال دی.

د خطيب بغدادي د نقل سوو تهمتونو دپاره جوابونه: خطيب بغدادي د اوله سره څخه په تاريخ کي د بغداد د امامانو او فقهاؤو ته درواغجن او بي بنياده اقوال منسوب کړي دي، د نموني په توګه يې يو مثال ذکر کوم چي دی وايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديث پوهي په لړ کي يتيم وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په حديث پوهي کي بيخي ګوډ وو، هغه د حديثونو مالک نه وو، نه ورسره د رائي حق وو، او نه څه حديث، څونده حديثونه چي يې روايت کړي دي، هغه يو نيم سل (۱۵۰) دي، خو په نيمو کي خطاء وتلي دي. د سنتو مخاليفينو، د حديثو منکرينو او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) حاسدينو هميشه په خپلو تقريرونو او ليکونو کي د خطيب بغدادي دا بي بنياده تهمتونه ويلي او ليکلي دي، بعضو تاريخ پوهانو د دوښمني او خوښي په توګه په خپلو ليکونو، تاريخونو، او رسالو کي نقل کړي دي.

د ابن خلدون د نقل سوو تهمتونو دپاره جوابونه: ابن خلدون په خپله تاريخي مقدمه کي ليکي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه چي کم روايتونه نقل دي ويل سوي دي، چي صرف (۱۷) اوولس دي. دا کم تهمتونه چي پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) باندي ويل سوي دي، په حقيقت کي دا بي بنياده دي، مخکيني بحثونه چي ذکر سوي دي هغه بسنه کوي، مګر د لا ښه وضاحت او حقيقت څرګندولو دپاره څو نور بحثونه هم ضروري دي، چي يادونه يې بايد وسي.

۱: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خو د اسلامي او ديني نړۍ د سر تاج، منل سوی امام او قوي مجتهد دی او دا کمه پټه خبره نه ده، چي منونکي او نه منونکي يې ټوله مني، بلکي د تاريخ بغدادي د اقوالو نقل کوونکي يې هم مني، مګر دلته سوال دا پيدا کيږي چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديثو په پوهه کي علم نه درلودی او صرف اوولس (۱۷) حديثونه يې په ياد وه، نو بيا ولي دی نورو لويو لويو مجتهدينو د هغه د اجتهاد لوړ ګڼلی دی او قدر يې کړی دی؟ د هغه د فقهي مسئلو حصول، قدر او عزت يې ولي کړی دی؟ د خپرولو بهير يې ولي جاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلی دی؟ او بیا فقه په داسي شکل کي وه، چي د هغې دپاره د حدیثو د علم بنیاد نه وو جوړ سوی چي څوک پرې نازیدلي وای، مګر نن ولي دغه فقه امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته منسوبیږي؟

۲: لویو لویو امامانو او د دین پوهانو چي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) مسئلي پوره وکتلي، نو په سوونو مسئلي او حکمونه یې د صحیح حدیثونو سره یو شان وموندل، په دې لړ کي د قاموس شارح سید مرتضی زبیدي د حنفي فقهي کوچني حکمونه چي د احادیثو سره برابر دي، په خپل مشهوره لیک (الدر رالمنیفه في ادلة ابی حنیفه) کي په کتابي شکل سره را ټول کړل. نو اوس سوال دا دی چي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د کم پوهي په صورت کي د هغه څخه را نقل سوي مسئلې ولي د صحیح احادیثو سره یو شان دي؟.

۳: امام ابن ابی شیبه په خپل لیک کبیر کي داسي مسئلي (۱۲۵) یوسلو پنځویشت ذکر کړي دي، چي په هغو کي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د صحیح حدیثونو معیار ته نه دي رسیدلي، نو که د ابن ابي شیبه دا خبره ومنل سي، نو خبره به ښه واضح سي یعني مطلب به داسي چي د دغو یوسلو پنځویشت مسئلو څخه علاوه چي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څومره مسئلي دي، چي په یوه روایت کي (۸۳۰۰۰) درواتیا زره او د بل روایت مطابق (۱۲۰۰۰۰۰) دولس لکهه دي، هغه به صحیح او د احادیثو سره سمي وي او په دې سره خبره نوره هم قوي سوه، هغه دا سي چي دولس لکهه مسئلې سمي او سلامتي پاته سوې، نو د هغو مسئلو د خاوند سره به د احادیثو ذخیره هم ډیره وي او هغه به صحیح حدیثونو ته خامخا غاړه کښیږدي، چي واقعاً د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) سره د حدیثونو یوه لویه او درنه ذخیره وه، چي د هغې ذخیرې څخه یې دولس لکهه مسئلي رایستلي دي.

۴: د حدیث پوهي په اصولي کتاب اسماء الرجال کي راغلي دي: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) رائیو او نظریو ته خلک په هره مسئله کي محتاجه دي، دا داسي قاعدې او اصول دي، چي د فن روایت په لړ کي د قبلولو او د نه قبلولو طریقې خلکو ته ښئي یعني کم حدیث یا د حدیث راوي چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) رد کړي وي، هغه به رد ګڼل کیږي او کم یو چي یې تائید کړی وي هغه به قبلیږي، نو تاسو په خپله فکر وکړی چي داسي لوی شخصیت د احادیثو څخه ناخبره، ناپوه ګڼل سراسر درواغ دي او داسي خبري د کم عقلو او حاسدانو خلکو کار دی.

۵: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) شاګردانو چي څومره احادیث د هغه څخه اوریدلي او لوستلي دي، هغه یې په بهترینه طریقه لیکلي دي او دغه لیکوالان هم څه معمولي خلک نه وه، بلکي هغوی ځانته د حدیث پوهي او د فقهي په اجتهادي امورو کي امامان وه لکه: امام ابویوسف (رحمة الله علیه)، امام محمد (رحمة الله علیه)، حسن بن زیاد (رحمة الله علیه)، په دې لړ کي بیا قاضي القضات محمد بن محمود الخوارزمي (رحمة الله علیه) ددې کسانو مسندونه په خپل مشهور لیک کي را جمع کړي دي، چي جامع المسانید ورته وایي، حافظ محمد بن یوسف صالحاني داسي روایتونه رانقل کړي دي، چي د هغه څخه د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د مسندونو شمیر اوولس (۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوميږي، او بيا يې د دغه اوولسو (۱۷) کسانو سندونه په تفصيل سره بيان کړي دي، چي هغوی د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مسانيد جمع کړي دي.

ددې تحقيق او تفصيل څخه وروسته پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديثونو د کم پوهي تهمتونه ويل څه معنی لري؟ مګر دا کار يوازي او يوازي د حاسدانو د خوا څخه کيدای سي نه د بل چا خوا څخه. د ابن خلدون د نقل سوي روايت وجهي په تيرو سوو موضوعاتو کي د ابن خلدون د بيان حقيقت هم په ډاګه او واضح کړی، مګر اصل خبره دا ده چي د ابن خلدون عبارت ډير لنډ او مختصر دی، يعني مطلب يې ښکاره او واضح نه دی، صرف دونه يې ليکلي دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مروياتو شمير يې اوولس دي، نو کيدای سي:

۱: ابن خلدون د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مروياتو د شمير څخه مراد مسندونه اخيستي دي. ۲: دا هم کيدای سي چي امام محمد (رحمة الله عليه) په موطا امام مالک‌کي چي کم رواياتونه ذکر کړي دي، چي په هغه کي صرف اوولس حديثونه داسي دي، چي هغه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه نقل سوي دي، او څلور په کښي د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) څخه نقل سوي دي، ددې اوولسو احاديثو په ليدو سره بعضي د علم خاوندانو په موطا کي دغه شمير وښووی او هم دغه خبر بيا په دنيا کي خپور سو، مګر دا په ياد وساتی چي د اوولسو حديثونو واله تور لګوونکی او تهمت ويوونکی ماسيوا د ابن خلدون د ليک څخه بل ځای نسته.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حديث پوهي په فن او کسب کي د کمال درجي ته رسيدلی وو، د ډير احتياط څخه يې کار اخيستی، او په محدثينو کي د ده (رحمة الله عليه) هم مثله نه پيدا کيږي، نو داسي لوړ شخصيت ته د حديثو په علم کي يتيم ويل او د لږو حديثونو نقل کوونکی ويل لويه بې عقلي، حماقت، بې بنياده تهمت او درواغ دي بل څه نه دي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ارجاء حقيقت: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د هغه شريفو، پوهانو، هوښيارانو، ديندارو او قوي خلګو څخه وو، چي دی د فقهي، اجتهاد او د علم په ناآشنا مړونو کي ډير مخته تللی وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) داسي هستي وه چي حاسدانو يې دا هر څه نه سوای زغملای، لکه د اسلامي فقهي رواجيدل، د نورو تهمتونو او اعتراضونو سربيره د ارجاء په نوم يو داسي زوررور طوفان پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) باندي راغلی دی، چي د تاريخ په پاڼو کي پر بل محدث يا امام باندي داسي طوفان نه دی رغلی.

حالانکي د مصطفی حسني السباعي د قول مطابق د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د عقيدې مرجيئه خالص د قرآن کريم او احاديثو سره سمه ده، چي تفصيل يې داسي دی: که چيري يو سړی په لويه ګناه کي اخته يي او د توبې څخه ماسيوا مړ سي، نو په آخرت کي به د ده معامله د الله (جل جلاله) د خوښي سره وي، که چيري الله (جل جلاله) وغواړي د ګناه مناسبه سزا ورکړي جهنم ته يې ورواچوي، او د عذاب څخه وروسته يې جنت ته واستوي، او که چيري وغواړي نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل رحم سره يې ګناه ور معاف کړي، او د سزا څخه ماسيوا يې جنت ته واستوي. مومن چې په لويه ګناه کې اخته سي نو دی خو مسلمان دی او جنت ته يو ورځ خامخا ور داخليږي، او د دوږخ خو د کافرانو او مشرکانو دپاره هميشنی ځای دی، يعني د هميشه د پاره به په دوږخ کي وي، ماسيوا د مؤمن څخه چې يو لويه ګناه يې کړې وي، هغه به تر يو وخته پوري په دوږخ کي وي.

د خوارجو عقيده دا ده: مسلمان چې د لويي ګناه مرتکب سي، نو دی د اسلام څخه خارج دی کافر دی، او هميشه په دوږخ کي وي. د معتزلو عقيده داسي ده: دغه سړي چې نه مسلمان دی او نه کافر دی، مګر د هميشه دپاره به په دوږخ کي وي. د مرجيئو عقيده د ارجاء يعني د قرآن کريم او سنت خلاف ده داسي وايي: ضرر نه رسوي څه ګناه د ايمان سره لکه څنګه چې د کفر سره نيکي نفع نه ورکوي. ددې ډلي يوه عقيده دا هم ده: ايمان عبادت دی او د معرفت او د اقرار لساني نوم دی، او د تصديق قلبي هيڅ ضرورت نسته، او دا هم وايي: د عذاب او د ثواب اړه په نيکو او بدو سره نه ده. دا د قرآن کريم او سنت څخه خلاف عقيده ده، او د اهل سنت والجماعت د عقيدې سره يې هيڅ تړون او مناسبت نسته، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې عقيدي څخه پاک او بری دي.

موږ د شيخ مصطفى د قول مطابق د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ارجاء عقيده صرف د سنت سره موافقه ګرځولې ده، په دې هکله که د تاريخ باب وکتل سي، نو په اول صدر کي معتزله ؤو او اهل السنت والجماعت ته مرجيئه ويل سوي دي، مګر په دې لړ کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خوارجو او مرجيئو خلاف ډير کار کړی دی، نو په دې وجه يې ځان په مرجيئي لقب سره مشهور کړی دی، نو ددې وجهي څخه ابو مشکور سالمي د مرجيئو دوې ډلي بيان کړي دي، يوې ډلي ته يې مرجيئه مرحومه وايي او بلي ډلي ته مرجيئه ملعونه وايي، سالمي ليکلي دي: د مرجيئه دوې ډلي دي، يوه مرجيئه مرحومه ده، چي په دې کي صحابه داخل دي او بل مرجيئه ملعونه ده، او هغه دا ډله ده چي د دوی په نزد ګناهونه ضرري نه دي او ګناه کار ته به يې عذاب نه ورکول کيږي.

علامه ابن اثير د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ترديد په هکله ويلي دي: ښکاره خبره دا ده چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې تهمتونو څخه پاک دی. حاسدانو ته چي څه په لاس ورنه غله، نو بيله ثبوته يې د غنية الطالبين عبارت يې پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په ناجايزه توګه او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پر خلاف يې استعمال کړی دی، حالانکي د غنية الطالبين ليکوال صرف دومره ليکي دي: بعضي حنفيان مرجيئه دي. نو دا خبره بلکل غلطه ده ځکه چي علامه زمحشري، د قنيه جبائي او غسان کوفي درې سره وو د فقهي په مسائلو کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مقلدين وه، مګر په عقيدو کي معتزله يا مرجيئه وه، نو دا خو پر دې خبره کم دليل نه دی، چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ټول ملګري دي مرجيئه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تكفير او د شاذ قراءت منحول كتاب: په كمه اندازه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په سياسي، اجتماعي، فقهي او ديني لحاظ سره د لوړ رتبه اشخاصو څخه شميرل كيږي، په هغه اندازه يې مخاليفين، حاسدان او د زمانې كنيه ګرو خلګو د مخالفت پر اساس پر دغه اعظيم شخصيت باندي تهمتونه او تورونه تړلي دي، او د ده (رحمة الله عليه) په باب يې د ډيرو غلط فهميو څخه كار اخيستي دی. دا يو عامه خبره ده چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاذ قراءت اختيار كړی دی، په هغه سره يې روايتونه كړي دي، او د هغه څخه يې مسئلې او حكمونه رايستلي دي او فقه يې جوړه كړې ده، حالانكي دا حقيقت په اوس معلوم سي، هغه دا چي محمد بن جعفر خزاعي د شاذ قراءت په اړه يوه مقاله وليكل او هغه كي يې د شاذ قراءت نسبت امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته وكړی، نو ددې څخه بعضو مصنيفينو او مفسرينو غلط فهمي وكړه.

ابن حجر مكي (رحمة الله عليه) په خيرات الحسان كي ليكلي دي: د عالمانو او امامانو يو جماعت چي د ارقطني هم په كښي شريک دی، دا خبره واضح كړې ده چي دا ليک ليكل سوی دی، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې څخه پاک او كاميابه دي. بيا خصوصاً په دې لړ كي اهل احاديثو د منحول كتاب غاليسين، چي پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) باندي يې اعتراضونه سوي دي، نسبت امام غزالي (رحمة الله عليه) ته كړی دی. امام ابن حجر مكي (رحمة الله عليه) په خيرات الحسان كي دا خبره په واضح ډول سره كړې ده او وايي: ددې كتاب ليكونكی يو معتزله دی، چي نوم يې محمود غزالي دی او امام غزالي (رحمة الله عليه) نه دي.

مګر بل طرف ته چي اهل احاديثو د امام غزالي (رحمة الله عليه) رينښتني خبري كتلي دي، نو بيا وروسته چوپ پاته سوي دي، او هغه دا چي امام غزالي (رحمة الله عليه) د احياء العلوم په طرس كي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) عابد، زاهد ياد كړی دی. د الله (جل جلاله) عظيم عارف ويلي دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) عبادت ګذاره، پرهيزګاره، د الله (جل جلاله)څخه بيره كوونكي او په علم كي خالص د الله (جل جلاله) د رضا طلب ګاره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د صحابوؤ (رضي الله عنهما) پر لاره تګ کړی دی

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ملګرو او هغه امامانو چي د فقهي په ايجاد کي دوی سره شريک وه، هم د صحابه کرامو (رضي الله عنهما) طريقه اختيار کړي ده، د ظاهري لفظونو د لټون، روايتي اعتبار سره د حديث د ضعيفوالي او قويوالي معيار او د ناسخ او منسوخ او د آخري عمل د تحقيق علاوه د روايت په نقل کولو کي د اصحابو کرامو (رضي الله عنهما) قوي، جامع او احتياط والا طريقه خپله کړې ده، بيا د احاديثو سره سره يې د هغو د اقوالو او فتواو څخه د نورو مسئلو په رايستلو کي هم د هغو د محتاطي طريقې پوره خيال ساتلي دي. نو حقيقت دا دی چي د حنفي فقهي دا فضليت او لوړوالی د بعضي خلګو دپاره د حسد، کينې او بغض په وجه د مخالفت ذريعه سوه، او حاسدانو ته بله داسي لاره نه وه چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تعبداري ته غاړه کښيږدي، نو ايله بيله يې پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو د کموالي تهمت پوري کړی او داسي يې وويل: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) صرف اوولس (۱۷) حديثونه را نقل کړي دي.

ددې څخه علاوه محققينو ددې تهمت بل جواب داسي کړی دی، هغه دا چي احاديث پر دوه قسمه دي يو قسم هغه دي چي تړون يې د احکاماتو سره دي، او بل قسم هغه دي چي د احکاماتو سره تړون نه لري، په دې دوهم قسم کي صحابه کرام (رضي الله عنهما) او فقهاء ډير په احتياط سره يې اقدام کړی دی، يعني د ډير احتياط څخه يې کار اخيستی دی، بلکي خلفاء راشدينو هم ددې څخه ځان ساتلی دی او نور يې هم ځيني منع کړي دي، اول قسم حديثونه چي د هغو تړون د احکاماتو سره دی، د هغو پيژندل پر هغو باندي عمل کول ضروروي وه، نو په دې وجه ددې د نشر کولو دپاره يې پوره کوښښونه کړي دي، او نورو ته يې هم د نقل کولو تاکيد فرمايلی دی، حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) چي کله خليفه سو نو ويې فرمايل: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) روايتونه لږ نقل کوی، مګر هغه روايتونه چي د هغو تعلق د عمل سره دي، هغه په پوره ډول نقل کوی. عباده بن ثابت (رضي الله عنه) وفرمايل: د کومو حديثونو سره چي ستاسو ديني فايدې موښتي وي، هغه مي ستاسو په مخکي ټول بيان کړل. (صحيح المسلم)

علامه نووي د قاضي عياض په حواله د حضرت عباده (رضي الله عنه) د يو قول تشريح نقل کړې ده ليکي يې دي: د عباده (رضي الله عنه) د قول څخه دا معلوميږي چي هغه هغه روايتونه نه دي نقل کړي، په کومو کي چي د مسلمانانو دپاره د فتنې بيره وه، چي د احکامو او د حدونو سره يې تعلق نه وو، او دا نه چي داسي روايتونه صرف عباده (رضي الله عنه) پريښي دي، بلکي نورو صحابوو (رضي الله عنهما) څخه هم ډيره محتاطه طريقه ثابته ده. (شر المسلم للنووي) په دې لړ کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خلفايې راشدينو، صحابه کرامو (رضي الله عنهما) او د فقهاؤو د ارشاداتو په رڼا کي صرف هغه حديثونه روايت کړي دي، چي تعلق يې د احکامو سره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شريعت جوړونکی دی

د نورو خويونو، خصلتونو او فضيلتونو سربيره په تيره بيا د شريعت د جوړولو په ترتيب او باب ګيري کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د اول جوړونکي برخه حاصله ده، په دې هکله جلال الدين سيوطي (رحمة الله عليه) ليکي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په هغه خصلتونو کي چي يوازيوالی ورته حاصل دی، يو دا هم دی چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هغه اولنی شخص دی، چي شريعت يې جوړ کړی او ترتيب کړی دی او بابونه يې په کښي جوړ کړي دي. د امام سيوطي (رحمة الله عليه) د قول مطابق دا برخه يوازي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته په نصيب سوې ده او بل چا ته نه ده.

په موطا کي امام مالک (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اقتداء او تابعداري کړي ده: امام مالک (رحمة الله عليه) د موطا په ترتيب کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اتباع کړې ده، او په دې کار يعني د شريعت په جوړولو کښي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه څوک وړاندي سوی نه دی، او دا داسي حقيقت دی چي انکار نه سي ځيني کيدای، لکه قاضي ابوالعاس هم په (اخبار ابی حنيفه) کي د عبدالعزيز بن محمد د راوي په سند سره روايت کړی دی، چي امام مالک (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د کتابونو څخه استفاده کړې ده فرمايي: امام مالک (رحمة الله عليه) به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کتابونه کتل او نفع به يې ځيني اخستل.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ليکونو لوستل اهم او ضروري دي، امام شافعي (رحمة الله عليه) فرمايلي دي: څوک چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کتابونه نه ګوري هغه په فقه کي ماهر کيدای نه سي. يو مشهور شيخ يزيد بن هارون (رحمة الله عليه) د يو سوال په جواب کي وايي: که تاسو په فقه کي مهارت غواړی، نو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ليکونه وګوری، ځکه چي ما څوک داسي نه دی ليدلی چي فقيه وي او د هغه کتابونه دي ونه ګوري.

يو وخت امام محمد بن احمد شرطي (رحمة الله عليه) د امام طحاوي (رحمة الله عليه) څخه پوښتنه وکړه: تا د خپل ماما امام مزني (رحمة الله عليه) کم چي د امام شافعي (رحمة الله عليه) په لويو شاګردانو کي وو، ولي دي پريښوول، او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مسلک دي اختيار کړی؟ امام طحاوي (رحمة الله عليه) ورته وويل: ما خپل ماما امام مزني (رحمة الله عليه) ليدلی دی، چي هغه به هر وخت د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ليکونو لوستنه کوله، نو ما هم دغه مذهب اختيار کړی.

د کتاب الاثار شرحي او تعليقونه: د حديثو د نورو کتابونو د علمي خدماتو په لړ کي د کتاب الاثار ته هم لوی خدمت سوی دی، او هغه داسي چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د هر اُستاذ روايتونه را جمع کړل سوي دي، او د مسند امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په نامه يې يو لوی ليک ځيني مرتب کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باره کې شاه عبدالعزيز ليکي: نسبت ددې مسند امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته داسي دی لکه مسند ابوبکر ته چي امام احمد (رحمة الله عليه) ترتيب ورکړی دی، مګر د هغه نسبت ابوبکر ته کيږي. ابو زهره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مسندونو شمير پنځلس (١٥) ښوولی دی، او بل يو مشهور عالم او زاهد عبدالوهاب شعراني چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مسندونو مطالعه وکړه، نو ويې فرمايل: کله چي موږ د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د درې واړو مسندونو مطالعه وکړه، ټول حديثونه صحيح وه.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پر مسندونو باندي نوموړو ډير کار کړی دی، لکه علامه صدرالدين په کښي ترتيب کړي دي او علامه سندي د فقهي بابونه په طرز مرتب کړي دي، وروسته چي په دې مسندونو کي کمي شرحي سوي دي په هغه کي يوه شرحه حافظ زين الدين قاسم ليکلې ده، يوه حافظ جلال الدين سيوطي (رحمة الله عليه) ليکلې ده، چي نامه د (التعليقه المنيفه علي مسند ابی حنيفه) د ملا علی قاري (رحمة الله عليه) شرحه او تنسيق النظام د ابوالحسن اسرائيلي سنبهلي په کښي ډيري مشهوري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ليکنه د احاديثو په باب کښي

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د کوفې په علمي درسګاه کي د فقهي جوړلو، د درس په ورکولو او په تيره بيا د فقهي د بابونو او صحيحو حديثونو يوه لويه ذخيره مرتبه کړه، او خپلو شاګردانو ته يې د درس په شکل وړاندي کړه، مګر د اولنيو خلګو طريقه داسي وه، چي لائقو شاګردانو به د خپلو اُستاذانو تعليمات د درس ويلو په وخت کي ليکل او دغه ليکل به هغو اُستاذانو ته منسوبيدل. د ابن دقيق العيد دا ليک چي (احکام الاحکام) دی، دا د هغه شاګرد قاضي اسماعيل ليکل سوي آثار دي.

همداسي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي احاديث د درس په موقع کښي بيان کړي دي، هغه قاضي ابو يوسف (رحمة الله عليه)، محمد بن حسن شيباني (رحمة الله عليه) ، زفر بن هديل (رحمة الله عليه) او حسن بن زياد (رحمة الله عليه) او داسي نورو... په حدثناً او اخبرناً سره ليکلي دي، چي د دغه درسي افاداتو نوم کتاب الاثار دی، او د دريمي پيړۍ د څلورمي حصې تاليف دی، او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه مخکي چي د احاديثو څونده مجموعې او صحيفې چي وې د هغو ترتيب په فني شکل نه وو، مګر کتاب الاثار د هغه دور اولنی تصنيف دی چي د وروستنيو حديث دانانو د پاره په کښي د ترتيب وار او د باب ايښوولو لاري يې ښوول سوي دي.

په اولو وختونو کي د ټولو علومو، فنونو او حديثو د تدريس او حفاظت دغه طريقه وه، چي شيخانو او اُستاذانو به د درس او تقريرنو په شکل کي کول او شاګردانو به يې خلاصه ليکل، مګر د وخت په تيريدو سره د نورو ايجاداتو په رڼا کي دا طريقه مخ پر ودي سوه، تر دې پوري چي اُستاذانو او عالمانو به خپل روايتونه په خپله ليکل او دا طريقه په ټولو علومو کي مقبوله سوه. علامه محي الدين عبدالحميد هم دا طريقه د تصنيف تاليف او تدريس په لړ کي زياته خوښه کړې ده فرمايي: د حديثو د حاصلولو په طريقه کي تر ټولو لوړه او ښه طريقه دا ده چي راوي د خپل شيخ الفاظ واوري هغه که شيخ د ليک څخه د املاء په توګه وايي او که يي په ياد وايي، مګر د املاء کول په حديثو کي د نه املاء کولو څخه غوره طريقه ده.

کتاب الاثار هم ددې قسم افادات دي او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا طريقه د تصنيف دپاره بې حده قبوله سوې ده، او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاګردانو هم دا طريقه اختيار کړې ده.

کتاب الاثار: د احاديثو د نورو کتابونو په شان ددې کتاب راويان هم ډير وه، نو په دې وجه يې نسخې هم ډيري دي، مګر ددې کتاب د راويانو يعني نقل کوونکو شمير ډير زيات دی، خو دا څلور ليکونه يې تر ټولو ډير مشهوره دي:- ۱: کتاب الاثار په روايت د امام محمد (رحمة الله عليه) سره. ۲: کتاب الاثار په روايت د امام يوسف (رحمة الله عليه) سره. ۳: کتاب الاثار په روايت د امام زفر (رحمة الله عليه) سره. ۴: کتاب الاثار په روايت د امام حسن بن زياد (رحمة الله عليه) سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا په دې څلور نسخو کې ډېره مشهوره او مقبوله نسخه د امام محمد (رحمة الله عليه) ده، چې ددې په باره کې حافظ ابن حجر عسقلاني (رحمة الله عليه) ليکي دي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو څخه يوه نسخه موجود ده چې هغه د امام محمد (رحمة الله عليه) کتاب الاثار دی. حافظ ابن حجر عسقلاني (رحمة الله عليه) د کتاب الاثار په روايانو کې دوه کتابونه ليکلي دي، اولني خو خالصتاً د کتاب الاثار د روايانو سره سم دی چې نوم يې دی: (الايثار بمعرفة رواة الاثار) او دوهم کتاب چې نوم يې دی (تعجيل المنفعة بزوائد رجال الاربعة) په دې کتاب کې حافظ ابن حجر د هغه راويانو حالات ليکلي دي، چې د هغوی څخه څلور سره امامانو په خپلو ليکونو کې روايتونه نقل کړي دي، او په صحاح کې ددې راويانو په حواله څه حديثونه نه دي نقل سوي.

د ابو زهره مصري (رحمة الله عليه) رائي: مشهور حق ويوونکی شيخ ابو زهره مصري (رحمة الله عليه) د کتاب الاثار په هکله ليکلي دي: دا کتاب په علمي توګه په درې خبرو باندي قيمتي دي:- ۱: دا چي دا کتاب د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مروياتو ذخيره ده او ددې څخه موږ ته دا رامعلوميږي، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مسئلو په رايستلو کې حديثونه د دليل په توګه څنګه استعمالول؟. ۲: دا چي دا کتاب موږ ته تعليم راکوي، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د دليل نيولو په موقع د صحابوؤ د فتواو او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د احاديثو څه مقام دی؟. ۳: دا چي ددې کتاب په ذريعه سره موږ ته خصوصاً د کوفې او عموماً عراق د فقهيانو رائي رارسيدلي دي. د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) زمانه چونکې د صحابوو او تابعينو زمانه وه، او د حديثو طريقې تر اوسه پوري دومره خپرې سوي نه وې، څومره چي د امام بخاري (رحمة الله عليه) او د امام مسلم (رحمة الله عليه) په زمانه کې خپرې سوي وې، يعني د يو حديث دپاره به په زرګونو طريقې پيدا کولې، مګر ددې باوجود هم امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د کتاب الاثار انتخاب د څلويښتو زرو (۴۰۰۰۰) احاديثو څخه کړی دی.

د کتاب الاثار انتخاب: په دې لړ کې امام ابوبکر زنجري (رحمة الله عليه) فرمايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کتاب الاثار د (۴۰۰۰۰) څلويښتو زرو احاديثو څخه منتخب کړی دی. حضرت علامه ملا علی قاري (رحمة الله عليه) ليکي: په تحقيق سره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خپلو تصانيفو کې اويازره (۷۰۰۰۰) حديثونه بيان کړي دي، او د څلويښتو زرو څخه يې کتاب الاثار منتخب کړی دی. د يحيی بن نصر (رحمة الله عليه) په يو روايت کې راځي: زه يو ځل د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره په داسي کور کې داخل کې سوم چي ومي کتل نو د کتابونو څخه ماسيوا بل څه په نظر نه راتلل او پوښتنه مي وکړه: دا څه دي؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: دا ټول حديثونه دي او ما لږ حديثونه ځيني بيان کړي دي.

کتاب الاثار او د ابن مبارک (رحمة الله عليه) مدحيه اشعار: د امام بخاري (رحمة الله عليه) شيخ او لوی اُستاذ محدث عبدالله ابن مبارک (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شان او د کتاب الاثار په هکله دا شعرونه په المناقب جلد ۲ صفحه ۱۹۰ کي ويلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



روى آثاره فاجاب فيها    كطيران الصقور من المنيفة
فالم يک بالعراق له نظير    ولا بالمشرقين ولايكوفه

وزني ترجمه:

دومره په تيزئ سره يې آثار روايت كړل    تيزه لكه ښكاري نه چي پاس الوځي مرغان
نه خو عراق نه په كوفه كښي ثاني سته    نه بل په مشرق مغرب كي سته داسي انسان

جامع المسانيد: خصوصاً بيا په دې لړ كي امام ابو الموئيد محمد بن محمود خوارزمي (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ټول مسندونه را جمع كړي دي، او د جامع المسانيد په نامه يې د اُمت مخته د ګلد د دستي او ډالئ په شكل كي يې رامخته كړي دي، خوارزمي (رحمة الله عليه) دا ليک د فقهي د بابونو په ډول ترلي دي، او د خپل ليک په سريزه كي په خپله وايي: ما د شام په علاقه كي د ځينو جاهلانو څخه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په باره كي واوريدل چي هغو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احاديثو شمير ډير كم ګڼلی، او هغه د كم علمي (نعوذ بالله) په هكله يې د لړو احاديثو نسبتونه كول په دې ځای كي هغو د مسند امام شافعي (رحمة الله عليه) او د مؤطا امام مالک (رحمة الله عليه) څخه دليل وايه او د هغو دعوې دا وي چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه داسي مسند يا حديث نسته، بلكي هغه خو يو څه احاديث روايت كړي دي، چي په دې خبره سره مي د غيرت لمنه خلاصه كړه او دا فيصله مي وكړه چي كومو لويو لويو عالمانو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) كم احاديث ليكلي وه دا ټول راجمع كړم.

ددې څخه علاوه ډيرو نورو حديث پوهانو لكه: امام اشرف الدين، اسماعيل بن عيسى مكي، ابو البقاء، احمد بن ضياء، محمد قريشي، حافظ الدين، محمد بن محمد كردري، عمر بن احمد شجاع او داسي نورو امامانو (رحمه الله تعالى عليهم) د جامع المسانيد مختلف قسمه اختصارونه او تعليقونه څيړلي دي او احاديثو خدمت يې په ډول سره كړي دي.

په هر حال منونكو خو ومنل مګر د منكرينو دپاره اوس هم اختيار سته او انشاءالله كه چيري د تحقيق په ميدان كي كيږي، نو صرف او صرف د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په املائي ليكونو كي به د (۷۰۰۰۰) څخه زيات حديثونه د ملغلرو په شكل خواره واره ووينې.

على بن جعد جوهري (رحمة الله عليه) چي د احاديثو لوی امام حافظ د امام بخاري (رحمة الله عليه) او امام ابو داود (رحمة الله عليه) اُستاذ دی، د ده (رحمة الله عليه) قول دی وايي: على بن جعد (رحمة الله عليه) ويلي دي، چي كله به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) حديث لوستی نو هغه به داسي وو لكه لنده ملغلره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بنيادي توګه سره خو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپل وخت په حديث پوهانو او شاګردانو کي حاکم يعني د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په ټولو حديثونو باندي د متن او سند په توګه پوره قدرت درلودونکی ګڼل کيږي، او د حديث پوهي باچاه ګڼل سوی دی، مګر په ظاهره دا سوال پيدا کيږي او پيدا سوی هم دی، چي امام بخاري (رحمة الله عليه) خو د خپل صحيح انتخاب د شپږو لکهو (۶۰۰۰۰۰) څخه کړی دی، يعني په صحيح البخاري کي شپږ لکهه (۶۰۰۰۰۰) احاديث دي او امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په اويازرو (۷۰۰۰۰) حديثونو کي صرف څلويښت زره (۴۰۰۰۰) حديثونه په خپل ليک کتاب الاثار کي را جمع کړي دي.

نو دلته چي د دواړو خبرو ترمنځ چي کمه نتيجه راوځي، دا د حاسدانو دپاره غټه اسلحه ده چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شان په زخمي کيږي، داسي سوالونه او اعتراضونه خو هغه خلګ کوي چي د احاديثو څخه ډېر ليري پاته وي، مګر د احاديثو يو معمولي طالب علمه هم په دې پوهيږي، چي د احاديثو کموالی او زياتوالی په حقيقت کي د سندونو په توګه باندي راځي او د حديث پوهانو په ژبه کي د يو حديث سند چي راوي يې يو وي، نو حديث به يو وي، مګر که هم دغه حديث د بل راوي څخه هم نقل سوي وي، نو حديثونه دوه سوه، نو په هم دې طريقه سره د احاديثو په شمير کي هم زياتوب کوي، مګر خالص احاديث ټوله (۴۴۰۰) څلور زره څلور سوه دي.

د صحيحو احاديثو شمير: امام ابوجعفر محمد بن حسين بغدادي (رحمة الله عليه) په خپل ليک کتاب التميز کي د امام سفيان ثوري، امام شعبه، امام يحيی، امام عبدالرحمن بن مهدي او د امام حمد بن حنبل (رحمة الله عليهم) يو مخيره او متفقه فيصله را نقل کړې ده ليکي: بيشکه! هغه غونډ حديثونه چي صحيح دي او د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) څخه ماسيوا د تکراره نقل دي، هغه (۴۴۰۰) څلور زره څلور سوه دي. د همدې وجه څخه د صحاح نورو امامانو هم د دغه وړاندويني قول ته مايل دي، لکه حافظ عراقي (رحمة الله عليه) د صحيح البخاري څخه مکرارت ايستلي دي او د احاديثو شمير يې څلور زره (۴۰۰۰) ښوولی دی. امام نوي (رحمة الله عليه) هم د صحيح المسلم د روايتونو شمير ښوولی دی، ليکي: په صحيح المسلم کي د مکرر احاديثو څخه علاوه څلور زره احاديث دي. امام زرکشي د سنن ابو داؤد د حديثونو شمير (۴۴۰۰) څلور زره څلور سوه دی ښوولی دی.

د ابن ماجه په هکله علامه ابوالحسن قسطاني (رحمة الله عليه) فرمايي: شمير يې (۴۰۰۰) څلور زره احاديثه دی. نو په همدې خاطر باندي د احاديثو نور ليکونه قياس کيدای سي، مګر اصلي خبره دا ده چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د پيدائښ نيټه (۸۰) اتيا هجري ده، او د امام بخاري (رحمة الله عليه) د پيدائښ نيټه (۱۹۴) يو سلو څلور نوي ده، نو د دوی دواړو تر منځ يو سلو څلورلس (۱۱۴) کلنی نيټه کي به حديث د سوونو څخه تر زرګونو خلګو روايت کړي دي، نو اصل سوال هم ددې ځايه راولاړ سوی دی، د شپږو لکهو او د اويازرو تر منځ هم دغه زياتوالی راغلی دی، چي دې ته د سندونو شمير وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول احاديث د سنن په اعتبار سره (۴۴۰۰) څلور زره څلور سوه دي، زيات او کم نه دي مګر بيا د سندونو په وجه زيات سوي دي، هغه داسي چي کله به رسول الله (صلی الله عليه وسلم) صحابه کرامو ته يو حديث ووايه، نه بيا به هر صحابي هغه صحيح حديث په خپلو محلو کي بيانوی، نو اصل د حديث په يو وو، مګر سندونه به يې جلا جلا سوه، نو په دې وجه د احاديثو شمير زيات سوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حنيفي فقهي جوړول او د فقهي ليکونو پس منظر

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د زماني څخه مخکي نوموتو تابعينو لکه: حضرت علقمه، حضرت اسود، حضرت حماد او حضرت ابراهيم نخعي (رحمة الله عليهم) او دا سي نورو او په صحابوو کي حضرت عبدالله ابن مسعود، حضرت على، حضرت عبدالله ابن عباس، حضرت عائشه صديقه (رضي الله عنها)، حضرت زيد بن ثابت او حضرت ابن عمر (رضي الله عنهما) او داسي نورو ته د حديثو د پوهي سره سم د فقهي مسئلو استنباط او اجتهاد لټون هم په برخه سوی وو، د دوی په وخت کي خو څه احکام او مسئلې د فقهي اجتهاد د غيرۍ څخه زيږدلي وي، مګر هغه لا تدويني شکل ته نه وي رسيدلي او نه د يو جلا فن جوګه وي، او نه لا د استنباط، اجتهاد او مسئلو دپاره کمي خاصي قاعدې ايښوول سوي وي، او نه داسي نور څه اصول وه چي د هغو په رڼا کي دي د حکمونو لټون سوي وای.

د فقهي د فصل راټوکيدل، فقه چي څومره د خپل ستر او لوی نظام د فن په توګه په کوچنيو کوچنيو مسئلو باندي مشتمله وه، نو په همدې اساس په دستوري او قانوني شکل کي لا پوره نه وه، ليکن ډيري مرحلې ترمنځ پاته وي، د هجرت (۱۲۰) کال وو چي هغه وخت د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اُستاذ حماد (رحمة الله عليه) هم رحلت کړی وو، او دا هغه زمانه وه چي د ژوند د ضرورتونو سره سم به په معاملو او عباداتو کي ډيري مسئلې پيدا کيدې، د تعليم د ترقي، د تجارت د کاميابي، د قومي تعلقاتو او د عوامو په معاملاتو کي به د مختلفو مسئلو او فتواو د حل دپاره به د ليري ليري ملکونو او اطرافو څخه به خلګ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته راتلل، مګر دا کار د يو کس کار نه وو او نه چا ددې لوی کار ذمه واري پر غاړه اخيستل امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به په خپله د دولتي قاضيانو او واليانو په فيصلو کي بې حسابه غلطياني ليدلې.

لکه ابن المقنع چي خليفه ابو منصور ته په يو خط کي ليکلي دي: په محکمو کي بې نظمي خپرې سوي دي او مشهور قانون هيڅ نه په کښي مرعاتيږي، ټولي فيصلې قاضيان په خپل عقل سره کوي، او نتيجه يې ډيره ګډوډه وي، او ګډوډ حکمونه پيدا کيږي هغه داسي که چيري د يو قاضي د حکم مطابق په کوفه کي په يو محکمه کي د خلګو د مال او حفاظت خلاف فيصله وسي، نو په بله علاقه کي هم په دغه فيصله سره عمل او حکم کيږي. نو په دې وجه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په زړه کي يو ترون پيدا سو چي د مسئلو او حکمونو کوچني کوچني حصي يې د غټو غټو اصولو سره يو ځای کړې او داسي يو فن يې جوړ کړی چي د قيامت تر ورځي پوري به د روان نسل دپاره د يو دستور په توګه وي، او هره مسئله به په کښي حليږي او دا داسي کار وو چي بغير د اصولو د پيژندګلوی څخه نه سوای کيدای، نو د همدې امله امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته خپل اجتهادي ضمير ور ږغ کړه چي په دغه کار سره يې نيکبخته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علم خاوندانو ته د ذمه واری وینا: د حجاز جوړښت او تجربو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اراده ښه پخه کړه، قرآن کريم، سنت او د صحابوو (رضي الله عنهما) روايتونه يې مخته پراته وه، مګر يو مضبوط قانون نه ځيني محسوسې دی، نو په دې وجه به د يوې مسئلې پوښتلو په وخت کي يا د قضاء په وخت کي به فقهاؤو او قضايانو ته په تولو اړخونو کي د غور او فکر موقعي ډير کمي به ورتلي او د لويو څخه به لوی کمزورياني او غلطياني راتللې، کله چي د بصري مشهور امام قتادة (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فقهي او علمي صفتونو څخه خبر سو، نو کوفې ته يې تشريف راوړی او په هغه مجلس کي چي داير سوی وو، يوه مسئله وځيړله امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د دغي مسئلې پر طرف باندي نظر واچوی او مسئله يې حل کړه، لکه موږ او تاسي چي وايو فلاني د مسئلې بيخ راوباسی، امام قتادة (رحمة الله عليه) چي دا حالت وليدی، نو عرض يې وکړی چي ای ابو حنيفه! داسي کم تقرير دي مخته راغلی، يعني ليدلي دي دی او که د ځانه اخته يې؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: علم لرونکو ته په کار ده په کمو خبرو کي چي خلګ اخته کيږي، د هغو په حل دي مخکي لا خبر وي او مخکي چي د هغې مسئلې د مخ نيوي کم صورتونه دي پر هغه دي فکر وکړي او خدای (جل جلاله) دي نه کړي چي د يوې مسئلې څخه اول خلګ ناخبره وي، نو داسي څه ته دي موقع نه برابره وي، بلکي معلومات ضروري دي چي د داسي مسئلې په هکله د شريعت څه حکم دی او چا ته چي پيښه سوي وي، نو د هغه د خلاصيدو صورت څنګه دی؟ امام قتادة (رحمة الله عليه) چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) جواب واوريدی، نو زړه او ضمير يې فقه خوښه کړه.

د دستوري کميټي غونډه: ښکاره خبره ده چي د اسلامي قانون جوړول او د دستوري حيثيت سره تيارول څومره ضروري کار دی، همدومره د بيري، خوف او احتياط کار هم دی، بيا دغه کار د يو کس د وس خبره نه ده ځکه چي په دې کي د شيطاني وسوسو، شبهاتو، خطاګاني او د ښويدو بيره هم ده، نو په دې وجه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اسلامي شورائي نظام جوړولو په ترڅ کي د اسلامي شريعت قالبي ضابطو سازولو دپاره د دستوري کميټي يعني د مجلس شورا تر سره کړه او ددې مجلس شورا د چاپيريال دپاره يې صدر مقام کوفه غوره کړه، ځکه چي کوفه هغه وخت د عربانو، عجميانو، فقهاوؤ او عالمانو د تلو راتلو لوی مرکز وو، ورځ په ورځ نوي مسئلې راتللې او هر قسم واقعات به پيښيدل د تهذيب او تمدن زور وو، نو ډيري مسئلې به د عامو ضرورتونو او حاجتونو په لړ کي مخته راتللې او د اسلامي قانون جسد خو لا پوره سوی نه وو، نو ژر تر ژره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې لوی کار دپاره يې غيرہ راتاو کړه، او د کوفې ښار يې ددې کار دپاره غوره کړی، او د غونډي اهل کارانو خپل کار په شوق او ذوق سره شروع کړی.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپل مذهب دپاره باقده شورائي غونډه رابللې وه، او ددې غونډي د مشورې څخه ماسيوا يې د ځانه مسئله نه بيانوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تدويني غونډي شريکان: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تذکره نګارو، د فقهي ماهرينو او د تاريخ مشهورو روايانو ددې غونډي د غړو شمير (۴۰) څلويښت ښوولی دی. امام طحاوي (رحمة الله عليه) او اسد بن فرات (رحمة الله عليه) دوی دواړو په يوه روايت سره ويلي دي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هغه شاګردان چي د فقهي په جوړولو کي يې برخه اخيستي وه، د هغو شمير (۴۰) څلويښت وه او دا داسي غړي وه چي هر يوه ته پر اجتهادي امورو باندي ښه قدرت حاصل وو. امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شوارئي مجلس د احتتام په موقع ټولو غړو ته په تقرير کي وفرمايل: په تاسو کي څلويښت کسان داسي دي، چي هر يو د قضاء د عهدې قابل دي او بيا په تاسو کي لس کسان داسي دي، چي هغوی صرف قاضيان نه بلکي د قاضيانو اُستاذان هم جوړيدای سي.

يوازي دا نه وه بلکي د فقهي د پوره والي په لړ کي چي د ځومره علمونو او د فنونو ضرورت وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې شورائي مجلس په جسد کي هغه کسان کښينولي وه، چي هغوی د علم او فن ښه مهارت لرونکي وه، لکه امام محمد (رحمة الله عليه) ته چي د عربي ژبي په ادبي علم کي پوره کمال حاصل وو، قاسم بن معين (رحمة الله عليه) هم د ادبي علم منل سوی اُستاذ وو، په استخراج او استنباط کي امام زفر (رحمة الله عليه) هم ماهر وو، قاضي ابو يوسف (رحمة الله عليه)، داود طائي (رحمة الله عليه)، يحيی بن ابي زائده (رحمة الله عليه)، عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) او حفص بن غياث (رحمة الله عليه) ته د حديثو په روايتي فن کي پوره مهارت حاصل وو، چي په هغه وخت کي دوی لوی لوی اُستاذان بلل کيدل. ددې شورائي مجلس د څلويښتو (۴۰) غړو څخه علاوه په يو بل شورائي مجلس کي (۱۲۰) يو سلو شل نور غړي هم وه، دوی به د مسئلي آخري حد ته رسيدل او د هغې نتيجه به يې رايستل او عوامو ته به يې وړاندي کړه، په دې مجلس کي عبدالله ابن مبارک (رحمة الله عليه)، ابو يوسف (رحمة الله عليه)، امام زفر (رحمة الله عليه)، يوسف بن خالد (رحمة الله عليه) او په خپله امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هم شريک وه.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې غونډي د غړو د علمي پوهي، قابليت او د تکړه والي اندازه د مشهور محدث حضرت وکيع بن جراح (رحمة الله عليه) د بيان څخه ښه معلوميږي او هغه داسي چي يو کس د هغه په وړاندي وويل: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په فلانۍ مسئله کي غلطي سوې ده، ددې خبري په اوريدو سره وکيع را ولاړ سو او ويې فرمايل: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه هيڅکله غلطي نه سي کيدای، ځکه چي د هغه په مجلس کي راسخوالی دی، چي د هغو په مجلس کي د علم او تحقيق نوموړي غړي لکه: قاضي ابو يوسف (رحمة الله عليه) دي، چي د هغه لاس په قياس غزيدلی وو، يحيی بن ابي زائده (رحمة الله عليه)، حفص بن غياث (رحمة الله عليه)، حبان او مندول غوندي عياض د احاديثو حافظان د قاسم بن معن غوندي د عربي ماهر او د فضل بن عياض غوندي کسانو ناسته او ولاړه کول چي هر طرف ته به يې آوازې وي، نو د يو چا په برخه چي داسي ملګري سي د هغه څخه به څنګه غلطي کيدای سي؟ او که چيري په کمه مسئله کي غلطي وسي، نو سمدستي يې دغه نامور ليري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وکيع (رحمة الله عليه) د بيان څخه چي ددې غونډي د غړو څومره قابليت معلوميږي، دا خبره دومره څرګندوي چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته څنګه ددغه ماهرينو د غونډي برخه په نصيب سوې ده، او همداسي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د نړدي زمانې خالص علمي ماحول هم په نصيب سوی دی، د اسلامي تعلماتو په رڼا کي چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته څومره لوړه درجه، پوهه او اجتهاد په نصيب سوی دی، ددې په وجه ټول اُمت د هغه د مرتبې قدر او عزت کوي او په داسي عظيم محسن شخص باندي د تهمتونو او اعتراضونو لګول د هغه سره دوښمني ته ملا تړل او يو ستر جهالت دی.

لنډه دا چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په رهبري کي د دغه لويو لويو فقهيانو چي د خپلي زمانې اُستاذان وه، څه کم زيات شمير (۳۰) کلونه د اسلامي د ستوري جسد په جوړولو کي تير کړي دي، يعني يو سلو يويشت (۱۲۱) هجري کال څخه تر يو سل پنځوس (۱۵۰) هجري کال پوري دا کار روان وو، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د هغه د ملګرو يو متفقه کارنامه ده، اسلام خو څه کوي چي په غير اسلامي تاريخونو کي هم ددې مثال نه موندل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فقهي جوړول د ټولو امامانو دپاره نمونه ده**

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په نګراني د شرعي ائين ترتيب او جوړول په ټول اُمت کښي لومړی قدم وو، د همدې وجهي څخه پر دې باندي اول نظر اچول سوی دی، مګر بيا په کراره کراره سره نورو امامانو هم دا ضرورت محسوس کړی دی، او داسي هيڅ يو امام نسته چي د هغه فقه دي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د طريقې څخه دي نه وي جوړه سوې، نو دا به ووايو چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د اسلامي دستور د شکل په جوړولو کي د غرضونو زيات سبقي اُستاذی مقام حاصل دی.

د دستور جوړولو طريقه: د ټولو امامانو په فقهي ذخيرو کي صرف حنفي فقه د داسي مقام جوګه ده چي د يوه او دوو نفرو په رائي نه ده جوړه سوې، بلکي د څلويښتو (۴۰) عالمانو د شورائي مجلس د کوښښونو سره د ترتيب په مرحلو کي تيره سوې ده، د موفق مکي د وينا مطابق د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مسلک شورائي مسلک دی.

اسد بن عمرو (رحمة الله عليه) فرمايي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خدمت کي به اول د يوې مسئلې ډېر صورتونه وړاندي سول پر هغو ټولو د غور او فکر کولو څخه وروسته چي به کم جواب ډېر قوي وو، هغه به يې خاص کړی په همدې طريقه به يوه مسئله تر درو ورځو پوري تکراريدل او ددې څخه وروسته به د مسئلې حل ليکل کيدی.

اسد بن عوام په خپل سند سره چي دا سند تر اسد بن الفرات (رحمة الله عليه) پوري رسيږي دا هم نقل کړي دي: کمه مسئله چي به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ملګرو د ډېرو جوابونو څخه په نخښه کړه او د يوه جواب به جلا جلا وو، بيا به يې امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته وړاندي کړه چي هغه خپله هم پيش کړي، نو په عام طور سره به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) جواب مسئلې ته نژدې وو، بيا به پر دغو ټولو جوابونو بحثونه کيدل او تر درې ورځو پوري به جاري وه، په آخر کي چي به کم جواب صحيح ثابت سو، نو هغه به يې د حنيفي فقهي په ثبت کي ليکي.

حميري وينا ده چي وايي: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاګردانو به ددې غونډې په اجلاسو کي پر بيلا بيلو مسئلو باندي بحثونه کول، مګر کله چي به قاضي عافيه بن يزيد موجود نه وو، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به فرمايل: د هغه تر راتګ پوري مسئله وځنډوی، او کله چي به هغه تشريف راوړی، نو د نورو جوابونه به يې خوښ او غوره کړل وروسته به بيا امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) حکم وکړی چي دا مسئله ښه معلومه کړي او تر کمه وخته چي به د حقيقت مرحلو ته نه وه رسيدلې نو نه به يې ليکل.

دا يې بل ښه والی وو، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به د غونډې شريکانو ته د خپلې رائي منل به پر دوی په زور سره نه وه، بلکي هر يوه آزادي درلوده چي خپله رايه په خوشحالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره پيش کړي او بيا به وروسته ښه غور او فکر پر کيدی، که به مسئله صحيح ثابته سوه نو دغه مسئله به قبليدل، او که به صحيح ثابته نه سوه نه به قبليدل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي خپل شريکان څومره د آزادي په دايره کي پريښي وه، ددې واقعي څخه معلوميږي، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تذکره نګارو نقل کړې ده، الجرجاني فرمايي: زه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره په فقهي غونډه کي ناست وم، چي په دغه حلقه کي يو ځوان هم ناست وو، هغه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو مسئله وپوښتله، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د هغې مسئلي جواب ورکړی، ما ورته کتل چي د جواب د اوريدو سره سره يې امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته وويل: تا غلطي وکړه، جرجاني وايي: د ځوان دا خبري مي واوريدې، نو حيران پاته سوم ژر ولاړ سوم او د غونډي شريکانو ته مي وويل: دا ډيره د حيرانتيا خبره ده چي تاسو د خپل شيخ احترام نه کوی، ما لا دا خبره نه وه پوره کړې، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: ته دا خلګ پريږده ځکه چي دوی ما پخليه د خپل ځانه پريښي دي.

کله کله به پر بعضي مسئله باندي دومره تکراريدنه کيدله چي مياشتي مياشتي به پر تيري سوې، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به چپ ناست وو، د کار کوونکو تقريرونه، دليلونه او دقيقي نکتي به يې اوريدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) فقهي ليكونه

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دستوري غونډي پوره (۳۰) ديرش كاله پرله پسې دا كار مخته بيوى او اسلامي قانون يې جوړ كړى، دا د ليكونو په لړ كي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ليكونو په نوم يادېږي، په دې مجموعه كي درواتيا زره (۸۳۰۰۰) دفعي وي، كله چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د كوفې څخه د بغداد بنديخاني ته واستول سوو، بيا هم د فقهي د جوړښت كار جاري وو، د امام محمد (رحمة الله عليه) تعلق هم د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره تر دې ځايه سوى وو، چي د زياتوالي څخه وروسته په دغه جسد كي ټولي مسئلې د (۵۰۰۰۰۰۰) پنځوسو لكو شمير ته رسيدلي دي. په دې وجه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) فقهي ليكونه په ټوله دنيا كي مشهور او قبول سول او دغه نسخې په ولايتونو كي د دولت په محكومو كي پر قاضيانو ومنل سوې، تر څو واليان او قاضيان ژر تر ژره فائده ځيني ترلاسه كړي.

يحيى بن آدم (رحمة الله عليه) فرمايي: خليفه ګانو، امامانو او حكماؤو به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په جوړه كړل سوي فقه فيصلې كولې او په دغو به يې حكم كوى.

د اسلامي دستور د جوړښت په لړ كي چي كم ليكونه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په نامه دي د هغو تفصيل دا دى:-

۱:- جامع الصغير: دا ليک امام محمد (رحمة الله عليه) د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) د روايتونو څخه يو ځاى كړى دى، او ددې ليک (۴۰) څلويښت شرحي ليكل سوي دي.

۲:- جامع كبير: ددې ليک د مسئلو شمير د جامع الصغير څخه ډير دى، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اقوالو څخه علاوه د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) او د امام زفر (رحمة الله عليه) اقوال هم په كښي موجود دي، او دا يې هم امام محمد (رحمة الله عليه) ته مرتب كړي دي، دا ليک يو نصراني ولوستى نو سمدستي يې ايمان راوړى او دا يې وويل: ګورى! د مسلمانانو د كوچني محمد (رحمة الله عليه) دا حال دى، نو د لوى محمد (صلى الله عليه وسلم) به يې څه حال وي.

۳:- مبسوط: دا ليک د امام محمد (رحمة الله عليه) لومړى تصنيف دى او د اصل په نوم سره مشهور دى.

۴:- زيادات: په دې ليک كي هغه مسئلې سره راټولي سوي دي، چي په جامع صغير او جامع كبير كي نه وي ذكر سوي.

۵:- السير الصغير: دا ليک د حكومت، سياست او جهاد پر مسئلو باندي مشتمل دى.

۶:- السير الكبير: دا د امام محمد (رحمة الله عليه) تر ټولو وروستى كتاب دى، د امام محمد (رحمة الله عليه) د ژوند پر حالاتو ليكل سوى دى، چي امام محمد (رحمة الله عليه) يوروپيانو ښځو ته چي مينځي يې وې، د عربي ژبي د ليک او د كتابت تعليم وركړى وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابوالفضل محمد بن احمد مرزوي (رحمة الله عليه) چي د حاکم شهيد په لقب سره مشهوره دی، ددې ټولو ذکر سوو کتابونو د مسئلو څخه يو غټ کتاب ليکلی دی چي نوم يې کافي دی، امام سرخسي هم په ديرشو جلدونو کي ددې شرحه ليکلې ده، چي د مبسوط په نامه سره ياديږي.

د نادر الرويه کتابونه: د پورته ذکر سوو کتابونو څخه علاوه د امام محمد (رحمة الله عليه) نورو فقهي کتابونو ته نوادرات ويل کيږي، چي دا په کيسانيانو، جرنيانو، هارونيانو، امالي، امام محمد (رحمة الله عليه) او نوادر ابن رستم او داسي نورو باندي مشتمل دی او ددې څخه علاوه چي څومره ليکونه امام محمد (رحمة الله عليه) يا امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) ليکلي دي، لکه: کتاب الاثار او کتاب الحج، اختلاف ابی حنيفه (رحمة الله عليه)، ابن ابی ليلی، الردعلي سيرالاوزاعي، مؤطا امام محمد (رحمة الله عليه) او کتاب الاثار د ابو يوسف (رحمة الله عليه)، پر دې ټولو باندي د نوادرانو اطلاق کيږي.

د اسلامي شورائي مجلس جسد ته چي په سيمه کي څومره معاملې مخته راتلې دا به علماؤو او فقهاؤو د حنفي فقهي په رڼا کي حلولې او دا قانوني لړۍ هم داسي روانه وه، تر دې پوري چي مسلمانانو ته د مځکي په لويه حصه کي د زرګونو کلونو د حکمرانۍ موقعې برابري سوې، الحمدالله چي هغه ټولي حکمرانۍ اصلاً يا ضمناً زياتره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فقهي آئين مطابق مسئلې حلولې، په هر حال تر اوسه چي فقهي او دستوري قوانين چي په ټوله نړۍ کي کار ځيني اخيستل کيږي دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مشتقاتو او صدقې څخه به د قيامت تر ورځې پوري استفاده کيږي، او د فقهي دا جوړه سوې ذخيره د انسانانو دپاره نيغه لار ده، ډير انسان پر همدې لاره باندي تللي دي او آئينده هم که څوک غواړي چي سيده پر لاره ولاړ سي، نو دغه لار دي تعقيب کړي.

باقي دري مذهبونه هم د حنفي فقهي د لاري مل او ملګري دي، که چيري د حنفي فقهي لاره بنده پاته سوي وای، نو تر نن ورځې پوري به دا درې مذهبونه د يو جسد په شکل نه وای راغلي، مګر حقيقت دا دی چي صرف حنفي فقه هم نه بلکي نن صبا چي څومره فقهي ذخيرې د مسلمانانو سره دي هغه که حنبلي فقه ده، که شافعي فقه ده، او که مالکي فقه ده، د ټولو اساس د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اصولو څخه دي، ددې دپاره الله سبحانه وتعالی امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته داسي حکمتونه او صلاحيتونه ورکړي وه، چي هم ورته په خپله د تدويني کار پوهه په نصيب سوې وه، او هم ورته داسي ملګري په نصيب سوي وه، چي ټول د کار او د صلاحيت خاوندان وه، په اصل کي د اسلامي فقهي کرنه، ريښه د تاريخ يوه بنيادي مسئله ده.

ابو اسحاق شيرازي (رحمة الله عليه) په طبقات الفقها کي او ابن خلکان په تاريخي ليک کي ددې خبري وضاحت کړی دی، مګر موږ د خپلي دعوې د دليل په توګه يو لنډ مثال د امام مالک (رحمة الله عليه) د تاريخي منظر د ليک سره را نقل کوو، چي د هغه کتاب د الاسديه په نامه سره دی او مرتب کوونکی يې د امام مالک (رحمة الله عليه) يو خاص شاګرد اسد بن فرات دی، چي د مغربي افريقا څخه د امام مالک (رحمة الله عليه) دربار مديني منوري ته حاضر سوی وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي حده ذهين او تيز دماغه وو، د امام مالک (رحمة الله عليه) څخه به يې بيلا بيل سوالونه کول امام مالک (رحمة الله عليه) چي د ده ذيراکت او ذهنيت وکتى، نو يې وفرمايل: که ته د فقهي سره زوق او شوق لرې، نو په عراق کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاګردانو ته ځان ور ورسوه، اسد چي د عراق په لور ولاړى، نو هلته يې د ځان دپاره امام محمد (رحمة الله عليه) د اُستاذ په توګه وټاکى، امام محمد (رحمة الله عليه) چي د ده علمي جزبه وليدل، نو فقه يې داسي پر وڅځول لکه څنګه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ده ته يې ټول قوانين وربښوولي وه، بيا دى مصر ته ولاړى او هلته يې د امام مالک (رحمة الله عليه) د خاص شاګرد ابن قاسم څخه د حنفي مذهب په رڼا کي سپيڅلي فتواوي جمع کړې، ددې څخه وروسته اسد په خپله د دومره صلاحيت خاوند سوو، چي سوالونه به يې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د کتابونو څخه راخيستل او د خپل اُستاذ څخه به يې پوښتل ابن قاسم په ورته د امام مالک (رحمة الله عليه) د خندونکو خبرو په رڼا کي جوابونه ورکول او اسد به ليکل، همداسي يې د امام مالک (رحمة الله عليه) اجتهادات راجمع کړل کتابي شکل يې ورکړى، چي اول نوم يې الاسديه وو، وروسته يې بيا د سحنون مالکي د مدونه امام مالک (رحمة الله عليه) په نوم سره ونوموى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) علمي لټون، زيرکتيا، مباحيث، مناظر او ربښتني ويناوي

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي د فقهي اجتهادي مسئلي او حکمونه په رايستلو کي د مجتهديت، امامت او متبوعيت يعني تابعي کيدلو څومره لوی مقام لاسته راوړی دی، دا د ده (رحمة الله عليه) د قوي حافظې، زيرکتيا او د جوهري پوهي برکت دی، او د الله (جل جلاله) ورکړه او عطاء ده، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته الله (جل جلاله) کمه حافظه او علمي استعداد ورکړی وو، ددې استعدادنو په برکت سره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پر تفسير، حديث، فقه، اصول فقه، علم کلام، علم تاريخ، علم آثار، علم رجال، علم لغت او علم نحو باندي دماغي لمن خپره کړي وه، چي په هغه وخت کي د موادو او ماخذو شکل کي داسي يوه ذخيره سمباله کړي وه، چي بيا يې د خپل علمي کره والي، د مسئلو دپوره والي، د فقهي سازوالي، تربيتي جوړوالي او بحثي تکړه والي کي د دغه ذخيرې تخمونه داسي وپاشل لکه يو تکړه غازي چي د خپل طرف څخه مقابل لور ته غشي اوروي، دا خبره مخکنيو، منځنيو او وروستنيو ټولو خلګ منلې ده، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د قوي حافظې، قوي پوهي او بي شانه زيرکتيا خاوند وو، د خپل وخت تر ټولو زيات حافظ الحديث او د لويو لويو امامانو اُستاذ وو، او داسي حافظه يې وه، چي په يو خبره هم نه شاه ته کيدی.

د دليل نيولو او حکم کولو درې اړخيز صورتونه: د ازلي سخاوت د اړخه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته په فطري توګه د مسئلې پر هر اړخيز صورتونو باندي سوچ او فکر کولو، حکم کولو او د طريقو بدلول بيا د هري طريقې دپاره د دليل نيول او ځان ساتلو په لړ کي ناآشنا او قوي پوهه په نصيب سوې وه، دا خبره به د لانديني واقعې څخه څرګنده سي، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د آياتونو او احاديثو څخه تر ټولو ډير دليلونه رايستلي دي، امام مالک (رحمة الله عليه) چي څه ليدلي دي ډير صحيح يې ليدلي دي او کمه خبره چي يې را رسيدلې ده صحيح ده چي فرمايي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو داسي نوموړی شخص دی، که پر دي خبره دليلونه راوړل وغواړي چي دا مخامخ ستن د سروزرو ده، نو د خپلو دليلو په زور سره به يې زر ثابت کړي، په هر حال د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) نظر دومره ليري او ژور وو، چي په هره مسئله کي يې حکمي طريقې په جلا جلا طرزونو جوړول.

د شيخ مصطفى حسن سباعي (رحمة الله عليه) په مشهوره ليک (السنت وماکانتها فى التشريع الاسلامي) کي د محمد بن حسن (رحمة الله عليه) په خپل روايت سره نقل کړل سوې واقعه دا ده: کله چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شاګردان خبر سول چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بغداد ته راځي، نو ټول شاګردان چي ابو يوسف (رحمة الله عليه)، زفر (رحمة الله عليه)، اسد بن عمر (رحمة الله عليه) او ددې څخه علاوه په کبني کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) زاړه شاګردان او فقهيان هم موجود وه، را ټول سول او داسي مشوره يې وکړه، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته دي داسي مسئله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندي کړل سي چي د هغې مسئلې جواب امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) را نه کړای نه سي، لنډه دا چي يوه مسئله يې وټاکله او د هغې مسئلې دپاره يې ناآشنا دليلونه پيدا کړل په خپلو مينځو کي په خبرو اترو اخته وه داسي يوه طريقه يې غوره کړه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته به دا مسئله وړاندي کړو، او په دليل به يې لاس په کار سوو، تر څو پوري چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) جواب را نه کړای سي.

کله چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) و درسي حلقې ته تشريف راوړی، اول هغه مسئله چي دوی ورته اماده کړې وه رد يې کړه او د هغې جواب يې په بل ډول ورکړی، شاګردانو غوغا جوړه کړه د غونډي هر طرف ته آوازونه پورته سوه، او ويې ويل: ای امام اعظم ابوحنيفه! دا په تا څه وسول سفر ستړی کړی يې که څنګه؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: چپ سی د نرمي څخه کار واخلی د نرمي څخه، ددې شورماشور او غوغا څخه هيڅ په لاس نه درځي، ښه دی واياست تاسو څه ويل غواړی؟ هغوی وويل: ددې مسئلې جواب دا نه دی، کم چي تاسو راکړی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: تاسو په دليل سره اخته ياست که بې دليله؟ هغوی وويل: د دليل سره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: ښه په دا وي چي تاسو خپل دليل بيان کړی؟ لنډه دا چي په مناظره باندي اخته سول، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دومره دليلونه بيان کړه، چي خپله مسئله يې پر ومنل او د هغو سره يې دا احساس پيدا کړ، چي واقعاً زموږ خبري غلطي دي، بيا امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وفرمايل: اوس تاسو ته د خپلي مسئلې جواب صحيح معلوم سو که يا؟

ټولو په يوه صلاح سره وويل: هو صاحب! بيا امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: اوس تاسو د هغه کس په هکله څه واياست چي هغه ستاسو مسئلې ته صحيح او زما جواب غلط بولی؟ ټولو په يوه صلاح سره وويل: داسي هيڅکله نه سي کيدای، ځکه چي ستا جواب په قوي دليلونو سره ټاکل سوی دی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مناظره ورسره شروع کړه او په هغو يې د هغوی د جواب غلطي ومنله، بيا ټول په زاری کول سره ولاړ سول او وويل: ای امام اعظم ابوحنيفه! تا خو زموږ سره ډيره غټه بې انصافي وکړه، ځکه چي زموږ خبره حقه وه، مګر تا غلطه کړه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بيا پوښتنه وکړه: تاسو د هغه چا په هکله څه واياست چي هغه دا دواړه جوابونه رد کړي او دريم جواب ته هرکلی ووايي، ټولو په يوه صلاح سره وويل: دا هيڅکله نه سي کيدای چي دواړه جوابونه دي غلط وي، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: ښه نو وايه وری چي دريم جواب ځاني ورته جوړ کړو، وروسته بيا په مناظره اخته سول او دا جواب يې هم داسي په دليلونو وټاکی هغو ومنی، بيا ټولو په سره سينه سره عرض وکړی: ای ابوحنيفه! د خدای (جل جلاله) دپاره موږ ته ددې مسئلې حقيقت واضح کړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مسئلې په وضاحت اخته سوو، دوی ته يې وفرمايل: ګوری د فلاني او فلاني دليل په وجه اول جواب صحيح دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي تاسو ته مي وړاندي کړی وو، دا خبره مي په دې خاطر وځندوله چي په دې کي مي مقصد دا وو چي دا مسئله درې اړخیزه ده، یعني په دغو درو صورتو کي ټاکلې ده، او هر صورت یې په دلیل سره ثابت دی نه دا چي په عقل سره، نو خامخا په بعضي مذاهبو علماؤو یو صورت ځیني غوره کړی وي، مګر صحیح جواب هغه دی چي اول مي درته بیان کړی، نو په دغه جواب کي زما د پاتو جوابونو تعبداري مه کوی.

قاضي ابن ابي لیلی (رحمة الله علیه) سمدستي پر خپله خبره بیرته پښیمانه سو: عبدالرحمن ابن ابي لیلی (رحمة الله علیه) د کوفې د ښار یو لوی قاضي القضات او فقیه تیر سوی دی، چي درو دیرش (۳۳) کاله یې د قاضي په حیث وظیفه کړې ده، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) یو همسایه دربار ته حاضر سوو، چي د یو سړي د باغچې په لړ کي یې شاهدي ورکوله، نو قاضي ابن ابي لیلی (رحمة الله علیه) پوښتنه ځیني وکړه: ویل ښه ته دا راته ووایه چي د کمي باغچې په لړ کي چي ته شاهدي ته ورکوې، په هغه کي څونده درختي دي؟ شاهد ته خو دا نه ورمعلومیده چي څونده درختي په کښي کي دي، قاضي یې شاهدي منظوره نه کړه، دغه کس د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) همسایه هم وو، بیرته چي راغلی امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته یې ټوله کیسه وکړه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وفرمایل: بیرته ورسه او د قاضي څخه پوښتنه وکړه: چي ته د کوفې په مسجد کي د شلو (۲۰) کالو راهیسي فیصلې کوي، نو ته دا راته ووایه: چي ددې مسجد د ستنو شمیر څونده دی، قاضي صاحب ددې خبري په اورید سره ډیر شرمنده سوو، پر خپله خبره سمدستي پښیمانه سوو، شاهدي یې ور قبوله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) احتياط په فتوا ورکولو کښي

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به تر خپله وسه پوري پر يو مؤمن باندي د کفر فتوا نه ورکول او د ډېر احتياط څخه به يې کار اخستی، د فتوا ورکولو په وخت کي به يې د تقوا څخه هم ډېر کار اخستی، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مسلک دا وو که به چيري په يوه مسلمان کي (۹۹) نه نوي فيصده خبري د کفر ثابتي سوې او يو فيصد خبره به د ايمان په کښي ثابته سوه، نو داسي کس ته به يې کافر نه ويل او نورو ته به يې هم دا توصيه کول چي داسي څه کول په کار نه دي، چي څومره کيدای سي د مؤمن غوندي سلوک دي ور سره وسي.

په دي اړه يوه واقعه چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په تذکره نګار کي ليکل سوې ده او په ګڼو کتابونو کي هم راغلي ده، بيان يې په دې ډول دی: يو سړي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) حلقي ته راغلی عرض يې وکړی: حضرته! يو سړی دی د ايمان او اسلام دعوه کوي، او ځان ته مسلمان هم وايي، مګر پر دې باوجود داسي وايي:- ۱: د جنت طمع نه لري. ۲: د جهنم څخه نه بيريږي. ۳: مرداري بې دريغه خوري. ۴: لمونځ کوي مګر رکوع او سجده نه په کښي کوي. ۵: شاهدي ورکوي مګر څه يې نه وي ليدلي. ۶: فتنه خوښوي مګر حق نه خوښوي. ۷: د الله (جل جلاله) د رحمت څخه تښتي. ۸: د يهودو او نصاراوو خبري حق بولي...

په ظاهره خو دا خبري د کفر دي او په ده کي دا خبري موجودي دي، نو ددې سړي په هکله ستا رايه څه ده، که دا په اوسني زمانه کي وای دومره د کفر فتواوي به پر ورکول سوي وای، چي حد به يې معلوم نه وای، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بيشک او شبهي څخه يې ددې سوال جواب داسي ورکړی: زما په نزد خو دا سړی مؤمن دی، سوال کوونکي حيران سو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: دی ځکه مؤمن دی:- ۱: دی د الله (جل جلاله) څخه لري دی دومره مينه د الله (جل جلاله) سره لري چي دغه ميني دی د جنت څخه بې پروا کړی دی.۲: دب د جهنم د اور څخه نه بيريږي، ځکه چي دی د الله (جل جلاله) څخه بيريږي.۳: که مرداري خوري نو د ماهي په صورت کښي. ۴: دغه کم لمونځ چي دب د رکوع او سجدې څخه ماسيوا کوي هغه د جنازي لمونځ دی. ۵: نا ليدلي شاهدي په دې خاطر ورکوي، الله (جل جلاله) او محمد (صلی الله عليه وسلم) مني، مګر ليدلي يې نه دي، ددې با وجود کلمه هم وايي. ۶: فتنه داسي فتنه خوښوي لکه الله (جل جلاله) چي فرمايي: اولاد او دنيا دواړه فتنه ده، او ددې دواړو سره انسان فطري مينه او محبت لري او بل خو مرګ حق دی، نو دی ځکه مرګ نه خوښوي چي ډېر عبادتونه او نيکی جمع کړي. ۷: باران د الله (جل جلاله) رحمت دی نو دی د باران څخه ځکه تښتي چي کالي يې لانده او خراب نه سي. ۸: د يهودو دا خبره (ليست النصاری علی شئ) او د نصاراو دا خبره (ليست اليهود علی شئ) حقه ګڼي، ځکه چي دا حق ګڼل عين ايمان دی. سوال کوونکي او نورو ناستو خلګو چي دا جواب واوريدی، نو د حيرانتيا په وجه يې خولې وازې او خلاصي پاته سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام عمش (رحمة الله علیه) یو خبره کړي وه حلولای یې نه سوای، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ور حل کړه: امام عمش (رحمة الله علیه) یو مشهور تابعي دی او په سترو محدیثینو کي شمار دی، اصلي نوم یې سلیمان دی په ۶۱ هجري کال کي زیږدیدلی دی او په ۱۷۴هجري کال کي وفات سوی دی، د داسي حافظې خاوند وو چي (۴۰۰۰) احادیث به یې په یاد بیانول کتاب او داسي نور څه به نه وه ور سره، دی د صورت په لحاظ بې ډوله وو، عمش ځکه ورته ویل کیده چي په سترګو کي یې خړوالی وو، ډیره ښایسته ښځه یې درلوده چي دې ښځي به یې په خپل ښایست فخر کوی پر مازي څه به یې د امام اعمش (رحمة الله علیه) سره جنجال کوی، بیله جنګه یې بل کار نه وو، رنګا رنګ بهانې به یې جوړولې، په دې کار سره یې د امام اعمش (رحمة الله علیه) څخه د خلاصون یعني جلاوالي طمع کول، یو ورځ ماخستن مهال پر یوه خبره د دواړو سره دعوه سوه، خبره مشکله سول ښځي یې خبري ور سره بندي کړې، امام اعمش (رحمة الله علیه) ډیر کوښښ وکړی مګر دې خبري نه ورسره کولې، لنډا دا چي امام اعمش (رحمة الله علیه) په غصه کي داسي قسم واخیستی که چیري ته نن شپه ته زما سره خبري ونه کړې، نو ته زما څخه جلا یې یعني بائن طلاق یې ورکړی، امام اعمش (رحمة الله علیه) خو دا خبره د قهر په خاطر وکړه، مګر کله چي یې اولادو او کورنۍ ته وکتل ډیره پښیمانه سوو، ددې مسئلې د حل دپاره یې یوې او بلې خوا ته فکر وکړی، مګر حل یې نه کړه، اخیر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته ورغلی ټوله کیسه یې ورته وکړه هغه ور ته وویل: هیڅ فکر مه کوه دا مسئله ډیره اسانه ده، ته داسي وکړه چي د محل په مسجد کي به د سهار آذان د وخت څخه د مخه وکړی، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د ده د محل د مسجد مؤذن ته ورغلی ددې کس ټوله کیسه یې ورته وکړه، مؤذن ته یې وویل: ته د سهار آذان د وخت څخه د مخه وکړه، مؤذن هم د سهار آذان د وخت څخه د مخه وکړی، د امام اعمش (رحمة الله علیه) ښځه په دې انتظار وه، چي د سهار آذان به کله واورم چي د ده څخه نوره خلاصه سم، د آذان په اوریدو سره یې وویل: د خدای (جل جلاله) شکر دی چي نن ددې سپین ږیري څخه آزاده سوم، مګر امام اعمش (رحمة الله علیه) وویل: د خدای (جل جلاله) شکر دی چي مؤذن د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) خبره ومنله او زما ماته سوې رشته یې بیرته سره را جوړه کړه.

عجبه ده چي جنب سړی دي ولمبیږي، مګر طلاق دي نه واقع کیږي، ډیره په زړه پوري واقعه ده: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په خدمت کښي یو سړی حاضر سوو، عرض یې وکړ: امام صاحب! ما ته یوه سخته مسئله را پیښه سوې ده، که ولمبیږم ښځه راباندي طلاقیږي او که ونه لمبیږم، نو الله (جل جلاله) را څخه خفه کیږي، ځکه چي ما قسم اخیستی دی که چیري ما د جنابت غسل وکړی، نو پر ما دي ښځه په دري طلاقه طلاقه وي، اوس زه څه وکړم د خدای (جل جلاله) دپاره یوه د حل لاره راوښیه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) سړی تر لاس ونیوی په خبرو یې اخته کړی او پر لاري یې راون کړی، د یو ویالي پر غاړه یې تیره وط چي د پله سر ته یې ورسوی ناڅاپه یې ډیکه کړی ویالي ته یې وروغورځوی، سړی د سر څخه تر پښو پوري لوند سوو، وروسته بیا امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د ویالي څخه را وایستی او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهم لمبيدلي او الله (جل جلاله) هم در ځخه راضي سوو، او ښځه دي هم درباندي طلاقه نه سوه. زموږ د احنافو مسلک دا دی چي پر ټول بدن اوبه اچول خولې او پزي ته اوبه اچول په غسل کي فرض دي او موږل په کښي شرط نه دي او نه نيت په کښي شرط دی، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي دغه سړی اوبه ته غورځولی وو، په دې صورت کي دري سره شرطونه پوره سول او سوال کوونکی په خپله د غسل کولو اراده نه وه کړې، نو طلاق هم واقع نه سو.

جريمه پر چا ده: په غونډه کي د ناستو کسانو ترمنځ پر فقهي مسئلو باندي بحث روان وو، د سفيان ثوري (رحمة الله عليه) او قاضي ابن ابی ليلی (رحمة الله عليه) ځخه علاوه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او ډير نور علماء کرام هم په کښي موجود وه، هر يوه به خپله مسئله را پيش کوله، ناڅاپه يو سړي سوال وکړی: په يو محفل کي خلګ سره ناست وه، د غار ځخه يو مار راووتی پر يو سړي يې حمله وکړه، هغه د بيري په خاطر مار ډيکه کړی، د هغه بل کس پر طرف يې وروغورځوی، دوهم کس هم مار ته ډيکه ورکړه د دريم کس پر طرف يې وروغورځوی، هغه هم د ځان ساتولو په خاطر د څلورم کس پر طرف مار وروغورځوی، څلورم کس هم ډيکه ورکړه د پنځم کس پره طرف يې مار وروغورځوی مار په اخيره کي په قهر سو چيچل يې شروع کړه، پنځم کس يې وچيچی ددې وجهي ځخه دغه پنځم کس وفات سوو، اوس دا مسئله محکمې ته راغله د مړي وارثانو د جريمې غوښتنه وکړه، نو په دې باره کي د شريعت حکم څه دی، څوک به يې جريمه ورکوي؟ لوی لوی نوموتي فقهيان او علماء ناست وه، ټولو خپلي رائي ځرګندولې چا به ويل چي لومړی کس به جريمه ورکوي، چا به ويل پر ټولو باندي جريمه ده، او چا به ويل چي پر اخير کس باندي جريمه ده، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د دوی خبري واوريدې خندل يې کله چي ټولو خپلي رائي وړاندي کړلې، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لا د جواب په طمع وو، خو هيچا سم جواب ور نه کړی، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) داسي جواب ورکړی: اول کس چي دوهم کس ته مار ډيکه کړی او دوهم کس ځان ځيني وساتی، نو اول کس د جريمې ځخه خلاص سوو، بيا چي دوهم کس مار ته ډيکه ورکړه د دريم کس پر طرفه او دريم کس هم ځان ځيني وساتی، نو دوهم کس هم د جريمې ځخه خلاص سوو، او دغسي دريم کس هم د جريمې ځخه خلاص سوو، مګر څلورم کس چي پنځم کس ته مار وروغورځوی ناڅاپه مار دغه پنځم کس وچيچی، نو څلورم سړی به جريمه ادا کوي، او که دلته کيسه داسي وي چي څلورم کس مار ډيکه کړی وي د پنځم کس پر طرفه په دې وخت کي يو څه وخت تير سوی وی، او وروسته بيا مار دغه سړی چيچلی وي، نو خپله دغه پنځم کس به جريمه کيږي، ځکه چي ده بايد ځان ځيني ساتلی وای.

د دري اړخيزه طلاق مشکله مسئله: يو وخت امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته يو سړی راغلی، پوښتنه يې ځيني وکړه: يوه سړي درې قسمونه يې اخيستي وي ته يې حلولای سې، ځکه چي د ده په دې قسمو سره پر دباندي خپله ښځه طلاقيږي، او په دې سره يې کورنۍ تباه کيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: هغه قسمونه څنګه دي؟ سوال کوونکي وويل: قسمونه داسي دي:- ۱: که نن ما په هر يوه وخت کي لمونځ ادا نه کړی، نو ښځه دي راباندي طلاقه وي. ۲: که نن ما د خپلي ښځي سره کوروالی ونه کړی، نو ښځه دي را باندي طلاقه وي. ۳: که نن مي د جنابت غسل وکړی، نو ښځه دي را باندي طلاقه وي. (په صلاصاً طلاق سره) عجبه مسئله وه، ټول علماؤو ځان ځيني کتلی وو، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لږ وخت وروسته سره مبارک را پورته کړی، مسئله يې داسي ورحل کړه: ۱:- دغه سړی دي نن د مازديګر لمونځ ادا کړي. ۲:- د لمانځه څخه دي وروسته د خپل ښځي سره کوروالی وکړي. ۳:- کله چي لمر ولويدی نو بيا دي ولمبيږي او د سهار او ماپښين قضائي لمنځونه دي اداء کړي، طلاق هم واقع نه سو او دري سره قسمونه هم پوره سوه.

په امام پسي قرائت ويل: د مديني منورې څخه يو څو کسه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته راغلل امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: دلته د څه دپاره راغلي ياست؟ هغو وويل: موږ ستا سره مناظره کول غواړو دپاره ددې چي په امام پسي قرائت ويل کيږي که يا؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: تاسي ټول زما سره په يوه وخت کي خبري نه سی کولای که يو کس خبر را سره وکړي، نو ښه په وي يعني ښه به واوريدل سي، ځکه چي تاسي ټول ډير ياست، نو زه به د چا خبرو ته غوږ ونيسم او د کم يوه د خبري جواب په ورکړم، ښه به دا وي چي په تاسو کي يو لوی عالم زما سره مناظره وکړي، هغو هم يو کس ته اشاره وکړه ويل دی به ستا سره مناظره وکړي، او موږ به يې واورو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: پر ده مو دومره اعتماد دی، نو بيا به د ده شکست هم تاسو منی ټولو وويل: هو! منو يې، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: بس خبره فيصله سوه، د بحث څه په کښي پاته نه سوه، ځکه چي موږ په لمانځه کي هم امام په دې توګه منو. نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايي: د چا دپاره چي امام وي، نو قرائت د امام د هغوی دپاره هم قرائت وي، يعني کافي وي.

د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) پښيمانتيا د دهوبي (کالي پريمينځونکی) د مسئلي په هکله: امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو لائق شاګرد او مخلص ملګری وو، په زيرکتيا، تيز ذهني او د فقهي مسئلو په اجتهادي کي پوره علم ورته حاصل وو، ده د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه فيض حاصل کړی وو، او امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به ډاډ ګيرنه ورکوله، يو وخت امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) ناروغ سوو، د ډيري مودې څخه وروسته يې ناروغي جوړه سوه، کله چي يې ناروغي جوړه سوه، نو يې يوه جلا درسګاه يا حلقه جوړه کړه، مګر په دې اړه يې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه يې مشوره وانه خيسته او نه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا مناسبه ګڼله چي دی دي په بله درسګاه يا حلقه لاس پوري کړي، په دې لړ کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يوه فتوا د سوال په شکل اماده کړه او يو کس ته يې وربښووله چي ولاړسه دغه فتوا د امام ابويوسف (رحمة الله عليه) په درسګاه کي ځيني وپوښته....

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتوا داسي ده: یو سړي دهوبي ته یو څو جوړي کالي د پریمینځلو دپاره ورکړه، دهوبي د بیرته راتګ نیټه ورمعلومه کړه، کله چي د کالو خاوند په هغه نیټه دهوبي ته وراغلی، د هوبي د ده د کالو راوړولو څخه منکر سوو، ده ته یې ویل: ستا کالي زما سره نسته، بیا یو څه وخت وروسته خپله دهوبي هغه کالي هغه سړي ته ورووړل او ور یې کړل، نو اوس دغه سړي دهوبي ته ددې کالو مزدوري ورکړي که یا؟ که چیري امام ابو یوسف (رحمة الله علیه) تاته ووایي چي مزدوري به ورکوې، نو ته ورته ووایه: جواب دي غلط دی، او که ووایي چي مزدوري به نه ورکوې، نو ته ورته ووایه: جواب دي غلط دی، همدارنګه د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د طرفه فتوا پوښتونکی سړی د امام ابو یوسف (رحمة الله علیه) درسګاه ته ورغلی او چي څنګه ورته ویل سوي وه، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د طرفه هغه سي یې فتوا وپوښتل: امام ابو یوسف (رحمة الله علیه) هم ډېر زیرک او تیز نظره وو، فوراً دا ورته معلومه سوه چي څه کیسه ده، په دې پوه سو چي غلطي یې کړي ده او په خپل دې کار ډېر پښیمانه سوو، دستي په دستي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) درسګاه ته ورغلی، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: د دهوبي مسئلي خو به نه یې راوستلی؟ امام ابو یوسف (رحمة الله علیه) پر خپلو کړنو ډېر پښیمانه سوو، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: ګوره مسئله داسي ده که چیري دهوبي د کالو پریمینځلو څخه مخکي انکار کړی وي، نو هغه غل ثابت سوو او د غل د پاره مزدوري نه سي ورکول کیدای، او که د کالو پریمینځلو څخه وروسته یې انکار کړی وي، نو په دې صورت کي یې د مزدوري حق سته، ځکه چي کالي یې پریمنځلي دي، او که چیري یې کالي وروسته په خپله مالک ته راوړه، نو د غلا جریمه هم نه سوه پر ده او مزدوري یې پر مالک لازمه سوه. (وفیات الاعیان وابن خلکان جلد ۵ صفحه ۴۰۸)

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) حکیمانه فیصله: زیرکتیا، عقلمندي او تیز نظري خو د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) مشهوره صفتونه دي محمد انصاري به وویل: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په خبرو او تګ کي هم د عقلمندي اثرات موجود وه. د علی ابن عاصم وینا ده: که د نیمي دنیا عقل د ترازو په یوه طرف کي واچوې او د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) عقل د ترازو په بل طرف کي واچوې، نو د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) عقل به پر دروند سي.

یوه بله جلبه واقعه: د کوفې په ښار کي یو سړی خپلو دوو زامنو ته دوې خویندي ورغوښتي وې، په یوه ورځ یې د دواړو ودونه وروکړه، د ښار ټول عام خلګ او علماء کرام یې راغوښتي وه، په علماؤ کي یې مسعر بن کدام، حسن بن صالح، سفیان ثوري او امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیهم) هم راغلي وه، خلګو ډوډۍ خوړل وروسته تر ډوډۍ خوړولو ناڅاپه ددې دوو کسانو پلار د کوره څخه راووتی، او د خولې څخه یې دا خبره را ووتل چي دا څه په غضب اخته سوم، خلګو پوښتنه ځیني وکړه: څه پیښه سوه؟ د هلکانو پلار وویل: کله چي دواړي ناویاني راوستل سوې، نو د دوی څخه داسي غلطي سوې وه، چي د هر زوم سره خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریندارې شپه تیره کړې وه، دواړې ناویاني سره بدلې سوې وې، اوس څه کول په کار دي، سفیان ثوري (رحمة الله علیه) وویل: د امیر معاویه (رضي الله عنه) په زمانه کې هم داسې کیسه پیښه سوې وه، په دې سره نکاح نه ماتیږي، مګر پر داوړو نوي مهر لازمیږي، مسعر بن کدام (رحمة الله علیه) امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته وکتل چې ستاسو رایه څه ده؟ امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وویل: دواړه زومان دې ماته حاضر کړل سي بیا به یې جواب ورکړم، خلګو دواړه زومان حاضر کړه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د هر یوه څخه یې جلا جلا پوښتنه وکړه: ستا سره چې کمې ناوې شپه تیره کړې ده، هغه دې خوښه ده که یا؟ دواړو وویل: زموږ ه خوښه ده بیا امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وویل: تاسو چې اول د کومو ناویانو سره نکاح کړې وه، هغو ته طلاق ورکړی، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وروسته یې د سره نوي نکاحوي وروتړلي.

سفیان ثوري (رحمة الله علیه) چې کم جواب ورکړی وو، هغه هم صحیح وو، ځکه چې په شکمن کورالي سره نکاح نه ماتیږي، مګر کم طریقه چې امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) بیان کړه د هغه مصلحت دا وو، چې د یو بل د ښځو سره د کوروالي کولو څخه وروسته بیا خپلو اولنیو ښځو ته رجوع کول د غیرت خلاف کار دی او په هغه زړو نکاحو کې د میني او محبت د کمیدو خطر وو. (عقود الجمان)

ورکې سوې پیسې څنګه پیدا سوې: یو سړي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته راغلی عرض یې وکړی، ویل: ما یو څه اندازه پیسې یو ځای ایښې وې هغه ځای را څخه هیر دی، ما ډیر کوښښونه وکړه، مګر پیدا مې نه کړې او سخت ضرورت هم ورته لرم، نو که ته یوه لاره راوښیې، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: محترمه! دا مسئله زموږ سره په فقه کې نسته، نو زما څخه یې ولې پوښتنه کوې؟ سړي زاری شروع کړې او داسې وویل: ای الله (جل جلاله)! زما مرسته وکړه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: سمدستي اودس تازه کړه، ټوله شپه عبادت وکړه، انشاء الله مقصد به دې پوره سي، سړي هم اودس تازه کړی په عبادت یې شروع وکړه یو څو رکعتونه چې یې وکړه ناڅاپه یې په یاد سوه، چې پیسې خو مې په فلانې ځای کې ایښې دي، په تلوار سره امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته راغلی، عرض یې ورته وکړی، چې ستا د تدبیر په برکت مې پیسې پیدا سوې، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: شیطان نو کله دا غوښتل چې ته دې ټوله شپه عبادت وکړې، بلکې دستي یې پیسې در په یاد کړې، مګر ستا دپاره دا په کار وه، چې ددې کار د شکریې ادا کولو په خاطر دې ټوله شپه په عبادت تیره کړې وای، چې شیطان دې تر دې هم ذلیله کړی وای. (عقود الجمان صفحه ۲۶۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تقوا، زهد او اخلاق

د تقوا، زهد او اخلاقو په ميدان کښي خو بلکل ځان ته يو جهان وو، دومره تقوا، زهد او عالی اخلاق يې وه، چې يو عادي انسان يې هيڅ تصور هم نه سوای کولای. امام شعراني شافعي (رحمة الله عليه) فرمايي: يو يهودي د ده (رحمة الله عليه) همسايه وو، د هغه بيت الخلاء د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په کور کي راخلاصه وه، لس (۱۰) کاله همداسي پاته وه، او ده مبارک به هره ورځ ټول څه چي د ده مبارک په کور کي د دغه بيت الخلاء څخه رالويدل پاکول او جارو کول او تر کچره دانۍ به يې رسول، هغه يهودي چي د دغه کاره څخه هيڅ نه وو خبر کله چي دغه خبر ويهودي ته ورسيدی، نو هغه په ژړا سوو، وروسته بيا راغلی او مسلمان سو.

په دې هکله د يو بل مجوسي قيصه هم د يادوني وړ ده، چي امام رازي (رحمة الله عليه) په خپل تفسير کي د (اهدنا الصرط المستقيم) په تفسير کي يې بيان کړې ده، امام رازي (رحمة الله عليه) وايي: داسي روايت دی چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پر يو مجوسي پور باندي وو، کور ته يې د طلب دپاره ورغلی، کله چي د هغه د کور دروازې ته وړورسيدی، پر کالو يې مرداري ولويدل، نو ده خپل کالي وڅنډل هغه مرداري د ده (رحمة الله عليه) د کالو څخه پورته سول، د مجوسي د کور پر ديوال وموښتل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) حيران سوو او ويې ويل: که زه دغه مرداري دلته پريږدم، نو په دې خو د مجوسي ديوال خراب سوو، او که دغه مرداري وګروم نو بيا خو د ديوال خاوره ورسره رارژيږي، نو دروازه يې وروټکوله او د هغه مجوسي مينځه ورته راووتل، وهغې ته يې وويل: بادار ته دي ووايه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دروازه کي ولاړ دی، هغه ورته راووتی او داسي ګمان يې کوی، چي پور را څخه غواړي، ځکه نو هغه په عذر ويلو شروع وکړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: دلته به څه شی ښه وي، او د ديوال قيصه يې ورته وکړل، چي اصلاً به د دغه د پاکولو دپاره کمه لاره وي، مجوسي ورته وويل: اول زه د خپل ځان په پاکولو شروع کوم، په هغه ګړي يې ايمان راوړی مسلمان سو. دلته د پام وړ ټکي دا دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مجوسي په حق کي په دغه لږ اندازه سره هم ځان د ظلم څخه وساتی، د دغه لږ ظلم د پرېښولو په خاطر مجوسي د کفر څخه اسلام ته داخل سوو، نو څرنګه چي څوک د ظلم څخه ځان وساتي، نو د هغه حال او درجه به د الله (جل جلاله) په وړاندي څنګه وي. (تفسير اهدنا الصراط المستقيم ۱ جلد ۲۱۶ مخ)

که څه هم امام رازي (رحمة الله عليه) د مذهب د مخي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لاروی هم نه دی، مګر په ډيرو ځايونو کښي شديد اختلاف ورسره لري، خو تاسي وينی چي د حق په ليدلو سره يې د هغه د فضليت اظهار د اسلام د افتخاراتو څخه ګڼلی دی، دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اخلاقو او ټولنيز ژوند څخه صرف يوه کوچنی بيلګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې لا د تقوا په هکله ډېر کم مثل وو، داسي يو روايت سوی دی: چي د کوفې په ښار کي پسه غلا سوو، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې دپاره چي د غلا سوي پسه غوښه ونه خوري، نو په کوفه کي يې اووه (٧) کاله د پسه غوښه ونه خوړل.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د تقوا په ارتباط ابن حجر مکي (رحمة الله عليه) د عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) څخه قول را نقل کړی دی، فرمايي: د دغه جهته کله چي به د عبدالله بن مبارک (رحمة الله عليه) په وړاندي د هغه يادونه وسوه هغه به ويل: آيا تاسو د هغه چا يادونه کوی؟ چي دنيا په صورت ګُلي ورته وړاندي سوه، او ده (رحمة الله عليه) فرار ورڅخه وکړ، قبوله يې نه کړل، او د ظالمانو سره يو ځای نه سوو، سره ددې چي هغوی په دغه هکله غوښتنه هم ورڅخه وکړه.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د زهد او عبادت په هکله داسي روايت دی: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به په دوبي کي د ماپښين تر لمانځه وروسته استراحت کوی، او په ژمي کي به يې د ماخستن تر لمانځه وروسته آرام کوی، نور به ډېر عمر په عبادت اخته وو، او يا په تعليم او تعلم باندي. په معتبرو روايتو کي راغلي، منل سوي او مشهوره خبره ده: چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څلويښت (٤٠) کاله د شپي يعني د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه.

داسي روايت هم معتبرو مؤرخينو راوړی دی: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به پوره قرآن عظيم الشان په يوه رکعت کي ختموی، د لمانځه په يوه رکعت کي د ټول قرآن عظيم الشان ختم يوازي په څلورو نفرو جليل القدر امامانو پوري منحصر ذکر سوی دی، هغه لکه: د (المستطرف) مؤلف چي د معتبرو منابعو په حواله يې ليکلي دي: د قرآن کريم ختم د لمانځه په يوه رکعات کښي څلورو کسانو کړی دی: عثمان بن عفان، تميم الداري، سعيد بن جبير او امام اعظم ابوحنيفه (رضي الله عنهما). او همدارنګه مختصر تاريخ دمشق خاص د همدغو ياد سوو څلور نفرو په اړوند ليکلي دي: دوی په داخل کي د کعبي شريفي د قرآن عظيم الشان ختم کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د عقل زیاتوالی، ذهني ذکاوت او د فکر تیزوالی

د امام اعظم ابوحینفه (رحمة الله علیه) د عقل زیاتوالی، ذهني ذکاوت او فکري تیزوالی دومره زیات وو، چې همیشه به د لوړ عقل خاوندان ورته په حیرت او ګوته په غاښ وه، په همدې ارتباط اکثره مصنفینو د امام اعظم ابوحینفه (رحمة الله علیه) زیات محیر العقوله کارنامې لیکلي دي، کم چې اکثره یې د تهلکې څخه د عامو مسلمانانو د نجات سبب هم ګرځیدلی دی.

د کوفې په ښار کې یو سړی خپلو دوو زامنو ته دوې خویندې ورغوښتې وې، په یوه ورځ یې د دواړو ودونه وروکړه، د ښار ټول عام خلګ او علماء کرام یې راغوښتي وه، په علماؤ کې یې مسعر بن کدام، حسن بن صالح، سفیان ثوري او امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیهم) هم راغلي وه، خلګو ډوډۍ خوړل وروسته تر ډوډۍ خوړولو ناڅاپه ددې دوو کسانو پلار د کوره څخه راووتی، او د خولې څخه یې دا خبره را ووتل چې دا څه په غضب اخته سوم، خلګو پوښتنه ځیني وکړه: څه پیښه سوه؟ د هلکانو پلار وویل: کله چې دواړې ناویانې راوستل سوې، نو د دوی څخه داسې غلطي سوې وه، چې د هر زوم سره خپله ورینداري شپه تیره کړې وه، دواړې ناویانې سره بدلې سوې وې، اوس څه کول په کار دي، سفیان ثوري (رحمة الله علیه) وویل: د امیر معاویه (رضي الله عنه) په زمانه کې هم داسې کیسه پیښه سوې وه، په دې سره نکاح نه ماتیږي، مګر پر داوړو نوي مهر لازمیږي، مسعر بن کدام (رحمة الله علیه) امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته وکتل چې ستاسو رایه څه ده؟ امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وویل: دواړه زومان دې ماته حاضر کړل سي بیا به یې جواب ورکړم، خلګو دواړه زومان حاضر کړه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د هر یوه څخه یې جلا جلا پوښتنه وکړه: ستا سره چې کمې ناوې شپه تیره کړې ده، هغه دې خوښه ده که یا؟ دواړو وویل: زموږه خوښه ده بیا امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وویل: تاسو چې اول د کومو ناویانو سره نکاح کړې وه، هغو ته طلاق ورکړی، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وروسته یې د سره نوي نکاحوي وروتړلې. سفیان ثوري (رحمة الله علیه) چې کم جواب ورکړی وو، هغه هم صحیح وو، ځکه چې په شکمن کورالي سره نکاح نه ماتیږي، مګر کم طریقه چې امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) بیان کړه د هغه مصلحت دا وو، چې د یو بل د ښځو سره د کوروالي کولو څخه وروسته بیا خپلو اولنیو ښځو ته رجوع کول د غیرت خلاف کار دی او په هغه زړو نکاحو کې د میني او محبت د کمیدو خطر وو. (عقود الجمان)

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د عقل او ذکاوت تیزوالی و هر چا ته معلوم وو، او همیشه به په مشکلاتو کې د عام او خاصو مرجع وو، ځکه خو یې پر هر چا قدر او عزت زیات وو.

امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د ټولو نیکیو او ښو صفتونو معمور شخصیت وو: ابن مبارک (رحمة الله علیه) فرمایي: کله چې زه کوفې ته ورسیدم نو د هغه ځای د عالمانو څخه مي پوښتنه وکړه: ستاسو په دې ښار کې تر ټولو لوی عالم څوک دی؟ ټولو په یوه اتفاق سره وویل: امام اعظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دی، بيا مي پوښتنه وکړه: په ټولو کي زاهد څوک دی، ټولو وويل: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه)، بيا مي پوښتنه وکړه: په ټولو کي زيات عبادت کوونکی او د علم خاوند څوک دی؟ ټولو وويل: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دی، خلاصه دا چي هر څومره چي مي د ښو اخلاقو او ښو صفتونو په باره کي پوښتني کولې، نو دوی به د هري پوښتني په جواب کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تر هر چا غوره ثابت وي. ابن مبارک (رحمة الله عليه) به اکثره وخت داسي فرمايل: داسي مه وايه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) رائي دی بلکي تفسير او حديث وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حنفي تاريخ ځيني حيرانوونکي ناآشنا علمي او ژړغوني واقعې

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپل علم څخه انکار او تواضع: د خپلي پوهي په هکله چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کم احساسات ساتل د هغو اندازه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د بعضو خبرو څخه معلوميږي، چي فرمايي: د کوفې په بازار کي يو سړي دا پوښتنه کول: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) فقيه دکان چيري دی، نو اتفاقاً يې دا پوښتنه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه وکړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: هغه خو فقيه نه دی، بلکي هسي يې په زوره د ځانه مفتي جوړ کړی دی.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بيره او تقوا: يوه ورځ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د يوه شخص سره خبري کولې، ناڅاپه هغه شخص ورته وويل: د الله (جل جلاله) څخه وبيريږه دا لفظ لا د هغه د خولي څخه وتلی نه وو، چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) رنګ تک ژړ سوو، سر يې کښته کړی روان سوو، او داسي وويل: وروره! الله (جل جلاله) دي تاته جزاء د خير درکړي، څوک چي په علم ناز کوي، هغه هغه چا ته محتاجه وي، چي څوک الله (جل جلاله) ور په ياد کړي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په ژوند کي اولنی او آخرنی عدالتي فيصله: په کومو ورځ کي چي د جلي پر شاوخوا د آبادی کم بنيادونه چي موجود وه، په هغه ځای کي څه موده وروسته يو پوځي کمپ جوړ سوو، او بيا دغه ښار په راصافه باندي يادېدی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د قاضي توب او د عدالیي وزارت لويه چوکی چي ددې ښار څخه وه، د نيمي ورځي دپاره قبوله کړه، په دې دوران کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته يوه مقدمه وړاندي سول، دا يې اولنی او آخيرنی عدالتي فيصله وه، او ددې څخه وروسته يې استعفاء ورکړه، کيسه داسي وه: يو غريب هاينګرساز پر يو بل سړي يې داسي دعوه کړې وه، چي ما دته د پيتلو مسو يوه ټوټه ورکړې وه، پر ده باندي زما تر اوسه لا دوه درهمه او څلور پيسې پاته دي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مدعي عليه يعني پر چا باندي چي يې دعوه وه، راوبللی او ورته وويل: وروره! د خدای (جل جلاله) څخه وبيريږه دا سړی چي ستا په باره کي څه وايي دا ريښتيا دي که يا؟ مدعي عليه پر پيسو باندي منکر سوو، او د دعوه کوونکي سره شاهدان هم نه وه، پر مدعي عليه باندي قسم اخيستل رارغلل، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په قانوني اساس باندي مدعي عليه ته وويل: وو ايه قسم دی په هغه الله (جل جلاله) چي د هغه څخه ماسيوا د عبادت لايق نسته، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي مدعي عليه ته وکتل، نو مدعي عليه ښه په کلکه سره قسم ته تيار سوو، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د فکري زيرکتيا خاوند وو، او د مدعي عليه قسم اخيستلو ته تيار نه وو، هغه لا قسم پوره کړی نه وو، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د هغه پر خوله لاس ونيوی چوپ يې کړی، بيا يې د خپل مال څخه دوه درانه درهمه راواخيستل هاينګرساز ته يې ورکړل، او داسي يې ورته وويل: تا چي پر ده دعوه کړې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زما څخه واخله، په دې طريقه سره يې مدعي عليه د قسم اخيستلو څخه منع کړی، نو په ټول ژوند کي يې دغه يوه مقدمه د عملي نمونې په ډول ورغلې وه.

د انسان دوستي شفقتناکه او حيرانوونکې واقعه: د مشهور شيخ صوفيه حضرت شقيق بلخي (رحمة الله عليه) د سترګو ليدلې واقعه ده وايي: زه يوه ورځ د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره څنګ پر څنګ روان وم، په دې دوران کي د ليري څخه يو سړی موږ وليدی هغه لاره بدله کړه پر بل طرف روان سوو، شقيق وايي: ما چي ورته وکتل امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هغه سړي ته په تيزي سره وويل: پر کمه لاره چي روان وې پر هغه لاره ځه ورورہ! بله لار ولي اختياره وې؟ هغه سړي هلته ودريدی موږ چي هغه ته ورنږدې سوو، هغه د شرمه ډک ولاړ وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پوښتنه ځيني وکړه: تا ولي خپله لاره پريښوول؟ سړي وويل: صاحب! ستا چي پر ما باندي لس زره درهمه پور باندي وو، په هغه کي مي بې پرواهي کړي ده، ما چي ته وليدلې نو د ډيره شرمه څخه مي لاره بدله کړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: سبحان الله په دې کوچنی خبره دي لاره بدله کړه او زما څخه دي د پټيدو کوښښ وکړی، يوازي دا نه بلکي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) قرضدار ته وويل: ما ټول پور تاته در وبخښی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لا په دې هم صبر نه سوو، شقيق وايي: د خپل قرضدار څخه يې بخښنه غوښتل او ويل يې: ورورہ! زما په ليدو سره چي ستا په زړه کي کمه بيره راغله د هغه په خاطر ماته بخښنه وکړه. (عقود الجمان صفحه ۲۳۵)

د ښکنځلو جواب په اخلاقو سره: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حاسدينو يوې ډلې به کله کله د ښار څخه غلطي خبري کولې، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تذکره نګارو داسي ډيري واقعي رانقل کړي دي، د نمونې په ډول دلته يوه واقعه را نقله وو، ليکي: په دغه بدمعاشانو کي يو سړی وو، په امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پسي به يې بدې خبري کولې، مطلب يې دا وو چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خلګو په مابينځ کي کم راولي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خبري واوريدې او په کښته سر خپل کور ته روان وو، کله چي دې بدمعاش د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د طرفه جواب وانه وريدی په ژړغوني آواز يې وويل: ولي د سپي په څير درته ښکارم زه غاپم ته هيڅ جواب نه راکوې؟ همدارنګه په يوه بله واقعه کي راځي چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي کله د کور دروازې ته ورسيدی، نو بدمعاش ته يې وويل: اې ورورہ! اوس زما کور راورسدی زه ورننوځم که دي په زړه کي دي لا څه پاته دي، زه به درته ودريږم زړه دي خالي کړه. (عقود الجمان)

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) قيام ليل:- د معجم صاحب ليکي: د شپو رڼولو په وجه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په ميخ سره بلل کيدی، په دې باره کي بعضي ليکوالانو يوه لطيفه هم رانقل کړې ده، هغه داسي ده: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو همسايه وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي کله ددې فاني نړۍ څخه رحلت وکړ، نو ددې همسايه يې يو کوچنی زوی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پلار ښځه پوښتنه وکړه: ویل د دا مخامخ کور پر سره چي یوه ستن ولاړه وه، هغه اوس نه معلومیږي ښه سوې ده یو چا خو به راتا کړي نه یي؟ پلار یې ورته وویل: هغه امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وو، ټوله شپه به ولاړ وو، عبادت به یې کوی، مگر اوس هغه پریوتله ځکه چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وفات سوو.

په ورک سوي سامان پسي لټون: داؤد طائي (رحمة الله علیه) د یو شمیر اسلامي لویو ولیانو په قطار کي شمیرل کیدی، دی د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د مخکینیو شاګردانو څخه دی، د علم الحدیث، فقهي، عربي، قرائت او تفسیر پوره ذخیره یې ترلاسه کړې وه، یو ورځ امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: داؤده! ستا د علم ټولي ذریعې پوره سوې، مگر داؤد (رحمة الله علیه) وویل: ولي نور څه هم پاته دي؟ امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وویل: په علم باندي عمل کول لا پاته دي، داؤد هغه وخت ولاړسو خپله وراثتي مځکه یې په څلور درهمه خرڅه کړه، د دنیا څخه یې پښې سپکي کړې، او د خلګو سره به ډیر کم یو ځای کیدی، یو وخت فضیل بن عیاض یې لیدو ته راغلی، ده دروازه ورخلاصه نه کړه، فضیل دباندي ناست وو ژړل یې او داؤد دننه په کور کي ژړل، فضیل عرض وکړ ویل: زه چیري ولاړم سم، زه خو د یو سړي په لټون پسي راوتلی وم، داؤد ورته وویل: دا هغه تللی سامان دی چي په لاس نه راځي.

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د برکت د مجلس څخه سوال کوونکی بیله سوال کولو ولاړی، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) تذکره نګارو یوه واقعه رانقل کړي ده، ددې واقعي څخه به دا هم څرګنده سي، چي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د استوګني ځای په مجلس البرکت باندي څنګه مشهوره سوو، په دې باره کي لیکي: د کوفې په ښار کي یو مالداره سړی وو، ناڅاپه پر ده د زماني بدلون راغلی، لاس یې ډیر تنګ سوو، مگر د غیرت او بهادوری شخص وو، چي څنګه حال پر رتلی تیره وی به یې، یوه ورځ یې کوچنی لور تازه خټکی ولیدی، کورته په تلوار سره راغله د مور څخه یې د خټکي د رانیولو دپاره پیسې وغوښتې، مگر په کور کي یې غریبي وه، مور کله د خپل کوچنی لور مراد پوره کولای سوای، دوی په دې خبرو اخته وه، د پلار یې دې حالت ته په کتو سره سترګي د اوښکو ډکي سوې، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څخه یې د کومک غوښتلو تکل وکړی، کله چي مجلس البرکت ته حاضر سوو، د خولې څخه یې هیڅ ږغ ونه وتی، ټوله عمر یې د حیاء په پرده کي تیر کړي وو، نو د ده د خولې څخه به څنګه د سوال کولو خبره وتلې وای، خوار غریب د شرمه ډک همدغسي په چپه خوله ولاړ سو او ولاړی، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) هغه د مخ دبې رنګی په سبب نه وو پیژندلی، چي دغه سړي ته څه حاجت پیښ سوی دی، مگر د شرافت په وجه یې څه ویلای نه سوای، نو کرار کرار پیسي روان سوو، هغه سړی چي کور ته دننه سوو، په نخښه یې کړی، کله چي شپه سوه، نو امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د ځان سره (۵۰۰) درهمه په کڅوړه کي واچول، د حاجتمند کس د کور دروازې ته ورنږدې سوو، ځینځر یې وټکوی د کور مالک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي راووتی امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دستي هغه کڅوړه د دروازي په چوکاټ کي کښېښول، په تاريکه کي پر شا روان سو، ويل يې: وګوره په دروازه کي چي د اشرفيو کڅوړه پرته ده دا هم ستا حق دی، د کور مالک چي کور ته دننه سوو، کڅوړه چي يې خلاصه کړه، يوه پرزه يې په کښي وليدل، داسي پر ليکل سوي وه: دا هغه رقم دی چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تاته راوړی دی، په حلاله ذريعه حاصل سوی دی، ته د خپل زړه مراد په حاصل کړه.

چي سايه وي او سړي دي لمر ته ناست وي دا عجبه ده، اسماعيل بغدادي وايي: يو کس د يزيد بن هارون څخه پوښتنه وکړه: فتوا ورکول کله جايز ده؟ يزيد وويل: کله چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د احتياط څخه کار واخيستل سي، سوال کوونکي وويل: حضرته! ته دا وايې؟ يزيد وفرمايل: وو زه تر دې زيات هم ويلای سم، ځکه چي ما د هغه څخه ماسيوا زيات تقواداره او پرهيزګاره بل کس نه دی ليدلی، او دا هم واوره: يوه ورځ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د يو کس د دروازې مخته په سخته ګرمي کي ناست وو، ما ورته وويل: صاحبه! که تاسو لږ سايې ته سی نو ډير به ښه وي، او په يوه روايت کي راغلی دي: ما امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته قسم ورکړ، چي تا ولي سايه پرې ايښې ده، په ګرمي کي ناست يې؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: ددې کور پر مالک باندي زما پور باندي دی، نو زه د ده د ديوال وساې ته ناسته ځکه مکروه ګڼم، چي دا په ناجايزه نفعه کي رانه سي، ځکه د حديث شريف مفهوم دي: په کم پور سره چي نفعه حاصله کړل سي هغه سود دی. (عقود الجمان صفحه ۲۴۴)

د علم سره زياته مينه: د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ذات سره ډيره زياته مينه او ژور تړون درلودی، د دنيا هر کار به يې شاته پرېښوی، مګر د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مجلس ته به حاضرې دی، د محمد بن کدام (رحمة الله عليه) څخه روايت دی: هغه د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) څخه اوريدلي دي، چي امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) وويل: زما د زوی رحلت د دنيا څخه وسوو، مګر ما يې د ښخيدو دپاره هڅه ونه کړه، خاورو ته د سپارني ټول کار مي همسايګانو، يارانو او دوستانو ته پرېښوی، ځکه چي زما په زړه کي دا خواهش وو، چي د داسي خير د مجلس څخه پاته نه سم، دا به مي په زړه کي يو ارمان پاته وي، چي په فلاني وخت کي زه غونډي ته حاضر سوی نه وم.

هارون د خليفة المسلمين په دربار کي امام محمد (رحمة الله عليه) رښتيا وويل: د عباسي حکومت تر ټولو لوی حکمران هارون الرشيد دی، او دا د يو حنفي مؤرخ خبره نه ده، بلکي خطيب بغدادي روايت کړی دی، چي د هغه په ليک کي د حنفي امامانو په حق کي ډير کم ذکر سوی دی، دوی ليکي: يا ابو عبيده وايي: موږ محمد بن الحسن د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شاګرد سره وو، په دې وخت کي هارون الرشيد زموږ مخ ته تيريدی د غونډي ټول حاضرين ورته ولاړ سول، مګر يوازي امام محمد (رحمة الله عليه) داسي تن وو چي ولاړ نه سوو، يو څه وخت وروسته امام محمد (رحمة الله عليه) د خليفه دربار ته وروبلل سوو، ابو عبيده وايي: دغه وخت زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو حاضرينو وينه په بدن کي وچه سوه، رنګ مو تک ژړ سوو، مګر امام محمد (رحمة الله عليه) ډېر په اطمنان سره ولاړ سوو، او خليفه ته حاضر سوو، لږ وخت وروسته بيرت ښه په طبيعت سره راغلی، خپله يې وويل: خليفه زما څخه پوښتنه وکړه ويل: ټول خلګ ماته ولاړ سول ته ولي ولاړ نه سوې؟ ما ورته وويل: ماته دا ښه معلوميدل، تا چي زه د کمي طبقې سره يو ځای کړی يم، چي د هغې څخه دي ووځم، او د هغه خلګو سره دي يو ځای سم چي ستا خدمتګاران دي، او دا مي هم ورته وويل: د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) ارشاد دی: څوک چي دا غواړي چي د هغه د تعظيم دپاره دي خلګ ودريږي، هغه دي خپل ځای په دوږخ کي وغواړي، امام محمد (رحمة الله عليه) وويل: هارون الرشيده! زما خبري دي واوريدلي، هارون الرشيد راته وويل: ای محمده! تا رښتيا وويل، تاسي وينی چي د هارون الرشيد پر ژبه د توري د شرنګ آواز تلی راتلی، مګر بيا هم د هغه په وړاندي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لوستلی سبق ډېر د احترام وړ وو.

عباسي شهزدګان او حنفي فقه:- تاريخ پوهانو ليکلي دي: عباسي شهزادګانو ته به د نور تعليم سره سره د حنفي فقهي درس به هم ورکول کيدی، مامون د خپل پلار هارون د طرفه د خراسان والي مقرر سوی وو، او په مروه کي ديره وو، په دې دوران کي د نضر د تحريک په لړ کي د مقامي علماؤو يو ټولګی مامون ته راغله، د حنفي فقهي علماء خفه وه، غرض يې دا وو چي د حنفي فقهي د علماوؤ او فقهيانو زور دي کم سي، مګر ښه خبره دا وه چي په دربار کي لوی لوی علماء ناست وه، مامون د نضر څخه پوښتنه وکړه: ولي د حنفي فقهي مخالفت کوې؟ په خپله نضر جواب ورنه کړی، مګر بل ملګري يې احمد بن زهير عرض وکړی: ماته دي حکم وسي چي زه يې وجه بيان کړم، مامون وويل: زه خو دغه پوښتنه کوم، بيا احمد بن زهير وويل: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په مسئلو کي ډېري داسي مسئلي دي، چي په ښکاره د قرآن کريم او حديثو خلاف دي، قاضي خالد بن صبيح د مامون په پوښتنه کي د دغي مسئلي په لړ کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) فتوا بيان کړه، بيا احمد بن زهير [1] وويل: دا دی ددې فتوا سره هم شکله دغه آيت دی، او د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) حديث دی، نو ګويا امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د قطعي آياتونو خلاف فتوا ورکړې ده، د ابن زهير خبره چي سرته ورسيده، د قاضي خالد پر ځای مامون په خپله ورته وويل: صرف يو حديث نه بلکي ليکلي يې دي: مامون د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په تائيد کي داسي حديثونه بيان کړل چي مخالفه ډله ځيني ناخبره وه، او صرف دا نه بلکي هغه چي به کمه مسئله خلاف ثابتوله، مامون به د هغې په تائيد کښي د قرآن کريم او حديث څخه دليلونه بيانول، پر داسي مسئلو چي کافي خبري اتري وسوې، نو مامون وويل: که چيري حنفي فقهه د کتاب او سنت خلاف وي، نو موږ به د عملي دستور په توګه ولي استعمالوله. بيا ليکي: ددې خبري څخه وروسته مامون نضر او د هغه ملګرو ته وويل: خبردار! بيا په تاسو کي څوک داسي حرکت ونه کړي، او که دغه نضر ستاسي په ټولی کي نه وای، نو داسي سزا به مي ورکړي وای، چي ټوله عمر به مو د ياده نه وتلای.

[1] احمد بن زهير د حديثو حافظ وو، خطيب د ده په باره کي ليکلي دي: دی لوی عالم د حديثو حافظ او زيات زيرک وو، يحيی بن معين ليکي: دی د امام بن حنبل په قابلو شاګردانو کي شميرل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا‌آشنا مناظره: د قاضي ابن ابی ليلی په باره کي تاريخ پوهانو يوه واقعه ذکر کړې ده: هغه دا چي قاضي ابن ابی ليلی په يوه غرض د خليفه منصور دربار ته ورو‌بلل سوو، په دغه وخت کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هم ور‌بلل سوی وو، ناڅاپه په دربار کي يو چا پوښتنه وکړه: که سوداګر د خپل مال متعلق اخستونکي ته داسي ووايي: ته چي کمه سودا اخلې زه ددې د عيبونو څخه بری يم، يعني په دې سودا کي عيب نسته، اوس که ته دغه غواړې اخيستی يې سې، که چيري د اخستو څخه وروسته کم عيب په سودا کي پيدا سوو، نو سودا اخيستلو والا يې د واپس کولو حق لري، که يا؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: سوداګر د بريتوب اعلان وکړی، نو ددې څخه وروسته يې غاړي خلاصي دي، سودا بيرته ځيني قبلول پر د لازم نه دي، مګر قاضي ابن ابی ليلی وويل: مسئله داسي ده په سودا کي موجوده عيب چي سوداګر يې تر څو پوري معلوم نه کړي، صرف د خولې په ويلو سره نه بری کيږي، دواړه فريقه په دې مسئله اخته دي، خليفه منصور د دواړو خبرو ته غوږ نيولی دی، کله چي قاضي ابن ابی ليلی د خپلي خبري څخه وانه وښتی، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: ته يې فرض کړه چي د يوې شريفي ښځي يو غلام دی، او هغه غواړي چي خرڅ يې کړي، مګر په غلام کي يو عيب دی د هغه پر خاص اندام يعني ذکر باندي د برص د مريضي داغ دی، نو ته دغي شريفي ښځي ته ويلای سې، چي ته يې پر خاص اندام باندي په لاس ايښولو سره خريدار ته دغه ناروغي څرګنده کړه، قاضي ابن ابی ليلی وويل: وو دغه ښځه به د غلام پر عيب لاس ايږدي، د قاضي ابن ابی ليلی ددې خبري په ويلو سره د ناستو خلګو طبيعت ډير خراب سوو، او خليفه منصور هم ددې خبري په اوريدو سره ډير په قهر سوو. (موفق صفحه ۱۶۷)

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بي پرواهي او توکل: کله چي ابو جعفر منصور عباسي خليفه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته په سوونو ډالۍ او نذرانې ور واستولې، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يې هيڅ پروا هم ونه کړه، بيا ابو جعفر ورته وويل: ماته کله نا کله د خپل وخت څخه د ملاقات د پاره لږ وخت راکړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دربار کي په هغو اشعارو سره جواب ورکړی، کم چي يې د کوفې د والي عيسی بن موسی په دربار کي ويلي وه:

کسر خبزٍ وقعب مــاءٍ　　وفروثوب مع السلامة

خير من العش فی نعيم　　يکون بعد ها الملامة

ژباړه:

کــوزه د اوبــو وي ور سره نـمړۍ سـکړک وي　　په سل برخي دي غوره دا د هغه عيش وعشرت نه

تـوتـه مـار دي اغـوسـتـن وي ته يې پرې ملامت　　تـيـريـږي چـي پـه تـرپـو وي انـجـام يې ملامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وصيتونه او نصيحتونه

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دوې وصيت نامې د تاريخ پاڼو محفوظې کړې دي، يوه وصيت نامه يې د خپل نازولي شاګرد قاضي ابو يوسف (رحمة الله عليه) په نامه ده، او بله يې د يوسف بن خالد سمتي (رحمة الله عليه) په نامه سره ده، دواړې وصيت نامې يې د علماؤو او فاضلانو د ژوند د لارې روښانه مثالونه دي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لومړۍ وصيت نامه د امام ابو يوسف (رحمة الله عليه) په نوم:

اى يعقوبه! د وخت د باچاه قدر کوه، او د هغه د لوړې مرتبې خيال ساته، د هغه په مخکې د درواغو ويلو څخه ځان ساته، تر څو پورې چې د علمي ضرورت د کبله کمه مجبورتيا نه وي، نو مخ مخ ته يې مه کيږه، ملاقات ته يې ژر ژر او ډير مه ورځه، کنې نو په نظر کې به يې سپک راسې او قدر به دې کم سي، په کار خو دا ده چې د هغه سره داسې معامله وساتې لکه د اور سره چې يې ساتې، يعني د اور څخه هم فايده اخلې او هم ځان ليرې ځيني ساتې ډير نه ورنږدې کيږي. دا په ياد لره چې باچاه د خپل ځان سره موافق بل څوک نه خوښوي، ځکه نو د هغه په وړاندې د بې دريغه خبرو کولو څخه ځان ساته، کنې نو په يوه خبره کې به دې راتينګ کړي، او د خپلو درباريانو په مخ کې به تا ملامت کړي، او پر هغو باندې به دا خبره ثابته کړي، چې ستا څخه د هغه علم جلا دی، او ستا محاسبه به کوي چې په څه رقم ستا هنر يا کمال د دربار د مجلسيانو په نظر کې کم راولي.

کله چې دربار ته ننوځې داسې لارې چارې اختيار وه، چې د موجوده کسانو په مقابل کې هغه ستا عزت او احترام وکړي، او په داسې وخت کې شاهي دربار ته مه ورننوځه، کله چې د باچاه سره نور داسې عالمان ناست وي، چې نه يې ته پيژنې او نه هغه تا پيژني، ځکه چې ممکن ستا علمي مرتبه د هغو څخه کمه وي، نو دا امکان لري چې ته په مجلس کې دا کوښښ وکړې، چې ځان تر هغو لوړ ثاتب کړې، نو په داسې صورت کې به دا کوښښ ستا دپاره نقصاني وګرځي، او که چيرې په هغو کې واقعي زيات عالم نه وي، نو ممکنه ده چې هغوى به په يوه خبره کې واقعي تاته پاته راسې، نو ددې په سبب به ته د باچاه په نظر کې سپک راسې. که د وخت باچاه تاته منصب درکوي، نو هغه وخت يې ځيني قبول کړه، چې ستا دا يقين وي، چې ته د خپل علم او مسلک مطابق کمې فيصلې چې کوې د هغه په کولو به ته راضي وي، او د بل مسلک مطابق عمل کولو ته به ضرورت نه پيښيږي، ستا تعلق دې صرف تر باچاه پورې محدود وي، او د هغه د خاصو دوستانو او مشرانو سره ډير تعلق مه ساته، د هغو څخه ځان وساته چې ستا وقار او عزت به پر خپل ځاى قايم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولسي آدب: عام اولس که د يوې مسئلې په باره کي پوښتنه در څخه وکړي، نو د مسئلې د جواب څخه ماسيوا نوري خبري مه ورسره کوه، کنې نو هغوی به بدګومانه سي چي ته د مال او دولت سره ډيره مينه لرې، او د رشوت طمع ځيني لرې، د عام اولس سره ډير خانده مه او مه ډير بازار ته ورسره ځه. د نوو ځوانانو سره مسخرې مه کوه، ځکه چي دا فتنې دي، که د کوچنيانو سره خبري وکړې په دې کي بيا څه بدي نسته، بلکي د هغو پر سرو باندي د مهرباني او ميني ډک لاس تيروه، د سپين ږيرو سره پر لاري يو ځای مه ځه، ځکه که هغه ستا څخه د مخه سي او ته يې تر شا پسي روان يې، نو دا د علم ډير بد سپکاوی دی، ځکه چي هغوی تر تا په عمر کي مشران دي. که دي چيري زړه وغوښتی په لاره کي کښينستې، نو تر دې ځای ناستي دي په مسجد کي کښينستل ډير غوره دی، په بازارو او مسجدونو کي خوراک مه کوه، په دوکانونو کي ناسته پاسته مه کوه، د وريښمو او بخملو جامې او کالي مه اغونده، ځکه چي په دې سره په بنده کي لويي پيدا کيږي.

د ښځي او خاوند کورنی آدب: د خپل جنسي حاجت پوره کولو په وخت کي پر پستره د خپلې ميرمني سره د ضرورته څخه ماسيوا خبري مه کوه، او تر حد زيات بې باکي هم مه ورسره کوه، کله چي ورنږدې کيږې نو د الله (جل جلاله) نوم يادوه، د خپلې ميرمني سره د پرديو ښځو او مينځو په باره کي څه مه وايه، کنې نو داسي څه به هغه هم درته ووايي، خوله به يې بې واکه سي او دا ډيره ممکنه ده چي ته د خپلې ميرمني سره د نورو ښځو په باره کي خبري ور سره شروع کړې او هغه بيا د پرديو نارينوو خبري درته شروع کړي. که دي وس وو د داسي ښځي سره هيڅکله نکاح مه کوه، چي د هغې د مخکني خاوند طلاق ورکوونکی پلار، مور يا يې پر ګټې ژوند وي، البته دا يو شرط ورته کښيږده چي د واده څخه وروسته به ستا کره د هغې هيڅ خپلوان نه راځي، دا ځکه چي ښځه د واده کولو څخه وروسته مالداره سي، نو د هغې پلار بيا دا دعوه کوي چي د هغې په لاس کي چي کم مال دی هغه ټوله زما دی، او وايي به دا مي د څو ورځ دپاره ورکړې وه.

بل شرط دا پرکښيږده چي څومر کيدای سي د پلار کره به نه ځې، د نکاح کولو څخه وروسته دي خبري ته غاړه کښينږدي، کله چي ته د خپلې خُسرګنی کره د واده اوله شپه تيره کړې، نو هغوی به ستا مال ترلاسه کړي او د خپلې لور په باره کي به د زيات مال او نفعي طمع در څخه کوي. پام کوه چي د ډير زيات اولاد لرونکي ښځې سره واده کولو ته تيار نه سي، هغه به ټوله مال د خپلو لونو او زامنو دپاره جمع کوي او پر هغو به يې مصرفه وي، ځکه چي هغې ته تر تا خپل اولادونه ډير ورنږدي دی، او په يوه کور کي دوې ميرمني دي سره يو ځای نه کړي، تر څو پوري چي دي ټول مصارف پوره سوي نه وي، يا يې د پوره کول طاقت ونه لري تر هغه پوري واده ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند ترتيب: اول علم حاصل کړه، بيا حلال مال او ګټه او وروسته د هغه څخه د واده غم کوه، که د سبق د زده کړي په وخت کي د مال د ګټلو په فکر کي سولې، نو علم به نيمګړی در څخه پاته سي، اول ګټلی مال د مينځو او غلامانو د رانيولو دپاره اماده کړه، که د دنيا د ښځو په عيش او عشرت اخته سوې، ټول قيمتي وخت به دي عبث تير سي ډير مسوليتونه به در په د غاړي سي، په داسي حال کي چي ته به د هغو د ضروورياتو په پوره کولو کي سرګردانه سې، نو د سبق آرمان به دي پر زړه پاته سي. د ځواني د شروع کيدو سره سم د علم حاصلولو ته ځان وقف کړه، ځکه چي په دې وخت کي زړه او دماغ د دنيا د مشکلاتو څخه خالي وي، تر دې وروسته بيا د مال د ګټلو او جمع کولو فکر کوه، مال ښه جمع کړه ځکه چي د ډير مسوليتونو په سبب زړه په فکرونو کي راګير وي، نو کله چي ډير مال جمع کړی بيا نو کور آباد کړه.

زيست روزګار: د الله (جل جلاله) څخه بيره کوه، د امانتونو سپارښتني او د هر عام او خاص خير د ښيګڼي خيال ساته، د خلګو سپکاوی مه کوه، لکه د ځان په رقم د هغو خيال هم ساته چي هغو راشه درشه در سره ساتلې نه وي، لومړی ته ورمخ ته کيږه مه، د مسئلې پوښتلو دپاره که څوک درسي نو ورته راوځه، که چيري پوښتنه کوونکی جواب د سوال مطابق درکړي، نو پوه سه چي قابل دي. د عام اولس سره د دين په باره کي د علم کلام څخه کار مه اخله، ځکه نو په دې رقم سره به خلګ ستا څخه نقل شروع کړي او د علم کلام په شغل کي به اخته سي، يعني په عقايدو کي به د عقل څخه کار اخستل شروع کړي. که څوک فتوا در څخه وغواړي، نو صرف هغه ته د سوال مطابق جواب ورکوه خبره ډيره مه اوږده وه، کنې داسي جواب به بيا درته د سرخوږی سبب سي. که چيري پر تا لس کاله داسي تيري سي چي د کټې وټې درک دي نه وي، او د مال ګټلو طاقت هم ونه لرې، بيا هم د علم د ښوونې څخه مخ مه اړوه، کنې نو ژوند به دي لنډ او ګران سي. د فقهي هر شاګرد داسي ګڼه لکه خپل زوی، په سبب ددې چي په هغه کي د زده کړي شوق جلا سي، يعني د زده کړي سره يې شوق پيدا سي، که يو عام کس لاس درواچوي، نو ته جنګ مه ورسره کوه، کنې نو عزت به بايلې، طاعت او عبادت تر نورو خلګو ډير کوه، که چيري هغو ته په طاعت او عبات کي تر ځان کم وليدلې، نو دوی به بدګمانه سي او وايي به چي موږ ته خپل جهالت څومره فايده رارسولې ده، دته خپل علم دومره خير نه دی رسولی، هغوی به دا فکر کوي چي تاته ستا علم دومره فايده نه ده درسولې کم چي د هغوی جهالت هغوی ته رسولې ده.

د تګ راتګ آدب: که چيري داسي ښار ته ولاړې او په کبني استوګن سوې چي د علم خاوندان په کبني موجود وه، نو په هغه ښار کي ځان تر هغو لوړ مه ګڼه، بلکي داسي وخت تيروه لکه ته چي هم د دوی د ښار يو کس يې، چي د ښار د عالمانو دا يقين راسي چي د هغو مرتبو ته ستا د طرف څخه هيڅ خطر نسته او که داسي نه وي نو ټوله به ستا پر خلاف راولاړ سي، تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ددې ځايه څخه به دې بيځايه کړي، په مسلک پوري به دي پوسخند در ووهي او په ناحقه به دي ملامت کړي. که هغو د مسائلو په باره کي پوښتنه در څخه وکړه، د مناظرې، مباحثې او په جلسو کي د بحث کول څخه ځان ځيني ساته، او که دي د هغو سره خبري کول غوښتل، نو په واضح دليل سره يې ورته کوه، هغو ته د هغو د اُستاذانو په باره کي پيغور مه ورکوه، کنې نو هغوی به هم تاته داسي پيغورونه درکړي، د خلګو د طرفه هر وخت بيداره اوسه، څنګه چي دي ظاهر دی په باطن کي هم د الله (جل جلاله) دپاره ځان راسته کړه، ځکه چي علم تر هغه پوري فايده مند کيدای نه سي، تر څو چي د انسان ظاهر او باطن سره يو شی نه سي.

غوره عمل: کله چي دي د وخت باچاه پر يو داسي مقام باندي کښينوي چي هغه ستا د شان سره مناسب نه وي، نو تر هغه وخته يې مه قبلوه تر څو چي تاته دا يقين نه وي سوی چي تاته درسپارل سوې وظيفه خالص ستا د علم د وجي څخه ده. د فکر او نظر په مجلس کي په بيره خبري مه کوه، ځکه چي دغه بيره به دي په خبرو کي خلل پيدا کړي، او ژبه به دي در ګډوډه کړي، د ډيري خندا څخه ځان ساته ځکه چي ډيره خندا زړه وژني، پر لاري باندي درونند او په آدب سره ځه، په کارونو کي د ډيري تندروی څخه کار مه اخله، که د شا د خوا آواز درپسي وکړي جواب مه ورکوه، ځکه چي خلګ په غويو پسي د شا د خوا نارې وهي. د خبرو کولو په وخت کي ډيري چغي مه وهه او مه په لوړ آواز سره خبره کوه، خبري په سکون سره کوه او د اندامونو د حرکت څخه ډير کار مه په کښني اخله په دې غرض چي ستا په ثابت قدمي د خلګو يقين راسي، د الله (جل جلاله) ذکر د خلګو په وړاندي ډير ډير کوه، چي خلګ درسره عادت سي.

د لمانځه څخه وروسته ځان ته يوه وظيفه مقرره کړه، چي د قرآن کريم په آيتو او د الله (جل جلاله) په اذکارو باندي مشتمله وي، الله (جل جلاله) چي د صبر او استقامت کم دولت او نور ګڼ نعمتونه چي يې درکړي، د هغو شکر پر ځای کړه يعني شکر يې وکاږه، هر مياشت يو څو روژې پر ځان لازمي کړه، چي نور خلګ هم ستا د دغه کاره سره عادت سي، خپل نفس قابو کوه په خاطر ددې چي ته د خپل علم په برکت دنيا او اخرت دواړه وګټې، د سودا کولو دپاره خپله مه ځه، يو خدمتګار ځان ته پيدا کړه، چي د دنيا ضروري کارونه دي تر سره کړي دا چي ستا پرې پوره اعتماد وي. د خپلې دنيا څخه په کم حالت کي چي ته يې ددې حال څخه ځان بې خبره او بې فکره مه کوه، ځکه چي الله (جل جلاله) به ددې ټولو شيانو په باره کي پوښتنه درڅخه وکړي، نوي ځوانان د ځان سره مه يو ځای کوه، د وخت د باچاه سره خپل خصوصي تعلقات يعني پخه آشنايي خلګو ته مه ورښکاره کوه، کنې نو خلګ به خپل حاجتونه تاته در وړاندي کړي، او که چيري تا د خلګو ضرورتونه د باچاه دربار ته وړل شروع کړه، نو د هغه په نظر کي به ولويږې، او که چيري ته د خلګو د حاجتونو پوره کولو ته اماده نه سې، نو دوی به تور درباندي پوري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نصحت کولو آداب: په غلطو کارو کي د خلګو پيروی مه کوه، بلکي په صحيح کارو کي د هغو پر قدم باندي قدم کښېږده، کله چي ته په يوه انسان کي يوه خرابي ووينې، نو د هغه يادونه په بدي سره مه کوه، د هغه د نيکي طمع لره او که په چا کي څه ښوالی ووينې، نو ښه والی يې ياده وه، البته که تاته د ده په دين کي څه خرابي ښکاره سوه، نو خلګ په خبر کړه چي د هغه پيروي ونه کړي او ځان ځيني وساتي. که تا هم يو وار داسي وکړه، نو هغه به ستا څخه وبيرېږي او هيڅ څوک به په دين کي د بدعت اظهار ونه کړای سي، کله چي ته د وخت د باچاه په عمل کي د دين خلاف يوه خبره ووينې، نو اول هغه ته د خپل اطاعت او وفاداري يقين ورکړه، يعني په خپل اعتماد کي يې راوله، ځکه چي هغه تر تا ډېر قوي دی، بيا نو وروسته خپله يې ورته اظهار کړه: تر څو چي ستا د باچاهي او د غلبي تعلق وي، ستا حکم مي پر سر او سترګو قبل دی، البته ستا د فلاني عادت دپاره ستا فکر ګرځول ضروري ګڼم، کم چي د دين د معيار مطابق نه دی که چيري تا يو وخت هم د وخت د باچاه په وړاندي د داسي زړه ورتيا څخه کار واخيستی، نو بس دا کافي ده ځکه که ته بيا بيا داسي خبره کوې، نو کيدای سي چي ستا سره سختي شروع کړي، بيا نو په هغه کي د دين سپکاوی وسي، او که يو وار ستا سره سختي وکړي او غرض يې ستا د ديني جذبي، امربالمعروف او نهي عن المنکر د استقامت امتحان اخيستل وي، نو که يو واري يې بيا داسي درسره وکړل، نو د هغه سره په کور کي يوازي په يوازي ملاقات ورسره وکړه، ديني نصيحتونه ورته کړه، که چيري باچاه بدعتي وي، نو يوازي په يوازي بحث ورسره وکړه، په دې لړ کي د باچاه په مخ کي د قرآن کريم او احاديثو بيان وکړه، که هغه دا خبري ومنلې نو ډېر به ښه وي او که يې ونه منلې نو د الله (جل جلاله) ته دعا وکړه، چي تا ځيني په آمن کي کړي. مرګ په ياد لره او د خپلو هغه اُستاذانو د پاره استغفار وايه، يعني د الله (جل جلاله) څخه د هغو دپاره د بخښني سوال کوه، د چا څخه چي دي علم حاصل کړی دی، هميشه د قرآن کريم تلاوت کوه، قبرونو، بزرګانو او مبارکو ځايو ته ډېر ورځه، عام مسلمانان که داسي خوبونه درته بيانوي، چي تعلق يې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او صالحينو سره وي، يعني چيري چي وې په غور او فکر سره يې اوره، د دنيا پرستو سره ناسته او ولاړه مه کوه، البته که دي غرض د دين طرفه ته رابلل وي بيا نو خير دی، ډيري بازی مه کوه، د ښکنځلو څخه ځان ساته، آذان کوونکی چي په مسجد کي آذان وکړي، نو تر نورو خلګو د مخه مسجد ته د تللو دپاره تياري کوه، چي عام اولس په دې کار کي درڅخه د مخه نه سي، د وخت د باچاه سره په همسايتوب کي نږدې استوګنه مه کوه، که چيري په خپل همسايه کي يوه بده خبره ووينې، نو د باچاه څخه يې پټ ساته، ځکه چي دا په امانت کي راځي، او د خلګو رازونه مه ښکاره کوه، که څوک د يوې معاملې د اصلاح په باره کي مشهوره درڅخه وغواړي هغه ته د خپلي پوهي مطابق صحيح مشهوره ورکړه، په دې سره به الله (جل جلاله) ته نږدې سي. زما دا وصيت ښه په ياد ساته که الله (جل جلاله) ته منظوره يعني قبول وې، نو دغه وصيت به تاته په دونيا او اخرت کي خير در ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همت او بې همتي: د درواغو ويلو څخه ځان ساته، حق او باطل په خپلو کي مه سره ګډوه، په خپلو ټولو کارونو کي د غيرت او بهادري څخه کار اخله، هر وخت سپين کالي اغونده. د کم حرص او کم دنياوي محبت په ساتلو سره خپل زړه موړ يعني غني لره، خپله تنګسه چا ته مه وربنکاره کوه، مګر که ډير تنګدسته او فقير يې نو همت مه بايله، ځکه چي د کم همته انسان مرتبه کمه وي، پر لاره چي ځې شاوخوا مه ګوره سيده دي لاره ته ګوره. کله چي حمام ته ننوځې نو د حمام کولو مزدوري تر نورو خلګو ډيره ورکوه، چي په عام اولس کي د ډير بامروته او د لوړي مرتبې انسان وپيژندل سې. د خپل ضرورت سامان کسبګر او نورو کاريګرو ته په خپل لاس مه ورو وړه، بلکي د ځان د پاره يو اعتباري کس نوکر ځان ته ودروه، چي دغه کارونه هغه وکړي. د درهم او دينار د خرڅولو او رانيولو په وخت کي دير فکر کوه، د درهمو شميرل خپله مه کوه، په اعتباري بنده يې کوه. د دنيا مال او اسبابو ته د قدر په نظر مه ګوره، ځکه چي د علم د خاوندانو په نظر کي دا هيڅ حقيقت نه لري، د الله (جل جلاله) سره چي کم نعمتونه دي هغه تر دنيا غوره ګڼه، ځکه چي هغه ډير غوره دي، لنډه دا چي خپلي ټولي دنيايي معاملې بل چاته سپاره چي ستا ټول فکر او ذکر علمي دين ته سي، په دا رقم به دي ټول ضرورتونه په اسانه سره پوره سي.

د ليونيو (مجذبانو) او هغه د عالمانو چي د حجت او مناظري په کولو نه پوهيږي خبري مه ورسره کوه، او ځيني د ځانه جوړونکي مسئلو ولا چي د خلګو په معاملاتو کي عجبه عجبه مسئلې بيانوي هغوی به ستا د شرمولو په خاطر څه نا څه کوښښ کوي، د خپل بي عزتي په مقابل کي به ستا هيڅ پروا نه لري، حالانکي ښه پوه وي چي ته پر خقه يې. کله چي د لوړي مرتبې پر خلګو پيښ سې تر څو چي هغو تاته پخپله مناسب ځای نه وي درکړی، ته کوښښ مه کوه چي ځان خامخا پر هغو دروند کړې، هسي نه ضرورت درته پيښ سي. که چيري پر يو کلي پيښ سوې چي د مسجد امام يې نسته، نو د خپل جانبه د امامت د لمانځه دپاره مه ورمخته کيږه، تر څو چي د اعزاز په توګه هغوی تا ورمخ ته نه کړي. د صحراو د غرمې په وخت کي حمام ته مه ځه، د سيلونو ځای ته مه ځه مه راځه. کله چي د باچاه ظلم او ستم راوخلي، نو هلته مه بندي کيږه، البته کي دي دا يقين وي چي ته به يې د ظلمونو څخه منع کړې او خبره به دي ومني د حق او انصاف څخه به دي کار واخلي، نو بيا خير دی ځکه که باچاه ستا په وړاندي ناجايزه کارونه کوي او اکثر وخت به حالت داسي وي چي ته به يې نه سې منع کولای، نو په داسي حال کي به خلګ دا فکر کوي چي د باچاه ظلم او ستم پر حق دی.

د مجلس آداب: په علمي مجلس کي د قهر او غوسې څخه ځان ساته، عام اولس ته د قيصو اورولو خوند مه ورکوه، ځکه چي قيصه ويونکي اکثره وخت په قيصه بيانولو کي د درواغو څخه خامخا کار اخلي. که چيري د يو چا علمي مجلس ته د مشاروت دپاره د تللو نيت وکړې، که دغه مجلس د فقهي وي په کښي کښينه خبري په کښي وکړه، چي دا د تعليم درجه لري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې غرض چې خلک ستا د موجودګي څخه په دې ډُهکه نه سي، چې ستا مخاطب د علم څخه باخبره دی، که څه هم په حقيقت کې داسي نه وي او که چيري مخاطب سړي د فتوا د پوهيدو جوګه وي، نو فتوا ورته بيان کړه، که نه وي نو پريږده يې او په دې غرض هيڅ ځای مه کښينه چې بل سړی دې ستا په مخکي درس ورکوي، بلکې د نګراني دپاره د خپلو ملګرو څخه يو کس هلته کښينوه، چې هغه تاته د ټولو خبرو حال او احوال بيان کړي، چې څه يې ويلي دي؟ څنګه او څونده يې ويلي وه؟ د ذکر او بيان داسي مجلس ته مه حاضريږه چې ستا د شان او شوکت دپاره يو چا جوړ کړی وي، يا ستا د طرفه د هغه کس د نفس د اصلاح دپاره قايم سوی وي. د نکاح تړلو کار خطيب ته حواله کړه او همداسي د جنازې او اخترونو د لمانځه د امامت کار هم بل چاته وروسپاره، اخري خبر دا ده چې ما په خپلو نيکو دعاوو کې مه هيروه، او زما د طرفه دا نصيحتونه ومنه او قبول يې کړه، دا مي ستا او د مسلمانانو د فائدې دپاره بيان کړی دی.

د يوسف بن خالد سمتي (رحمة الله عليه) په نامه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وصيتونه:

يوسف بن خالد سمتي (رحمة الله عليه) د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په شاګردي کښې ډير وخت تير کړ، کله چې يې سبق سرته ورسوی فاضل سوو، نو د کوفې څخه د خپل وطن بصرې ته د روانيدو په وخت کې د خپل اُستاذ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خدمت کې حاضر سو چې رخصت ځيني واخلي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: د نصيحت په توګه يو څو خبري درته کوم، بيا نو دا خبري په زړي کې وساته، که تللې په کار به درسي. که دي د عامو خلګو سره دي سر او کار وي، او که دي د علم د خاوندانو سره د ځان اصلاح وي، او که د خلګو د اصلاح کار وي، غراض دا چې ددې خبرو زده کړه د دين او دنيا يعني د دواړو دپاره ضروري ده، که دي عمل په وکړی نو دا به ستا دپاره د علم د خپرولو په وسيله تاته د يوې لويي خير ښيګني ذريعه وګرځي، په دې خبره ځان پوه کړه چې کله ته پر ځان چار چاپيره خلګو ته په ښه نظر ونه ګورې، نو هغوی به ستا دښمنان سي که څه هم ستا خپل مور او پلار وي، که دي د خلګو سره ښه سلوک کوی هغوی به تاته د قدر په نظر ګوري، او ستا دپاره به داسي وي لکه د مور او پلار په شان. بيا يې ورته وويل: لږ صبر وکړه يو څو نوري خبري هم درته کوم او يو څو نور کارونه هم دربښيم، چې د هغو اهميت په خپله تقسيم کړې او شکر به پر وباسي. يو لږ ګړی وروسته يې ورته وفرمايل: ته يې داسي وګڼه لکه زه چې ستا سره يم او ته بصر ته ورسيدې، خپلو مخاليفينو ته مخامخ سوې خپل ځان دي تر هغو غوره وګڼی يا تاته د خپل علم په سبب ځان تر هغو غوره درته ښکاره سوو، او د هغو سره په راشه درشه کې دي ځان بد درته ښکاره کيدی، په ماحول کې دي نفس تنګ سو او د هغو مخالفت ته دي ملا وتړله، ستا طبيعت د هغو سره نه لګيدی، هغوی دي پريښول هغو ته پريښولې، تا هغو ته بد رد وويل او هغو تاته بدعتي او ګمراه وويل، او دغسي مو پر يو او بل بهتان ويل شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، اوس ته دې ته مجبوره سوی یې چي یو ځای ته ځیني ولاړ سې ځان ځیني پناه کړې، دا نو ډېره لویه بې عقلي ده داسي سړي ته هوښیار نه سي ویل کیدای، چي د یو چا سره یې معامله راسي او د هغې تر حل کولو ورسره ګذاره ونه کړای سي.

د مشر او کشر فرق او د یو بل حق ادا کول: کله چي ته بصرې ته ننوځې، نو خلګ به ستا هرکلي ویلو او ستا سره د ملاقات کولو دپاره ستا مخ ته راوتلي وي، ځکه چي هغوی پر ځان دا ستا حق ګڼي، نو ته هم په هغو کي د هر یو کس سره د هغه د شان مطابق مخ ته ورسه، د مشرانو آدب کوه، عالمانو ته په درنه سترګه ګوره، د سپین ږیرو د عزت خیال ساته، د ځوانانو سره په نرمی چلند کوه، اولس ته نږدي اوسه، د نیکانو او بدانو سره کښینه، د وخت د باچاه سپکاوی مه کوه، هیچاته په سپک نظر مه ګوره، خپل رازونه چاته مه معلومه وه، بې ازمایښته پر چا اعتبار مه کوه، د کوچنیانو او سپکو خلګو سره ناسته او ولاړه مه کوه. د چا چي طبیعت نه درسره لګیږي د میني او محبت اظهار مه ورسره کوه، د هغو دعوت مه قبلوه او مه تحفه ځیني اخله. نرمي خبري، صبر او زغم، ښه ګذاره، خوش اخلاقي، په سړه سینه او پراخه زړه د خلګو سره ژوند تیرول، ښه کالي اغوستل او خوشبویي لګول پر ځان لازمي کړه. په سپرلیو کي همشه ښه سپرلي درسره ساته، ضروري حاجت یعني اودس ماتي دپاره وخت مقرره کړه، په دې سره به هر کار درته اسانه سي، د خپلو دوستانو او ملګرو څخه مه بې پرواه کیږه، د هغو د اصلاح فکر تر ټولو د مخه کوه، مګر خبري په نرمي ورسره کوه، نرمي او ښې خبري خپل عادت وګرځوه، ډیر په غصه کیږه مه ځکه چي په دې سره نصیحت اوریدونکی خپل سپکاوی محسوسه وي، خلګو ته داسي موقع مه ورکوه چي ستا بې ادبي وکړي، که پر دې خبرو دي عمل وکړی نو وخت به دي ښه تیر سي.

بندګي او زندګي: لمونځ په باقاعدګي سره کوه، دسترخوان پراخ ساته ځکه چي کنجوس سړی سردار نه سي جوړیدای، د خپل ځان دپاره یو صلاح کار ودروه، چي د خلګو د حالاتو څخه دي خبره وي او که چیري دي په نظر کي وراني او خرابي راسي، د اصلاح کوښښ یې کوه، او خپله مهرباني نوره هم زیاته کړه، که څوک غواړي نو لیدل او کتل ورسره کوه، او که یې نه غواړي هم. څوک چي نیکي درسره وکړي د هغه سره نیکي کوه، او که څوک بدي درسره وکړي، نو ته نیکي ورسره کوه، د مهرباني او معافي څخه کار اخله، خلګ د نیکي وطرفه ته وربوله، کم څوک چي تاته د نقصان رسولو نیت لري د هغه څخه ځان ساته، پردی حق پر ځان مه پریږده، یو مسلمان کس که ناروغه سي پوښتني ته یې ورځه، که یو څوک ستا سره تعلق پریږدي ته یې مه ورسره پریږده. څوک چي درسي عزت یې کوه، که چا بد درپسي وویل معاف یې کړه، څوک چي ستا خلاف په تا پسي غلطي خبري کوي، ته د هغو په حق ښه خبري کوه، څوک چي مړ سي حق یې ادا کړه. که د یو چا ښادي وي مبارکي ورکوه، که چاته تکلیف یا مصیبت ور ورسیږي او یا آفت پر راسي غم شریکي ورسره کوه، که تاته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چا كار پيښ سي د هغه كار وركوه، كه يو څوک فرياد درته كوي، نو ته غوږ ورته نيسه، كه يو چا ته ستا د مرستي ضرورت وي مرسته ورسره كوه، څومره چي دي وس كيږي د خلګو سره د ميني او محبت سلوک كوه، هر چاته سلام وراچوه يعني سلام ادا كوه، كه څه هم كمزوری وي، كه په مسجد كي د يو څو كسانو سره ناست وې، هغو په يوه مسئله كي خبري اتري كولې ته د هغو د رايي مخالفت مه كوه.

تعليم او تربيه: كه ستا څخه يو څوک د يو خبري پوښتنه وكړي او د هغه خبري څخه مخكي په خلګو كي مشهوره وي، نو هغه بيان كړه ورته او بيا ورته ووايه چي په دې كي يو بل قول هم سته چي هغه داسي او داسي دی، او دليل يې دا دی كه هغو ستا دا خبري واوريدې، نو يقيناً د هغو په زړونو كي به ستا قدر او عزت پيدا سي، او څو ک چي ستا مخالفت كوي هغه ته داسي لاره وروښيه چي اصلاح سي. خلګو ته اسانه خبري كوه، ګراني او پيچيده مسئلې مه ورته بيانوه، داسي نه چي هغوی غلط مطلب ځيني واخلي. د هغو سره مهرباني كوه، كله نا كله خوشطبعي ورسره كوه، يعني خندا، او ټوكي ورسره كوه، په دا رقم به د خلګو د علم سره مينه او محبت پيدا سي، هميشه د علم خبري ورته بيانوه، كله نا كله د هغو خلګو دعوت هم كوه چي ډوډۍ ته يې راغواړې، د خلګو سره سخاوت كوه، د هغو كوچنی كوچنی خبري تر نظر لاندي مه نيسه، د هغو ضرورتونه پوره كوه، مهرباني ورسره كوه، پر كوچنيو كوچنيو خطاو يې سترګي پټوه، ځان ناغرضه كړه، د يو چا مخ ته تندی مه خرابه وه، چاته بد و رد مه وايه، د خلګو سره داسي ګډ اوسه لكه ته چي د هغو څخه يو يې، د خلګو سره داسي سلوک كوه لكه څنګه چي يې د ځان دپاره خوښوي او د هغو دپاره هغه څه خوښه كړه چي ته يې د ځان دپاره خوښوې.

د نفس پاكي، د ښو او بدو فرق: خپل نفس قابو ساته، پر خپل حال او احوالو نظر لره، د فتنو او شرونو څخه ځان ساته، كه يو كس هر څه درته ووايي ته يې بې عزته كوه مه، كه څوک ستا خبري په غور او فكر سره اوري ته هم د هغه خبري په غور او فكر سره اوره، كه خلګ تاته تكليف درنه كړي ته يې هم مه وركوه، په څه چي خپله خوشحاله كيږي په هغه څه نور خلګ هم خوشحاله ساته، په ښه نيت خلګو ته هركلی وايه، حق ويل پر ځان لازم كړه، تكبر مه كوه، د ټګی څخه هم ليري اوسه كه څه هم خلګ ټګي درسره كوي، په امانت كي خيانت مه كوه كه څه هم خلګ خيانت درسره وكړي، په وفاداري او تقوا كي ټينګ اوسه. كه چيري تا زما په دې وصيت عمل وكړی نو ته باور وكړه چي د هر مصيبت څخه په آمن كي سې، بيا امام اعظم ابوحنيفه ورته (رحمة الله عليه) وويل: دا وخت زه په دوه حالتو كي راګير يم په دې غمجن يم چي ته به زما د نظره پناه سي او بل طرف ته خوشحاله په دې يم چي ته به ښه او بد وپيژنې، كله كله خط راستوه، او د خپلو ضرورتونو څخه مي خبره وه، ته ماته د اولاد په رقم يې او زه ستا دپاره د پلار په مرتبه كي يم. ځه په مخه دي ښه د خدای (جل جلاله) په آمن كي اوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ژوند انقلابي او سياسي اړخ

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سياسي ژوند درې اړخونه درلودل، اول دوه اړخه يې طمعه ګيره وه، يعني انقلاب يې راوستى مګر په يوازې سر جنګيدى د ذاتي مفاداتو د عزمت او شهادت څخه علاوه د قومي، ملي او اجتماعي مفاداتو مخنيوى کيدى، په ښکاره ډول نشر ناممکن وو، ددې وجهې څخه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د يوې منصوبه بندى ماتحت څه قوانين جوړ کړل، د هغو پر جاري کولو او چلولو باندې په مثالي ډول کامياب سوو، کله چې د طمعي دوره تيره سول د تحريک غونډې خپل فرضيت ادا کړى د انقلابي تحريک په جوړولو لاس په کار سوو، د سرتاسري انقلاب پر ځاى يې د اسلامي انقلاب توقع او اُميد درلودى، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دې لړ کې د خپل ځان قرباني کولو ته تيار وو، په تيره بيا د قومي، ملي او اجتماعي مفاداتو د مخنيوې دپاره يې د مروه ګټه وکړه، چې د ټول ملت دپاره يې د اسلامي نظريو د سياسي کرښو برجونه ودرول، او اصول يې قايم کړل.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د سياست درې اړخيز دورونه: لومړى دور يې په قاهره کې د بنو اميه د جبري ظلمونو خلاف وچلول سوو، په هغه زمانه کې امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يوه داسې سياسي شکينجه تياره کړه، چې يو پلا يې د حضرت زيد د شهادت فتوا ورکړه، او بله پلا يې د وزير ابن هبيره د وار په وار ظلمونو پر خلاف يې تحريک وچلوى، د بنو اميه پر خلاف چې عباسيانو کم تحريک راپورته کړى وو خالي انقلاب وو، صرف د مخونو د بدليدلو دپاره چليدى اسلامي نظام نه وو په کښې، د هغو پر خلاف يې د حرمينو هجرت هر چاته په ګوته کړې.

په دوهم دور کې يې د تحريک واک لړ وغزيدى، کله چې د عباسيانو يو سرکښه ابو مسلم خراساني ډيرو ظلمونو ته لاس ورواچوى، د ده پر خلاف ابراهيم صائغ په يوازې سر بغاوت شروع کړى، دغه لاره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته هواره کړه، يو لوى جماعت يې راوبلې، يو پوخ سياسي قوت يې پيدا کړى، داسې تحريک يې وچلوى چې ابراهيم صائغ د خپل ايماني جذبې په ترځ کې د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سياسي نظريه د خياله وايسته، د قومي، ملي او اجتماعي مفاداتو پر ځاى يې ذاتي ګټو ته لاس ورواچوى يعني د شهادت لوى مقام يې حاصل کړى. مګر هغه وخت د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) نظريه داسې وه چې د اُمت د روښانه مستقبل دپاره يې د اسلامي قوانينو تنظيم جوړ کړى او داسې اشخاص ورته پيدا کړه چې راتلونکي زمانه يې د قدر مثال نه سي بيانولاى، د عزمت، شهادت او ذاتي قرباني ورکولو جذبه خو يې په زړه کې وه، ليکن امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دې تيرو حالاتو ته داسې روح ورکول غوښتل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ويل: که د ځان قرباني ورکړل سي، نو په قومي او ملي سطحه باندې به د اجتماعي مفاداتو د تحفظ، بقاء او استحکام په صورت کې به زياته قرباني فوت سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم دور د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د سياسي ژوند اخري دور دی، کله چي د ابو جعفر منصور په زمانه کي د اسلامي فقهي او ائيني کار پوره سوو، د مخکي پر مخ هري خوا ته د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) تيار کړل سوو ځوانانو کار شروع کړی، بل طرف ته د محمد عبدالله د پاک لمنئ خاوند او ابراهيم د رضا مندي خاوند په ټول ملک کي د خالص اسلامي انقلاب راوستولو دپاره يو لوی او پراخ تحريک د جال په شکل کي خپور کړی، دا تحريک خالص د اسلامي نړۍ د مضبوطولو دپاره په کار اچول سوی وو، د اسلامي انقلاب توقع او طمع يقيني وه ځيني، چي ددې کار دپاره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د کلونو راهسي انتظار وو، په يوه صلاح او مشهوره ټول د علمي ميدان غيرِي ته راغلل، مګر پر تدبير باندي تقدير غالبه وو، چي دغه تحريک د منځه ولاړی.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حکومت د انتقامي حربو د خوا ښخه په نخښه سوو، اخر دا چي د ځان قرباني يې ورکړه او د شهادت جام يې نوش کړی، او کم لوی قيمت چي يې حاصل کړی دی هغه يې د ذاتي شهادت ښخه علاوه د قومي، ملي او اجتماعي سطحو کي د (۵۳۰) پنځه سوه ديرشو کالو پوري د حنفي فقهي د ائين پيروي ښخه جوړ دی، چي مثال يې په تاريخ کي د دنيا يو انسان هم نه سي پيشولای، او يوازي دا نه بلکي د حنفي فقهيانو مخ ته د عباسيانو د زور زياتي، سر ټيټي، د ځلور پوړيزه فقهي ودانۍ تر قيامته پوري د خالص اسلامي شرعي فقهي قوانينو مهمي نکتيي، د اسلامي نظام د حکومتوالي دپاره علمي نقشې، د بهادري کوټلي تدبيرونه، د بصيرت همت او عظمت نه ختمدونکي نقشې، او پر دې علاوه د استقامت پوخوالی، د شهادت مينه، لوړي حوصلې، تاريخي کارنامې دا هر څه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د دايمي نښو نښانو ښخه دي، که چيري د دغه لوی امام چي د امامانو سراج او د اُمت د سر تاج دی، د سياسي نظريو او د خالص انقلابي ژوند مطالعه په ژور نظر سره وکړل سي، نو کيدای سي چي په ژوند کي مخ ته تګ يې په نصيب سي او دغه د اولس کښتی به د سمندر غاړي ته په اساني سره ورسوي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په زمانه کي اسلامي او اولسي سياست: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په داسي وخت کي زيږدلی وو، چي ټول اولس د بنو اميه د ظلمونو د په وجه ذليله کيدل، د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) مينه ناک لمسي حضرت امام حسين (رضي الله عنه) او د هغه اهل او عيال يې د فرات پر غاړه د تندي د لاسه شهيدان کړل، د حرمين شريفين عزت يې په عام طور سره رسوا کړی وو، په مسجد نبوي کي تر يو څه وخته پوري د سعيد ابن مسيب ښخه ماسيوا بل چا د لمونځ کولو جرات نه سوای کولای، د حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) لمسي حضرت عبدالله بن زبير يې د بيت الله شريفي پر چوکاټ لوړ په وينو کي لت پت کړی وو، په دې لړ کي تر ټولو رحم کوونکي حالات د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د پيدايش پر ځای په کوفه کي وه، چي په دې ښار کي اول سره ابن زياد او بيا د حجاج بن يوسف زورورو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورو پواسطه د غريبانو او بي کسو پر سرونو ظلم کړی وو، چي په دې وخت کي د خواجه حسن بصري (رحمة الله عليه)، ابن سيرين (رحمة الله عليه)، ابراهيم نخعي (رحمة الله عليه) او د امام شعبي (رحمة الله عليه) غوندي لويو لويو عالمانو دپاره هم د چوپ کښېنستو څخه ماسيوا بله چاره نه وه. مګر کله چي د قدرت د ازلي قانون سره سم د اُمت کښتئ په خطرناکو ظلمونو کي په ډوبيدو سوه، په دې وخت کي غيبي لطيفه راوځليدل او (انا له لحافظون) په شکل د مرستي دپاره يو لوی بند جوړ سوو، دلته هم داسي وسوه د بنو اميه د مړو لاسونو څخه د مخرج الحی من الميت په نتيجه کي حضرت عمر بن عبدالعزيز ته مورنئ تخت په نصيب سوو، دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ځوانئ زمانه وه، چي عمر بن عبدالعزيز د اسلامي ملت د آزادي دپاره اولني منشور وټاکی، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ځوانئ د احساس بلني په وجه د عبدالعزيز د منشور څخه داسي متاثره سوو، چي د يو لوی همت څخه يې کار واخيستی او د نبوت د علومو د يو کلک عالم امام حماد بن ابی سليمان (رحمة الله عليه) په حلقه کي داخل سوو، تر لسو (۱۰) کالو پوري يې ديني خدمتونه ورسره وکړل.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مکي ته هجرت او بيرته کوفې ته ستنيدل: په دې وخت کي د تقدير فيصله داسي وه چي د حضرت عمر بن عبدالعزيز د خلافت زمانه څه باندي دوه دوه نيم کاله وه، وروسته تر دې دی هم وفات سوو، د ده پر ځای يزيد پر تخت کښېنستی د يزيد څخه وروسته د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په زمانه کي د بنو اميه ښېړ. خليفه ګان يو په بل پسي راغلل، دوی د نبوت لاره پرې ايښه وه، د عجمي پاچاهانو طريقه يې اختيار کړې وه، بې ځايه طرفداري خو يې شغل ګرځيدلی وو، د يوې ښځي په خاطر به يې لوی لوی قاضيان برطرفه کول، ځکه خو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ددې ظالمانو د ظلمونو څخه په تکليف سوو، مکي ته يې هجرت وکړی او د عباسيانو تر خلافت پوري هلته موقيم وو. کله چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بيرته کوفې راغلی، تر کمه ځايه چي د فقهي د قانون رينې غزدلي وې، تر هغه ځايه يې د نافذولو دپاره د داسي سياسي طريقې کار اختيار کړی وو، چي په هغه کي د اوسني سياست غوندي پروپاګند، بې ځايه نعري وهل، په جلسو کي بد او رد ويل او داسي نور څه نه وه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د خپلو خواهيشاتو پر ځای د قانون پيروي غوښتل، د دوی سياست په ډېر خاموشي سره مخ ته تلی، مګر د حکمت څخه خالي نه وو، کله چي يې د انقلابي سياست نتيجه معلومه سوه، نو دا نتيجه يې د اسلامي سياست دپاره اصول وګرځيدل او د تاريخ په پاڼو کي ثبت سوه، کله چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د عباسي خليفه ابوجعفر منصور غوښتنه چي د قضاء عهده وه ونه منل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: ای اميرالمؤمنينه! ستا پر شاوخوا چي څومره خلګ دي دوی ته داسي افسران په کار دي، چي ستا په وجه د دوی قدر وکړي، په دې خبره کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خليفه منصور ته دا خبرداری ورکړی، ستا چي څومره نوکران، افسران، ياران او دوستان دي، دوی انصاف، د قانون پيروي او يوالی نه خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا هم وويل: كه چيري ستا ذاتي مقدمه را مخته سي او ته دا وغواړي چي فيصله دي په قانون سره ونه كړل سي او ته پر ما باندي فشار راوړي چي فيصله بي قانونه وكړم، نو دا په ياد لره چي په درياب كي مي غرقيدل خوښ دي، مگر دا هيڅ كله نه منم چي په فيصله كي دي انصاف نه وي، دا خبر په ښايستو الفاظو او خالي نظر سره نه وه، بلكي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په علمي توګه په باريكو حالاتو كي هم د اسلامي سياست د اصلاح او تدبير اصول څرګند كړي دي.

د حكومت د پيسو اخيستلو څخه منع كول: يو وخت ابو جعفر منصور امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته يو څه پيسي د ډالۍ په توګه راوليږلې، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا پيسي قبولي نه كړې، دوستانو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته مشهوره وركړه، ورته ويې ويل: دا پيسي واخله خيرات يې كړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: د دغو خلګو سره څه حلال سته؟ د دغو خلګو سره څه حلال سته؟ يعني د باچاهانو سره؟ د وفات څخه وروسته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د بغداد د عامي هديرې څخه ليري يوازي ښخ كړل سوو، كله چي خليفه منصور راغلی په لمانځه كي شريک سوو، وروسته يې پوښتنه وكړه: ولي تاسو د عامي هديري څخه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) جلا ښخ كړی دی؟ خلګو وويل: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د بغداد مځكي ته د غلا مځكه ويلي ده، او دا يې فتوا هم وه، او وصيت يې هم كړی وو، ويل: ما به په داسي مځكه نه ښخوي چي هغه په ناجايزه طريقي سره حاصله سوې وي، خليفه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د قبر طرف ته د ګوتي په نيولو سره وويل: د مرګ څخه وروسته هم ما ستا څخه څوک نه سي خلاصولای.

كله چي د حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) پر اُمت باندي د جابيرو باچاهانو او اميرانو د طرفه ظلمونه كيدل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به دا نه سوای زغملای هر وخت به خوابدی وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) غوښتل چي د حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) اُمت ددې ظالمو حكمرانانو د غلامۍ څخه خلاص كړي، يو وخت د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په مخ كي د امام زين العابدين زوی زيد بنو اميه شهيد كړی، بيا په دې سلسله كي د اهل بينو د خاندان څخه د امام حسن لمسی محمد بن عبدالله چي په نفس ذكيه باندي مشهوره وو، د عباسي خليفه ابو جعفر منصور د ورور د عيسی د لاسه شهيد سوو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي به داسي حالات ليدل بې اختياره بې ژړل، راوي وايي: كله چي به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د زيد بن علی شهادت به يې په ياد سو ډير به يې ژړل.

د عبدالله بن زبير زوی وايي: ما امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وليدی چي د محمد بن عبدالله حسن د شهادت څخه وروسته چي د ده ذكر به يې كوی نو د سترګو څخه به يې اوښكي راتللې، همداسي د تاريخي يادونو په رڼا كي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د زړه كيفيتونه ښه څرګنديدای سي، د مسلم بن سالم وينا ده وايي: ما د لويو لويو شيخانو سره ليدل دي، مګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه ماسيوا ما داسي څوک نه دی ليدلی چي د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د اُمت ډير احترام کوونکی وي. د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په زړه کي چي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د اُمت سره څومره مينه وه، هيڅ چاته دا مينه نه سي څرګنديدلای، همدا وجه ده چي خپله به يې تر دوو درهمو څخه زيات خوارک نه کوی، کله کله به يې د وچ دال ډوډۍ خوړله. مګر بل طرف ته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ناتاونانو، مظلومانو، عالمانو، طالبانو، فاضلانو، امامانو، مجتهدانو د دين خدمتګارانو او د اُمت د عامو کسانو دپاره يې د تجارت کاروبار کوی او غمخوري به يې ورسره کوله، د دوی ټولو هر رقم مرستي ته يې ملا تړلي وه، غريبانو ته به يې په مظاربت پيسي ورکولي او مرسته به يې ورسره کوله.

د امانتونو د ساتني دپاره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اسلامي تګلاري سلسله قائمه کړه، د همسايګانو سره ښه سلوک، د حاجتمندو د نيستي ليري کول، د کونډو نګراني، د مسکينانو سره سخاوت، طالبانو ته وظيفې او عالمانو محديثنو شيخانو ته پيسې ورليږلې، راوي زياتوي: په طالبانو کي چي به چاته يو ضرورت پيښ سوو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به ورحلوی، تر داسي حده چي ودونه به يې هم ورکول، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خپلي پيسې پر دوی باندي مصرفولې او په باقدګي سره يې وظيفه هم ورکول، قاضي ابو يوسف (رحمة الله عليه) وايي: تر (۲۰) کالو پوري امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) زما د اهل او عيال مصرف کړی دی.

په کوفه کښي د تاريخ يو مشهور کس ابن نصرانيه خالد د ۱۰۵ څخه ۱۲۰ هجري کال پوري وزير پاته سوی وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د (۲۵) پنځه ويشتو کالو د عمر څخه تر (۴۰) کالو پوري وخت د ده د وزارت په وخت کي تير کړی وو، په دغه (۱۵) پنځلسو کالو کي ددې وزير د لاسه د کوفې خلګ په اور کي پراته وه، پر اسلام يې د کفر رنګ غالب کړی وو، د مساجدو منارونه يې سپيره کړي وه، عيسويانو ته به د مسلمانانو د ګټي خوړلو واک ورکړی وو، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته به يې په سپک نظر کتل، پر حضرت علی (کرم الله وجه) او حضرت عثمان (رضي الله عنه) باندي به يې لعنت وايه. العياذ بالله

د حضرت زيد بن علی (رحمة الله عليه) کوفې ته راتلل: د زور زياتي په دې تيريو کي د نبوت د ګلستان يو څراغ حضرت زيد بن علی چي کوفې ته راغلی، نو دا د کوفې د مظلومانو دپاره د رحمت د فرښتې راتلل ثابت سول، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو راز دار منصور بن معتمر د حکومت د مقابلې دپاره د حضرت زيد (رحمة الله عليه) لاس نيول شروع کړه، چي په دغه تحريک کي پوره (۴۰۰۰) څلور زره انسانانو د حضرت زيد لاس نيوی يې وکړی، او د بنو اميه د وران کارو مقابلې ته يې ځانونه وسپارل، سفيان ثوري (رحمة الله عليه) او امام اعمش (رحمة الله عليه) هم د حضرت زيد (رحمة الله عليه) سره په دې کار کي د مرستي مظاهره وکړه، ګويا چي په سياسي کارونو کي يې پرده داري خوښوله، مګر د حضرت زيد (رحمة الله عليه) په نظر کي صرف او صرف د اسلام لويي وه، نوموړي د کوفې د سياسي، اولسي او رياستي نظام جوړونکي مجتهد امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) معلوميدی، بيا يې خپل قاصد فصيل بن زبير امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته ورولیږی. په تيره بيا امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي د شرعي قانون د مخه د جبرناک حکومت خلاف کم اسلامي سياست خپل کړی وو، هغه د ډيرو د فکره څخه وتلی وو، د سياست لفظ د امر باالمعروف او نهي عن المنكر پر ځای استعماليدای سي، لکه په نورو الفاظو کي مطلب دا چي په اسلامي طريقو خصلتونو باندي خلک درول او دعوت ورکول او د اسلامي اولس څخه په قرآن کريم او حديث په دواړو کي ددې کار د بلني غوښتنه سوې ده، په هغه زمانه کي د حديث پوهانو يوه لويه ټولګۍ د ظالمو باچاهانو په مقابله کي خاموشي اختيار کړې وه، دوی د خپلي ذاتي زمه واري پوره کولو په لړ کي د خپل وس مطابق وخت تيروی، دې کار ته به يې د اسلامي سياست جامعه وراغوستل.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) به يو طرف ته د ظالمو باچاهانو په مقابله کي بې طرفي اختيارول او يا به يې ځان ليري ځيني ساتی، مګر بل طرف ته به يې خپل سياسي مسلک اختياروی او که به په دې کار کي د امر باالمعروف او نهی عن المنکر قرآني فريضه منسوخ کيدل، نو دا به يې خلاف ګڼل، هلته به امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حالاتو د نتيجو د اندازو څخه بې پروا سوو، د سراسري سياست د خاطره به ميدان ته وروتی، د شرعي فقهي د نظره او د پيغمبري تعلماتو په رڼا کي به يې دا خبره بې فايدې ګڼله، د ناکاره کار بدلول به يې ضروري ګڼل، مګر کله چي به د ناکاره کار په بدليدو سره بل ناکاره کار ته لاره هواريدل، نو بيا به يې د ډير احتياط څخه کار اخيستی، د قرآن کريم آيتونه، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) حديثونه او د صحابه کرامو نمونې به يې مخ ته ايښوولې، په علمي توګه به يې سياسي لاره اختيارول.

د يوې قوي سياسي غونډي د جوړيدو ضرورت: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا ضروري ګڼل چي د نيکانو په مرسته دي يوه قوي سياسي غونډه جوړه سي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) فرمايلي دي: که چيري د حکومت د ظالمو باچاهانو مقابله کوونکو ته نيک ملګري په لاس ورسي، نو يو تن دي يې مشري وکړي، مګر دا کس دي داسي تن وي چي د الله (جل جلاله) په دين کي د خلګو د يقين وړ وي او خپله لاره پرې نږدي. لنډه دا چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د (۴۰) څلويښت کلنی څخه تر (۷۰) اويا کلنی پوري په سياسي ډګر کي په مسلسله توګه اخته وو، کله چي به د نورو ممکينو لارو فايدمنه موقع په لاس ورتله کار به يې ځيني اخيستی، د سياسي حکمت او د حنفي فقهي پاللو، د شاګردانو لويي حلقې او د قاضيانو لويي ټولګۍ د راتلونکي وخت د ګټې دپاره د حنفي فقهي يو ځای کولو او د هغې د قانوني شکل او پوره نفاذ دپاره د لاري د هوارولو څخه وروسته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د جابر سلطان په وړاندي د حق کليمه وويل او د شهادت يا شهادت ته نږدې د شهادت پياله يې وڅيښله.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) او د بنو اميه د حکومت تر مخه تعلقات چي څنګه وه، په دي باره کي عساکر د حکم بن هشام څخه روايت کوي وايي: زموږ حکومت دا غوښتل چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلي خزانې کلياني امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته ورکړي، او حکومت وويل: که چيري ته دا ونه ومنې، نو پر ملا باندي د چلاخو وهلو ته تيار سه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حکومت دي سزا ته ځان تيار کړی، مګر د الله (جل جلاله) د عذاب څخه يې ځان وساتی. د بنو اميه پر دغه پاليسي باندي وزير يزيد بن عمر بن هبيره ډيره ځارنه کول، ځکه چي د ۱۲۹ څخه تر ۱۳۲ هجري کال پوري په خپله علاقه کي يې آمن راوستلی وو، او دی د هغه وخت لوی سياست پوه وو، هم دی وو چي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خدمت کي يې عرض وکړی، او ويې وويل: شيخ صاحبه راسه! که چيري ته زما سره تګ راتګ ډير کړي، نو ته به ډير فايدمن سي، ستا د طرفه به موږ ته خير راورسيږي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په جواب کي ورته وويل: که ستا خواته درسم نو څه به کوم که ته ما ځان ته ډير نږدې کړې، په فتنه کي به اخته سم او که ته ما د ځان څخه ليري وساتې، ته به ما د ملګرتيا څخه وروسته پريږدې، نو ته به خامخا ما په غم کي مبتلا کړي. امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته خدای (جل جلاله) داسي واضح فطرت ورکړی وو، چي داسي نزديکت يې په فکر کي هم نه راتلی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په بي پرواهي سره ابن هبيره ته دا هم وويل: ستا سره داسي شی نه سته چي زه ځيني وبيريږم.

وزير ابن هبيره امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د ربيع په ذريعه چي د لوی وزارت وړانديز يې ورته کړی وو، داسي يو پيغام ورولیږی: د وزيرۍ مهر به درته حواله سي، څه حکمونه چي نافذيږي او کم کاغذات چي د حکومت د طرفه راوځي، او د خزانې څخه چي څه ايستل کيږي دا به ټول ستا په واک کي وي يعني اختيار به يې ستا په لاس کي وي، کم وخت چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د هغو دا عهده قبوله نه کړه انکار يې ځيني وکړی، د سترو علماؤ د ټولی څخه داود بن ابی هند ابن شرمه او ابن ابی ليلی (رحمة الله عليهم) غوندي فقهيانو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د پوهولو دپاره حاضر سول، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته يې وويل: موږ د الله (جل جلاله) په ذات سره قسم درکوو، چي ته ځان په تباهي کي مه اچوه، موږ خو هم اخر ستا وړونه يوو، د حکومت سره نزديکت په موږ کي يو هم نه خوښوي، مګر موږ په دې وخت کي بله د حل لاره نه وينو يعني ددي څخه ماسيوا بله چاره نه لرو.

د ناصحانو دې ټولۍ ته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: دا عهده خو لا غټه خبره ده که چيري حکومت ما ته دا ووايي: چي د ښار د منځني مسجد دروازې وشميره نو زه دا کار هم نه کوم، د عالمانو ټولۍ چي د ده (رحمة الله عليه) د انکار پر خطرناکو نتيجو باندي يې نظر واچوی ډير حيران سول، بل طرف ته ابن هبيره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د انکار په صورت کي د خپلو ټولو اختياراتو په استعمالولو باندي قسم اخيستی وو، او امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هم د انکار کولو په وخت کي ټينګ قسم واخيستی، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: په خدای (جل جلاله) قسم هيچيري به د حکومت سره شراکت ونه کړم، د ټولګۍ په کسانو کي قاضي ابن ابی ليلی پوه سوو، ملګرو ته يې وويل: پريږدی خپل ملګری امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) **هغه** پر ناحقه دی او علاوه د ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د حكومت سره د تړون د پرې كولو فيصله كړې وه، مګر حكومت هيڅ كله دا نه خوښوله، وزير امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د (١٥) پنځلسو ورځو دپاره بنديخانې ته واستوى، هلته به هم امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته وړانديزونه كيدل، د شاهي كارخانې د مشرۍ وړانديز ورته وسوو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا وړانديز رد كړى، بيا يې د قاضي توب د درجې وړانديز ورته سوو، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) پر خپل ټنيک انكار باندي ولاړ وو، نو وزير ابن هبيره په قهر سوو، د قسم اخيستلو سره يې يو ځاى دا اعلان وكړى، چي ويې ويل: كه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د قضاء عهده قبوله نه كړه، نو په چلاخو به يې ووهم. وزير چي د باچاهي په غصه كي قسم واخستى ټول خلګ د بيري په خاطر ولاړ سول، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په ديني نشه كي غرق وو، د ابن هبيره د سزا نه بلكي د آخرت سزا په يقيني ډول سترګو ته دوري دوري كيدله، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: په خداى (جل جلاله) قسم چي زه به هيڅكله دغه عهده قبوله نه كړم، كه څه هم چي ابن هبيره مي قتلوي، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا جواب د ابن هبيره د حاكميت د منارې د پاره خطر وو، او د هغه د احساس پر دنيا داسي ګذار وو، چي د ډيره تاو څخه ولاړ سوو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يې د بنديخانې څخه ځان ته راوغوښتى، د ډيري غصي څخه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مرګ په فكر كي وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په استقامت او بې نيازۍ سره داسي وويل: د ابن هبيره باچاهي بس تر يو مرګه پوري ده. په دې وخت كي ابن هبيره جلاد ته اشاره وكړه، جلاد د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په لڅولو سره پر ده مبارک د چلاخو درزهارى جوړ كړى، بيرته چي يې بنديخانې ته بوتلى پر سر يې د چلاخو نښي وې او مخ يې هم خوږ سوى وو. امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د مور قدر او احترام په خاطر د چلاخو تر وهلو وروسته به يې ډير ژړل يو چا پوښتنه ځيني وكړه: ته ولي دومره ژاړې؟ امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ورته وويل: پر ما ددې وهلو څه باک نسته، مګر ددې غم راسره دى، كه مي مور داسي ووينې نو څه حال به يې وي.

د عباسيانو انقلابي تحريک او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هجرت حرم شريف ته: د هجرت (١٣٠) كال وو چي د عباسيانو يو سركښه مشر ابومسلم خراساني د بنو اميه د حكمت پر خلاف په ټولو اسلامي ملكونو كي د سازش جال خپور كړى وو، ابرهيم بن ميمون او محمد بن ثابت عبدي او داسي نورو يې ملګري كړې وه، چي په دې انقلاب كي دوى هم مرسته ورسره كول، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د ابومسلم د ظلمونو او ويجاړيو د نتيجو معلومات ورسره وه، كه څه هم دا تحريک په ظاهر سره د بنو اميه د ظلمونو پر خلاف په كار اچول سوى وو، مګر ددې تحريک څخه د يوه صالح انقلاب طمع نه سواى كيداى، خالي د حكومت او د مخونو د بدليدو د پاره په كار اچول سوى وو، د عباسيانو تحريک په دې ورځو كي خپور سوو، د ملک په ټولو برخو كي د بني اميه پر خلاف سازشونه او بغاوتونه شروع سول، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په د غو ورځو كي په حرم شريف كي ژوند كولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هڅه وکړه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) مکي ته هجرت وکړی او تر ۱۳۰ هجري کال پوري هلته پاته سوو، تر څو چي د عباسيانو دغه تحريک د بنو اميه د حکومت خاتمه نه وه کړې، او د خلافت پر تخت يې قبضه نه وه لګولې، نو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په حرمين شريفين کي وو، دلې يې څه باندي (۶) کاله پناه اخيستي وه.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ژوند يوه لويه سياسي کارنامه: د بنو اميه حکومت ختم سوو، عباسيان پر تخت کښېنستل دا لويه انقلابي واقعه د اسلامي تاريخ يو لوی باب دی، د عباسيانو لومړی باچاه ابو العباس وټاکل سوو، لقب يې په وينه تويونکي مشهوره سوو، وجه يې دا وه د ده ملګرو هم په هغه حرکتونو او وينه تويولو باندي شروع وکړه، د څه د وجهي خلګ د حکومت په وړاندي ډير په عذاب وه، دې حالاتو ته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د دماغي سترګو په نظر ورته کتل، د وينه تويونکي حکومت څلورم کال او نهمه مياشتي وه، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په دې وخت کي په حجاز کي ژوند تيروی، د عباسي حکومت سره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د تګ راتګ شروع د ابوجعفر منصور د وخت څخه وسوه، کم چي د عباسيانو اولني خليفه دی، د ابوجعفر سره د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کش مکش د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ژوند يوه لويه سياسي کارنامه ده.

عباسي سرکښه ابومسلم خراساني: د ۱۳۱ څخه تر ۱۳۶ هجري کال پوري د خراسان باچاهي وه، تاريخ پوهان ليکي: د ده د باچاهي په دوران کي د ده د ظلم په سبب د (۶۰۰۰۰۰) لکهو خلګو لاسونه پرې سول، ابو مسلم خراساني د ظلمونو په کولو کي تر حجاج بن يوسف په کمه نه وو، د ده د ظلمونو څخه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خبر وو، مګر ځان يې ددې کارونو څخه غافل نه ساتی، بلکي د اسلامي انقلاب او د شرعي نظام د پيروزيني، خپروني او راوستني په لړ کي خو دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) لومړی نخښه ده، په هغه وخت کي چي هغو لويو لويو کسانو چي د ابومسلم خراساني سره د بنو اميه په ختمولو سره د يوه ښه نظام د راوستولو دپاره کمک کړی وو، کله چي يې د ده دا ظلمونو ته وکتل ټوله پښيمانه سول، ټولو وويل: موږ خو د يوه ښه نظام په جوړولو کي د ده سره لاس يو کړی وو، او امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته تر مخه لا معلومه وه، او ددې کار څخه يې ډډه وکړه، ځکه چي دا د يو خراب انقلاب دپاره لاره جوړيده.

ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) او امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه): په همدې لړ کي د ابراهيم ضائع (رحمة الله عليه) غوندي اخلاص مند او ديندراه بنده وو، دی هم د ابومسلم په دوکه کي راغلی وو، کله چي ده ته حق څرګند سوو د اور د لمبې غوندي يې په زړه کي د حق ګويي او بې باکي جذبه راپورته سوه او دا فيصله يې وکړه، چي ابومسلم خراساني ته دي د ده د ظلمونو سزا ورکړل سي او يو لوی اسلامي انقلاب دي راوستل سي، په دې موده کي يې د کوفې د اسلامي خاوري مځکي ته تګ راتګ شروع سوو، چي د ځان د رهنمايي او همدرۍ دپاره يې پر امام اعظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوحنيفه (رحمة الله عليه) باندي نظر ولګيدى، دواړه په خبرو اترو سره اخته سول، تر ډير بحث کولو وروسته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د وينا مطابق داسي ورته وفرمايل: زموږ دواړو پر دې خبره اتفاق دى چي دا مقابلې ته دريدل د الله (جل جلاله) د طرفه فرض دي، د اتفاقي رائي څخه وروسته ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته عرض وکړ: لاس دي رامخته کړه چي زه لاس نيوى در څخه وکړم.

په انفرادي نفعي سره اجتماعي او ملي فائدي ته هڅه: دا د عباسيانو د حکوکت لومړى دور وه، ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د حکومت د مقابلې دپاره د کم مقصد بلنه ورکول غوښتل، نو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) نظر تر هغه ډير قوي وو، چي وخت به ور پيدا کيدى غنيمت به يې ګڼى، د قوانينو په جوړښت به مصروفه وو، ددې څخه د فراغت په وخت کي به يې د تجارت کاروبار هم ورسره کوى، بل طرف ته به يې د درسي ټولني په کار هم ځان مصروفوى، د ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) صداقت او اخلاص مندي او د هغه تقاضاوي چي څومره مهمي وې پر خپل ځاى ډيري ضروري وې، مګر بل طرف ته ددې د رد څخه ماسيوا ددې حکمت او تدبير قبلول انجام هم په مخکي وو، د انجام په لحاظ سره خو به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) جوړ سوى پرګرام هم د خاور سره خاوري کيدى، او د کمي لاري چي هغو د کاميابي نخښي پورته کولې، هغه هم د هميشه د پاره بنديدلې او بل طرف ته ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) داسي لاره اختيار کړي وه، چي په هغه کي صرف د شهادت، کاميابي او انفرادي ګټه نه وه، نو په دې وجه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ډير ژور غور او فکر کولو څخه وروسته د سياسي پوهي څخه کار واخيستى، ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) ته يې عرض وکړى: اخر زه ستا بيعت د څه دپاره واخلم.

د اسلامي انقلاب د پاره د تنظيمي اتحاد او اجتماعي قوت ضرورت: په داسي لوى مهم مقصد کي چي څومره د تنظيمي او اجتماعي قوت ضرورت وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يې په اړه فکر کړى وو، او دا زموږ او د هغو سياسي لاره ګټل سوي وه، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: که چيري ددې کار په کولو کي څه داسي نيک خلګ مرسته کوونکي سي، او د دوى مشر داسي کس وي چي پر هغه باندي په ديني لحاظ سره يقين وسي، دلته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دا ويل غوښتل چي د يوه تنظيمي او سياسي قوت د پيدا کيدو څخه ماسيوا په داسي خطر کي د ځان اچولو انجام به دا وي، چي يوه غټه قيمتي سرمايه يعني انساني وجود د يو څه قيمت څخه ماسيوا په مفتو کي دي ضائع سي. دومره لويه قرباني ورکول پر خپل ځاى ښه ده، مګر ددې په بدل کي بايد لوى قيمت تر لاسه سي، نو دا نور هم ښه او شرعي غوښتنه ده، په هر حال ابراهيم صائغ (رحمة الله عليه) ته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د وخت د حالاتو او د شريعت د مزاج مطابق خبردارى ورکړى وو، مګر د هغه ايماني جوش، فرضي ادا کووني د عزمت او شهادت شوق هغه روند کړى وو، د عقل، شعور او تدبير د رهنمايي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې بي غمه کړی وو، د هر باطل کار د مقابلې کم اور چي د هغه په زړه کي بليدی، هغه اور امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) هم سوځی، د حکومت څخه بي پرواهي او تر يو څه حد پوري د ممکني لاري د مقابلي کوښښ يې کوی، مګر د دواړو سياسي مذاق وو، او اختلاف چي يې وو، هغه يې صرف په طريقه او کار کي وو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بل سوي اور ته د ور دانګلو پر ځای صبر غوره کړی وو، مقصد يې دا وو ويل که چيري د اجتماعي تنظيم په صورت کي د مقابلې موقعې په لاس راغله نو ډير به ښه وي، د انتظار په لمحو کي يې د شرعي قوانينو او د کار کولو د تياری په صورت کي به يې حق مخته کوی، او باطل به يې شاته کوی، او د امکاناتو څخه د فائدې اخيستلو په وخت کي به يې کوښښ کوی، الحمدالله چي په خپله اراده کي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کامياب سو، الله (جل جلاله) د دواړو موقعې ورسپارل.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سياسي نصب العين: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خپل نصب العين داسي مقرر کړی وو، چي حکومت به د فيصلو په لړ کي د تباهي د طرف څخه د کاميابي وطرف ته رابولي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي کمه نقشه په نظر کي نيولې وه، ددې نقشي په پای ته رسولو سره يې د فقهيانو، امامانو، مجتهدينو، قاضيانو او د متقيانو يو لوی جماعت جوړ کړی، موفق ليکي: اخر د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خبري ځای ونيوی، اميران محتاجه سول امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته، د هر خليفه په دربار کي به د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ذکر کيدی، اميران خو يې محتاجه سول د خليفه ګانو په دربارونو کي به يې لا هم خبري اتري کيدې. مګر دا خبره چي د اميرانو څخه ليري اوسيدل او بيا هغه ځان ته د محتاجه کولو دپاره کوښښونه کول، خپل مجلسونه د اميرانو او خلفاؤ د خبرو اترو څخه پاک ساتل او د هغو مجلسونو ته خپل ذکرونه رسول، صرف دا نه بلکي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خپلو حکمتي تدبيرونو سره داسي صورت جوړ کړی، چي يحيی بن آدم (رحمة الله عليه) فرمايي: خليفه ګانو او اميرانو د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په قوانينو فيصلې شروع کړې، او اخر پر دغه ځای سلسله ختمه سوه، اخر دا چي د خلګو مخونه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته راوګرځيدل، لويو لويو حکمرانانو او اميرانو يې عزت کول شروع کړه، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په سختيو کي هميشه د ځان وړاندي کولو ته ملا تړلې وه، خلګو يې تعرفونه شروع کړل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) خلګو ته داسي کار پيش کړ، چي نورو هيچا داسي کار نه وو پيش کړی.

لنډه دا چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) په خپلو علمي او عملي تدبيرونو سره داسي ماحول جوړ کړی، چي په حکومت کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د شرکت کولو مطالبه د هغې زماني يو عامه غوښتنه جوړه سوي وه، د عباسيانو د حکومت خليفه ابوجعفر منصور چي کله د مدينة الاسلام بغداد د جوړولو کار شروع کړی، نو ددې کار ټوله ذمه واري يې مثلاً: د کار ګرانو نګراني، د تعمراتي اجناسو رانيول او داسي نور... کارونه امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسپارل. د طبراني د ځینو روایتونو څخه داسي معلومیږي، چي په اصل کي خلیفه ابوجعفر منصور په دې کار کولو سره د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څخه دا غوښتنه کول چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د قاضي توب عهدې ته غاړه کښیږدي، مګر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ددې کار څخه انکار وکړی، نو ابوجعفر منصور د خښتو د شمیرولو او د کارګرانو د نګراني وظیفه وروسپارل، وایي: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په انکار کولو سره منصور هم قسم کړی وو، چي خامخا به دي پر دې قضاء باندي مقرره ومه، مګر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په هیڅ رقم دا عهده قبوله نه کړه، د منصور د قسم پوره کولو د پاره امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته یې دغه کار وروسپاری.

د مسلمانانو د دستوري ژوند دپاره د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) کوښښونه: تر دې وروسته هر کله چي به امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د ابوجعفر منصور عباسي سره ملاقات کوی، نو امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) به دا کوښښ کوی چي په حکومت کي دي هغه اسلامي او فقهي قوانین رائج کړل سي، چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څو کاله سختۍ پر تیري کړي وې، ددې څخه علاوه دا هم وسول دنیا د شان او شوکت سره د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په پښو کي ورپریوتله، ابوجعفر منصور ډیر وخت امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته تحفې، هدیې او داسي نور... شیان ورپیش کړل، دپاره ددې چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) به زما کار کوونکی سي، مګر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ددې هر څه څخه مخ اړه وی.

د منصور په دربار کي د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) اولنۍ تقریر: په دې ورځو کي ابوجعفر منصور امام مالک (رحمة الله علیه)، ابن ابی ذئب (رحمة الله علیه) او امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) درې سره خپل دربار ته راوغوښتل، داسي پوښتنه یې ځیني وکړه: رښتیا رښتیا ووایاست! د مسلمانانو د حکومت سرپرستي کم چي الله (جل جلاله) موږ ته حواله کړې ده، آیا موږ واقعاً ددې قابل یو که یا؟ ددې پوښتني په جواب کي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ډیر اوږد تقریر ورته وکړی، زه دلته د هغه تقریر خلاصه درته وړاندي کوم، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ورته وویل: په هیڅ صورت کي ستا حکومت شرعي نه دی، کله چي تا د حکومت واک تر لاسه کړی، هغه وخت هیڅ چیري دوه مفتیان هم ستا پر خلاف متفق نه وه.

ابوجعفر منصور ډیر سنجیده، هوښیار او لوی چل بازه وو، هغه ته د خپل یزیدیت د مرګ نقشه د حسین د قتل په هنداره کي ډیره صفا معلومیدل نو په دې وجه چوپ پاته سوو، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) یې سره د ملګرو په نرمي سره رخصت کړی، مګر بل طرف ته د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) رښتیني خبرو د هغه ټول شکونه کم چي یې د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په هکله درلودل په یقین سره بدل کړل، ابوجعفر منصور وویل: مګر اوس څه کول په کار دي، آیا امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د توري په ذریعه د مخ څخه لیري کړم، او که یا دی دي د زهرو پر ځای د ګړی په ورکولو تجربه کي یو څو ورځي نوره هم جاري وساتل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سياسي تدبير او د ابوجعفر منصور بد حالي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) داسي تدبير جوړ کړی وو، چي ابوجعفر منصور د ډيري پوهي سره يې د سياسي چل بازي په غم کښي واچوی، ابوجعفر دومره ډير پريشانه سو چي د کوفې په هره دروازه کي يې تازي آسونه د تښتي دپاره درولي وه، ده ويل: کله چي د تښتي وخت راسي د هر طرف څخه چي موقع برابريدل د هغه طرف څخه به تښتم، دا هر څه کيدل مګر حکومت دومره غيرت نه درلودی، چي پر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يې لاس بر سوی وای، الله (جل جلاله) د ټول عراق بلکي د ټول مشرق امام او پيشوا جوړ کړی وو.

د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د تابع کولو دپاره اخرنۍ ناکام کوښښ: د ۱۴۶ څخه تر ۱۴۷ هجري سني پوري په دغو دوو کالو کي د امام مالک (رحمة الله عليه) جوابي خبرو ټول حکومتي خلګ مايوسه کړل، او د رائي دوري يې په حکمتي طريقو سره د خلاصي لاري لټولې، چي دا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه د انتقام اخيستلو اخرنۍ تدبير وو، د ۱۴۷ څخه تر ۱۵۰ هجري سنې پوري چي دا د بغداد د تعمير د پوره کيدو او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د وفات کال وو، نو په دې دوه نيم کاله کي منصور په هيلو او بانو بيا د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره تعلقات تازه کړل، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يې د کوفې څخه بغداد ته راوبلی، د قضاء عهدې ته يې مجبوره کړی، اول خو يې د قومي قاضي توب سپارښتنه ورته وکړه، مګر د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) چي دا غوښتنه منظور نه کړه، وروسته يې د يو څو ولايتو ذمه واري وروسپارله، مګر امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دې ته هم غاړه کښينښووله، په اخر کي يې د ټول ملک تر کمه ځايه چي د خليفه منصور په حکم کي وو، د قاضي القضات عهده ورته حواله کړه.

امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د وزارت عدليي د لويي مرتبي وړانديز او د ده (رحمة الله عليه) د ژوند اخرنۍ ټوټکه: لنډه دا چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د اسلامي عدالت د تنظيم او نظام دپاره پر ځان محکه او آسمان يو کړی وو، د زړه د کومي يې دا غوښتل چي په حکومت کي دغه اسلامي دستور نافذ کړي، مګر ابوجعفر هم دام ورته کښيښود، د دغه وړانديز پواسطه، نو په ظاهره خو دا ښه وه چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دغه وړانديز يو نعمت ګڼلی وای او قبول کړی يې وای، مګر د خپلي پوهي او زيرکتيا په سبب په دې پوه سوو، چي دا ستا د ژوند اخرنۍ ټوټکه او کوښښ دی. امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته دا ورمعلومه وه چي ابوجعفر منصور به مي په خپل واک راولي، نو بيا دوې لاري وې چي يا خو به مي د ځان سره په حکومت کي شريکوي او يا به مي د منځه وړي، منصور داسي ګڼلې وه چي دا خطرناک اغزی به د حکومت د لاري څخه ايسته کوم، د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) سره هم دوې لاري وې، يا به يې د ابوجعفر منصور خبره منلای، يا به يې خپله ټوله ګټه د لاسه ورکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) رحلت ددې فاني دنيا څخه

په کوفه کي د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) اخرنۍ تقرير او شاګردانو ته خصوصي هدايتونه: د همدې لار امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د کاميابي لاره جوړه سوه، د کوفې په مسجد جامع کي يې د خپلو زرو شاګردانو غونډي ته خصوصي هدايتونه او تقرير وکړی، چي دا يو خطاب دی، په دې وجه د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو څو هدايتونه درته ذکر کوم چي په دې ډول دي: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: زما د زړه د خوشحالولو دپاره تر ټولو ښه توښه ستاسي وجود دی، يعني چي تاسي ژوندي ياست تر هغه وخته پوري به ستاسي په وجود کي زما غم او پريشاني ليري کولو ضمانت پټ پورت وي، ما تاسو ته داسي ماحول جوړ کړی چي خلګ به ستاسي پاک قدمونه ښاري او تګ به پر کوي او ستاسو د هر يوه لفظ پلټنه به کوي. بيا يې هغه ځلويښت خاص شاګردان ځان ته راوبلل داسي يې ورته وفرمايل: اوس ددې وخت رارسيدلی دی چي تاسو زما مرسته وکړی، يعني زه تاسو ته دا ويل غواړم: چي تاسو ځلويښت سره هر يو د قضاء د سنبالولو ماده په ځان کي پيدا کړی، عام اولس خو په تاسو کي داسي دی چي هغوی قضاء نه بلکي د قضاء د تعليم او تربيت ورکولو لائق دي، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وويل: زما تمنا دا ده چي علم د چا تابع جوړول په کار نه دی، بلکي د قضاء اهل هغه څوک کيدای سي چي د هغه ظاهر او باطن دواړه يو وي، بيا نو د داسي قضاء تنخوا هم حلاله ده، د مسلمانانو باچاه يا آمير که چيري د رعيت سره غلطه رويه اختياروي، نو هغه باچاه ته چي نژدې کم قاضي وي دا پر هغه فرض ده چي باچاه به ددې کار څخه منع کوي.

د منصور دربار ته د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) بلنه: د زرو شاګردانو د لويي غونډي اهميت او د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د تقرير خبر چي منصور ته ورسيدی، نو ابوجعفر منصور يې دي ته اماده کړی، ابوجعفر منصور حکم وکړی: امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دي کوفې ته راوستل سي، دا خبره چي عيسی بن موسی ته ورسيدل، چي امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دي په سفرلي زما وخواته راوستل سي، نو هغه عملي جامه ورواغوستل، بيا چي کله امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د کوفې څخه بغداد ته راوبلل سوو، د منصور دربار ته پيش کړل سوو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته د قاضي القضات د عهدې وړانديز وسوو، امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ډير عذرونه بيان کړل، مګر په عذرونو هيڅ ونه سول، نو ابوجعفر منصور ته امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) وفرمايل: په ما کي د قضاء صلاحيت نسته، ابوجعفر وويل: بلکي ته پر قضاء باندي قادر يې، د دواړو په مينځ کي د سوال او جواب سلسله روانه وه، اخر ابوجعفر په قهر سو امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) ته يې وويل: ته درواغ وايي ته پر قضاء ښه قادر يې امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) يو ګړی چوپ سوو، وروسته يې ښه په دلاوري سره وويل: منصوره! ته ګوره تا د ځان خلاف فيصله په خپله وکړه، هغه دا چي ته داسي کس قاضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول غواړي کم چي هغه ستا په نزد درواغجن دی، عباسیانو چي دا جواب وراریدی، نو یې د منصور شکست ومنی او امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) سره یې نوره مینه هم پیدا سو. خطیب بغدادي لیکي: منصور قسم کړی وو چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) به دغه د قضاء کار خامخا کوي، مګر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) هم د آزادۍ په طرس کي قسم وکړی، ویې ویل: په الله (جل جلاله) دي مي قسم وي چي زه به دا کار هیڅ کله ونه کړم.

خلیفه منصور خپله غصه قابو نه کړه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته یې بد او رد ویل شروع کړه، او د چلاخو وهلو حکم یې هم وکړ چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) دي په چلاخو ووهل سي، علامه موفق د عبدالعزیز بن عصام په حواله دا خبره څرګنده کړې ده وایي: خلیفه منصور امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ښکنځل وکړه، جلاد یې راوغوښتی هغه ته یې د دیرشو (۳۰) چلاخو وهلو آمر وکړی، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) دباندي راوستل سوو، ما چي ورته وکتل امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) یوازي پای جامه اغوستې وه، پر ملا باندي یې د چلاخو تغمي معلومیدي او پر پوندو یې ویني څڅیدې، د دومري سختي سزا باوجود امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) هغه عهدې ته غاړه کښینښوول، نو خلیفه منصور بندیخاني ته د بیولو آمر وکړی، او ویې ویل: پر ده سختي راولی چي ډیر په عذاب سي. داود بن راشد وایي: په زولنو کي هم بند وو، د خوراک او څښاک تنګي یې هم پر راوستل، بعضو ویلي دي: چي په امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) یې زهر هم وڅیښل.

د وصال اخرنۍ سجده: د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) عمر دغه وخت (۷۰) کالو ته نژدې سوی وو، ژوند یې ټول په علمي خدمتونو کي تیر کړی، بل طرف ته منصور یوه یا دوې نه بلکي د دیرش چلاخو وهلو حکم هم کړی وو، د بندیخاني لوږو، تندو او سختیو د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) وجود خوړلی وو، اخر د ابوجعفر ظلمونو او جبر په دغه زړو هډوکو کي څه پریښوول، چي نور ژوند یې تیر کړی وای، پر امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د مرګ آثرات راڅرګند سول، دغه مرګ الله (جل جلاله) د خلاصون ذریعه ورته وګرځول، کله چي امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته مرګ راتلل یقیني سول، تندی یې په بارګاه ربوبیت کي پر مځکه ولګوی، سجدي ته ولاړی په همدې حالت کي یې د الله (جل جلاله) امانت ادا کړی روح یې د تن څخه ووتی. **(انا الله وانا اله راجعون)**

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د جنازې لمونځ: د هجرت (۱۵۰) یوسل پنځوسم کال وو، د شوقدر یعني کوچني اختر یا د رجب میاشت وه، چي دا خبر صرف ځینو خاصو کسانو ته رسیدلي وه، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) زوی حماد بغداد ته ورغلی وو، د دغه ښار قاضي حسن بن عماره چي کله امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته د غسل ورکولو حکم وکړ، کله چي یې د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څخه کالي وکښل د ده (رحمة الله علیه) پر بدن باندي د چلاخو تغمې وې، خلګو چي دا تغمې ولیدلي ټوله بې هوښه سول او قاضي صاحب چي خپله ده (رحمة الله علیه) ته غسل ورکوی ژړل یې، په ښار کي ددې غم هیڅ اعلان نه وو ورکړل سوی، ټول کار په پټه سرته ورسیدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنازه يې صرف څلور پنځو کسانو پورته کړه، مګر کله چې جنازه د خراسان دروازو ته ورنژدې سول، ټول خلک خبر سول، د سیلاب په شان خلک روا ووتل. ابو رجا الهروي وایي: ما دومره خلک په ژړا هیچیري نه وه لیدلي.

د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) پر قبر باندې د امام ابن مبارک (رحمة الله علیه) د اوښکو باران: تاریخ لیکوونکو په اتفاق سره دا لیکلي دي: اعظم محدث عبدالله بن مبارک (رحمة الله علیه) اوږده اوږده سفرونه کړي دي، په لکهونه پیسې یې مصروف کړي دي او د خپلې بختوري زمانې په محدیثینو پسې لیري لیري تللی دی، د هر یوه څخه یې د نبوت علوم حاصل کړي دي، مګر کله چې د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) مجلس ته راورسیدی، بیا نو تر آخیره پوري ددې ځای څخه نه دی تللی، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د شهادت څخه وروسته ابن مبارک (رحمة الله علیه) د هغه قبر ته ورغلی په سرو سترګو یې بې اختیاره ژړل او ویې فرمایل: ابراهیم نخعي او حماد (رحمة الله علیهم) چې د دنیا څخه رخصتیدل نو هر یوه خلیفه پرې ایښی وو، الله سبحانه وتعالی دې پر تا رحم وکړي ته چې ولاړې وروسته دې څوک خلیفه پرې نه ښووی، ددې مبارکې تذکرې په اخیر کې مونږ د ابن مبارک (رحمة الله علیه) د مداحانو په نامه دا تمام حجت په توګه د هغوی یو وصیت لیکل مناسب ګڼو، ابن مبارک (رحمة الله علیه) خپلو شاګردانو ته فرمایلي دي: آثار او حدیث زده کول پر ځان لازم کړی، مګر په معناو یې د ځان پوهولو دپاره د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) ته ضرورت دی، ځکه چې هغه داحادیثو په معناو ښه پوهیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

1: قرآن کريم او احاديث شريف.

2: کتاب اوجزالمسالک، مرتب حافظ مولانا محمد زکريا کاندهلوي (رحمة الله عليه).

3: د امام عظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) د ژوند لنډه پيژندنه، مرتب مولانا محمد زکريا کاندهلوي.

4: د امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) دفاع، مرتب عبدالقيوم حقاني.

5: د صحابه کرامو څخه وروسته د اسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنيفه (رحمة الله عليه) کتاب، مولف: قضاوتوال ابو عبدالرازق مولوي محمد فاضل (عتيق) چاپ کال: ۱۳۹۵هـ ش.

6: او داسي نور... مختلف ماخذونه لکه: مناقب ابي حنيفه ذهبي، صدرالائمه، طبقات الکبری، تذکرة الحفاظ، مقدمة اعلاالسنن، ايضاص، السنة ومکانتها في التشريع الاسلامي، حدائق ابوحنيفه، موفق، انتصار، کردري، خيرات الحسان، موفق کروري، تانيب الخطيب، الروض الباسم، اختصار علوم الحديث، الميزان الکبري، مناقب صدرالائمة، توضيح الافکار، الانتقاء لا بن عبدالبر، ذات الربات کردري، انتصار، تبيض الصحيفه، تذکرة الحفاظ او حدايق الحنفقه، مصنف عبدالرازق، صحيح المسلم، شرح المسلم النوي، عقود الجمان، معجم المصفين.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**